دالاتحاد عربي جريدې سره دالحاج حقاني مرکز

شاه ((اوريا)) وحدت يار
Ahmad Shah Vahdat Yaa

منبع الجهاد

جهادي،سياسي اوادبي مياشتنى خپرونه

دريم كال ،دوهمه اودريمه گڼه ، د ۱۳۷۰ هـ ش كال اسد - سنبله



(الحاج حقاني)

زموږ جنگ قومي او قبيلوي جنگ نه دی بلکه دخدای (ج) په لار کی جهاد دی



په اسلام کی دتصوف تطور

(۵ مخ)

بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي ارشاد

الله (ج) ددريو كسانو لمونځ نه قبلوي ۱- دهغه
سړي چې دقوم مشري په غاړه وي اوقوم له هغه
څخه خوشحاله ونه اوسي ۲- دهغه سړي چې جَمعی
لمانځه ته ناوخته راځي ۳- دهغه سړي چې يو ازاد
انسان غلام وګرځوي .

روايت:ابوداود

منبع الجهاد

جهادي ، سياسي اوادبي مياشتنۍ خپرونه

مؤسس: الحاج مولانا جلال الدين «حقاني»

دتأسيس كال: ۱۳۶۸هـ ش ، ۱۴۰۹هـ ق

دريم كال ، دوهمه اودريمه گڼه ، د ۱۳۷۰ هـ ش اسد- سنبله ، د ۱۴۱۱هـ ق محرم الحرام- صفرالمظفر

دهيئت تحرير ترنظر لاندې

مكاتباتي پته

پوست بكس نمبر (۱۰۳۳)

يونيورسټي ټاون - پيښور

دټيلفون نمبر : (۸۱۲۸۸۱)

بانكي پته

حبيب بانك ، دصدر رود څانگه

دحساب نمبر: ۲۰۵۵۹ پيښور- پاكستان

كمپوزر: احمد ضيأ «ذهين بابري»

په دې گڼه کې

عنوان	مخ
۱:- (سرمقاله)	(۲)
۲:- په اسلام كې دتصوف تطور ...	(۵)
۳:- نقش مسلمانان درتحولات ...	(۸)
٤:- كمونيزم يا دتكامل اوانساني ...	(۱۳)
۵:- اهداف شوم روسها در بخش قواي ...	(۱۵)
٦:- ښكلي كشمير دزماني په هنداره ...	(۱۸)
۷:- يك بحث جالب ازتاريخ تيوري ...	(۲۲)
۸:- شعراودجوړښت اساسي توكي يي	(۲٦)
۹:- دالاتحاد جريدې سره دالحاج حقاني مركه	(۲۹)
۱۰:- جهادي ادب	(٤۱)
۱۱:- وروستى فيصله (تكل)	(٤۳)
۱۲:- دافغانستان جهاد دكتاب په هنداره كې	(٤٤)
۱۳:- ولسي ادبيات	(٤۷)
۱٤:- دخوشحالي اتڼ (لنډ داستان)	(۵۱)
۱۵:- راغلي ليكونه	(۵۵)
۱٦:- حوادث داغ جهان	(۵۷)
۱۷:- ابدي ژوندي	(٦۲)

منبع الجهاد

بسم الله الرحمن الرحیم

جمعبندی رخداد های اخیر وپرابلم ما

دراندك زمان اخیر رخداد های گسترده ومهم درمنطقه وجهان رخداد داده است که میتواند برای جهاد ملت ما مفید باشد ویابه عباره دیگر به سود جهاد روان ما، ازان بهره برداری صورت گیرد اکثراین حوادث میتوانند بامساله افغانستان ارتباط جدی ومستقیم ویااثرات جدی داشته باشد .

حوادث ایکه بعد از کودتاي بدفرجام کمونستان در روسیه یکی بعد دیگر صورت می پذیرد خود میتواند اثرات زیاد بر مساله افغانستان داشته باشد یکی از اثرات مهم ان عبارت ازتضعیف نحوه ودرجه پشتیبانی نظامی واقتصادی دولت کنونی روس است که قبلا بعد از شکست نظامی شان درافغانستان برای ابقای رژیم مزدور خود درکابل این کمکها رابه پیمانه گسترده جاری نگهداشته بود ورژیم نیز توانست ازین امکانات بزرگ علیه مجاهدین استفاده نموده عمرخود را چند روز دیگر دراز سازد .

درتحولات اخر روسیه گروه ضد کمونستی به رهبری یلتسین رهبر جمهوری فدراتیف روسیه روز تا روز نیرومند ترمیشود وازطرف دیگر جمهوری های روسیه شوروی یکی بعد دیگری استقلال کامل خویش رااعلام می نمایند ، تاحال سه جمهوری بالتیك استقلال کامل خویش رابدست آورده اند که بشمول ایالات متحده امریکا بیش از ۳۸ کشور جهان انها را برسمیت

شناخته اند .همچنان سایر جمهوری های شوروی بشمول جمهوری های مسلمان نشین اسیای میانه نیز طالب استقلال کامل خویش میباشند این خود فشار فزاینده بر رهبری روسیه بوده وان کشور رابسوی تجزیه کامل می کشاند گرچه گرباچف ویارانش سخت سعی می نمایند تاباروی صحنه کشیدن طرحهای سیاسی واقتصادی این جمهوری ها را بفریبد ولی سیرحوادث نشان میدهد که امپراطوری ظلم ووحشت کمونیزم در روسیه فروریخته و تلاش برای تحکیم مجدد ان بمثابه گیراوردن باد درخریطه است .

دروارای جریانات سریع روسیه رژیم کابل ازکمبود وحتی قطع کمکهای روسیه سخت نگران است اکنون نیز قیم بشکل سرسام اورصعود نموده وازکنترول خارج شده است این امر درقدوم زمستان موجب پریشانی شدید شده است زیرا اهالی مناطق تحت تسلط رژیم خاطرات تلخ زمستان گذشته راکه بسیار پر مشقت بود هنوز بیاد دارند .

درمیان این حوادث رژیم کابل باخطر قطع یاکاهش کمکهای نظامی ومالی روبروست ، این عدم اعتماد موجب پریشاني زیاد اهالي درشهرهاخواهد شد، زیرارهبران رژیم ومردم میدانند که یلتسین کسی است که برای نخستین باراز کمك روسیه به رژیم کابل علنا انتقاد نموده وخواستار قطع این کمکها شد .

دومین کنفرانس سه جانبه مجاهدین ، ایران و پاکستان که اخیرا درتهران مرکز جمهوری اسلامی ایران پایان یافت تائید و تاکیدی بود بر موقف سیاسی مجاهدین، درین کنفرانس نماینده گان کشورهای اسلامی وهمسایه ماایران وپاکستان ضمن تاکید بر تعهدات اسلامی شان درقبال مساله افغانستان از موضع گیری سالم مجاهدین حمایت بعمل اوردند .

درین کنفرانس فیصله بعمل امد تاجهاد ادامه یافته وبا رژیم کابل هیچگاه تماس برقرار نگردد وکمونست ها نمیتوانند درتعین سرنوشت کشور مسلمان ماسهمی داشته باشند.

درین میان که شرایط وزمان دراثر حوادث گوناگون طوری تغیر یافته که مجاهدین افغان میتوانند ازان به نفع داعیه خویش بهره برداری سیاسی ونظامی فوق العاده نمایند بسیار بموقع وبجاست تانیروهای جهادي یکبار دیگر اتحاد وبرادری خویشرا تحکیم مجدد ومزید ببخشند.

ناممکن است باحوادث بزرك چون شکست دادن به دشمن ، استرداد استقلال ، تحکیم حاکمیت ملی وغیره به تنهایی عمل نمود . مردم ما اززمان دوریا ینطرف نتایج اتحاد واتفاق رادرمقابله با دشمنان خویش چون انگلیسها وروس ها بخوبی مشاهده وازمایش نموده اند اما ازانجایکه این اتحاد اکنون تضعیف یافته ازهمین جاست که درمحو رژیم کمونست کابل بحیث اخرین بقایای کمونیزم درجهان بادشواریهاي باورنکردني مواجه می باشیم .

به عنوان مثال صرف نظر ازکشورهای اروپای شرقی سه جمهوری بالتیك روسیه با قربانی دادن کمتر از صدنفر استقلال کامل خویش راازروسیه بدست اوردند درحالیکه تقریباً (۵۰) سال تمام بحیث جزرسمی خاك روسیه بودند ولی ما با ارائه یکنیم ملیون شهید دراخرین مرحله ازادی بامعمای عجیب (بی اتفاقی) دچار هستیم که متاسفانه نمیتوانیم این معما را حل کنیم .

تاحال درجهان مردم هیچ کشور به اندازه مردم افغانستان برای استرداد ازادی واستقلال خویش باین حد بهاي بزرگ نه پرداخته اند وپرداخت این قیمت هنوزهم باارائه شهدا وتحمل خسارات مالی ادامه دارد .

اکنون موقع مناسب ان است تا با ایجاد اتحاد وبرادری وتشکیل رهبری واحد بااستفاده از ضعف هاي روسیه در بخش نظامی یك هجوم تمام عیار علیه پایگاه ها و مواضع رژیم کابل براه انداخته انراساقط نمود اما در بخش سیاسی برعلاوه تنظیم فعالیت های سیاسی وتبلیغاتی کاری راهم بخاطر به پا ایستاد نمودن حکومت اینده اسلامی رویدست گرفت. چه رهبری یك دولت وبه کف گرفتن سرنوشت ملیونها انسان طالب پلان وسنجشهای دقیق وبهتر است ونمیتوان صرف با حرف ، حاکمیت رابر مردم تحکیم وزندگي پرصلح وصفارا به مردم به ارمغان آورد .

بناء بسیار مناسب وموقع نادراست تا مجاهدین ازوضع موجود که به اثر تغیرات درشوروی وفعالیت های سیاسی که درمنطقه بمیان امده به نفع جهاد کارگرفته هرچه زود تر پیروزی خویشرا بدست ارند درغیر ان این چانس بهتر نیز به مفت ازکف ماخواهد رفت .

قاضی
غلام محمد « مخلص »

په اسلام کې دتصوف تطور

دتصوف دکلمې تحقیق :

۱- تاریخ فلسفه الاسلام لطفی جمعه لیکلی دی چې تصوف یوه یونانی کلمه ده چې د(تیوصوفیا) څخه اخیستل شوی ده یعنی الهی حکمت .

۲- کتاب الهند چې دابوریحان البیرونی تصنیف دی لیکی چې تصوف په سین سره دی (تسوف) چې (تسوف اوسوف) په یونانی ژبه کې حکمت ته وایی .

۳- کشف المحجوب کتاب ابوالحسن علی هجویری دتصوف په باره کې دری تعریفونه کړی دی :

لومړی : تصوف دصوف څخه عبارت دی چې ورین لباس ته وایی .

دوهم :- صوفیان په تقوی کې دتل لپاره په اول صف کې وی .

دریم :- کوم خلك چې داصحاب صفه سره مینه او محبت لری اوخوښ یې وی

اوبعضو خلکو ویلی دي چی صوفی دقلب دصفایی ‌څخه عبارت دی .

٤- ابن تیمیه پخپل کتاب صوفیه کی ویلی دي چې دصوف یعنی ورین لباس نسبت صحیح دی چی یوه مغربی محقق همداخبره ټینګه کړلی ده

٥- ابن قیم الجوزی ویلی دي چې (صوفة) یوه قبیله ده چی قبل الاسلام یعنی چی دجاهلیت په زمانه کې دي قبیلی دخانه کعبی خدمت کاوه چې ددې قبیلی خلکو ته به صوفی ویل کیدل.

دتصوف تعریف :

۱- تصوف یو داسی مسلك دی چی تر نن ورځی پوری یو جامع تعریف نلری وجهه یې داده چې دایو ذاتی تجرباتی او وجدانی شی دی ، داخو ظاهره خبره ده پداسی حال کې چې دانسانانو رایی بلکل یوشی کیدای نه شی اودهر سړی وجدان فرق لری نو له همدی کبله یې تعریف ندی شوی.

۲- دتصوف مسلك دشروع نه تر اوسه پوری په هیڅ زمانه کې واحد اومستقل شکل نلری ، داسلام په شروع کې تصوف دتقوی په نوم او شکل موجود ؤ اوبیا یې

مختلف رنگونه پيدا كړل چې په مختلفو زمانو كې مختلفى مختلفى طريقى دتصوف لپاره وضع شوى دي.

لومړى طريقه : معروف كرخى رحمة الله عليه چې په ٢٠٠ هجرى سنه كې وفات شوى دى ليكى چې تصوف عبارت دى (حقايق په قبضه اوگرفت كى راوستل ، اوپه دقايقو خبرى كول دمخلوقاتو سره چې څه دى ددى نه نااميده كيدل) ديته تصوف وايى .

٢- ذوالنون مصرى رحمة الله عليه چې په سنه ٩٥ هجرى كې تيرشوى دى دى وايى چې صوفيان هغه دي چې په ټولو موجوداتو كې يې صرف اوياځى خداى تعالى خوش كړى وى .

٣- ابوالحسن نورى رحمة الله عليه چې په سنه ٢٩٥ هجرى كې وفات شوى دى دى وايى چې صوفيان دغيرالله نه تښتى نه دڅه شى مالكان وى أونه مملوكان وى .

٤- جنيد بغدادى رحمة الله عليه چې په سنه ٢٩٧ هجرى كې وفات شوى دى ليكى چې صوفى هغه دى چې زړه يې ددنيا نه متنفره وى اودالله تعالى داحكامو دمنلو والا جوړشى پداسى شان سره چې پدې كې يې تسليم دحضرت اسماعيل عليه الصلاة والسلام په شان اوانده يي دحضرت داود عليه الصلاة والسلام په شان فقر يې دحضرت عيسى عليه الصلاة والسلام ، شوق يې دحضرت موسى عليه الصلاة والسلام په شان وى اوصبر يې دحضرت ايوب عليه الصلاة والسلام په شان وى اواخلاق يې دحضرت محمد رسول الله صلى الله على وسلم په شان وى چې دغه پورتنى قول دجنيد بغدادى رحمة الله عليه تذكره الاولياء نقل كړيدى .

دتصوف اصل :

داسلامى تاريخ ددريمى صدى پورى دتصوف شكل په منظم ډول سره نه ؤ موجود مگر داسلام دين داغاز څخه داسلام په دور كې دغه تصوف دتقوى په نوم سره يادېده اودتقوى په شكل موجود ؤ چې هغى ته زهاد اواتقيا ويلى شى ، دټولو نه مخكى دغه دتصوف كار اوعمل داسلامى دين عالمانو په لاس كې اخستى دى لكه چې دځينو عالمانو نومونه دلته ذكر كوو چې دتصوف په برخه كې يې شهرت درلود اوصوفيان يادېدل .

١- خلدى چې په كال (٣٤٨) هجرى كى وفات شوى دى .

٢- ابونصر سراج چې په كال (٣٧٨) هجرى كى وفات شوى دى .

٣-ابوبكر القلابازى چې په كال (٣٨٠) هجرى كې وفات شوى دى .

٤-ابوريحان البيرونى چې په كال (٤٤٠) هجرى كې وفات شوى دى .

٥- القشيرى چې په كال (٤٦٥) هجرى كې وفات شوى دى .

٦- الشيخ على هجويرى چې په كال (٤٦٥) هجرى كې وفات شوى دى .

٧- امام غزالى چې په كال (٥٠٥) هجرى كې وفات شوى دى .

دغه مباركان پخپل عصر كې واقعى اوربښتينى صوفيان وو چې داسلامى نړۍ په تاريخ كې يو روښان اوځلانده شهرت لرى .

دتصوف تدريجى ارتقاء:

تصوف پنځه ادوار لرى

١- دنبى كريم صلى الله عليه وسلم اواصحابو كرامو مبارك دور :

٢- دتابعينو دور چې د(٣٤) هجرى څخه تر (١٥٠)

هجری کال پوری رسیږی پدغه دور کې اویس قرنی اوحسن بصری چې مشهور صوفیان دي پدغه نیکمرغه دور کې تیر شوی دي .

۳- دتبع تابعینو دور، چې دغه دور دکال (۱۵۰) هجری څخه نیولی تر (۳۵۰) هجری کال پوری رسیږی چې پدغه دورکې ابوهاشم صوفی چې په کال (۱۵۰) هجری کې وفات شوی دی دالومړی شخصیت دی چې دصوفی لقب یې کټلی دی چی دغه مبارك داهل صوفیه دتعلیم لپاره دشام په ښار کی یوه خانقا جوړه کړی وه .

٤- دمتاخرینو دور، چې دغه دور دکال (۳۵۰) هجری څخه شروع تر (۵۰۵) هجری پوری رسیږی ، چې پدغه دور کې خلدی ، ابونصر سراج ، ابوبکر القلابازی ، البیرونی ، القشیری ، الشیخ علی الهجویری ، محی الدین ، ابن عربی ، جلال الدین بلخی ، ثم رومی ، اونور متصوفین تیر شوی دي .

٥- ددینه وروسته په تصوف کې دانحطاط دوره شروع اوتصوف پخپل اصلی اوواقعی بڼه او حالت پاتی نه شو ځکه چې مختلف دودونه اورواجونه پکې شامل شول . په لسمه صدی هجری کال کې په ایران کې صفوی شاه اسماعیل چې په (۹۳۰) هجری کال کې وفات شوی دی اواثنا عشریه و څخه دی چی په تصوف کې ځینی خرافاتی عملونه داخل کړل .

اوهمدارنګه په مشرقی خلکو کې دغربی خلکو مذهب اوکلتور شایع شو چې پدی سلسله کې یو قول داسی هم راغلی دی اوویلی شوی دی چی تصوف داسلام په اولو څلورو دورو کې حال وو اواوس دانحطاط په دور کې بدحال شوی ، اول احتساب وو اوس اکتساب شو ، اول استتار وو اوس اشتهار شو مخکی لدینه دصدق ورو او زړونو عمارت وو اوس دغرور مرکز شو ،اول تکشف وو اوس تکلف شو ، اول تخلق وو اوس تملق شو ، اول قناعت وو اوس فجاعت شو ، اول دیانت وو اوس تجارت شو ، اول تقوی وه اوس ریا شوه اول اعتدال وو اوس ابتذار شو

دتصوف عناصر:

تصوف دری عناصر لری

۱- ایمان

۲- تقوی

۳- اعتدال

که چیرته په تصوف کې دغه دری ذکر شوی عناصر موجود نه وی نو هغه تصوف ندی اونه هغه شخص ته صوفی ویلی شو ځکه چی ایمان دتصوف لومړی شرط دی اوتقوی دقلوبو صفایی راولی اوپه تقوی کې داعتدال لار نیول دتصوف لپاره مهم رکن دی داسلام په دین کې افراط اوتفریط نشته دی حتی چې دپخوانی ادیانو غوندی پکی رهبانیت هم نشته دی چی یو سړی دی ددنیا هیڅ کسب او کارنکوی اوپه یو غار کې دې ناست وی او عبادت دی کوی بلکه داسلام دین امر کوی چې باید یو سړی دالله تعالی عبادت پخپلو شرایطو سره کوی اوهم دی دحلال کسب څخه رزق او روزی پیداکوی چی داروبه زموږ پخوانو صوفیانو غوره کړی وه .

داوسنی زمانی متصوفینوته دې الله تعالی دنیکی هدایت وکړی چې نوی هم دلومړنیو متصوفینو په شان دواقعی اوریښتینی تصوف لار ونیسی اوپیروی وکړی اودغه خرافاتی رواجونه دتصوف څخه لری شی واخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

نقش مسلمانان درتحولات تاریخی و سیاسی هند

بحثی ازیك بخش پربار تاریخ هندوستان

نویسنده : محمد عالم «ایزد یار»

هند يك كشور باستانی بوده وقبل از ورود اریایی ها به هند دوهزار سال قبل از میلاداز افغانستان نیز، دارای تمدن « دراویدی » بود كه اثار انزمان تاهنوز درهند باقیست.

هند درطول تاریخ مورد هجوم خارجی ها قرار گرفته واز جمله میتوان پنج قرن قبل از میلاد هجوم داریوش هخامنشی وچهار قرن قبل از میلاد هجوم اسکندر یونانی ، سپس هجوم یونانی های افغانستان واز قرن اول تاششم میلادی وبعدا دوره نفوذ دولت های کوشانی ویفتلی های افغانستان رانام برد .

هنگامیکه نور پردرخشش اسلام درطول سال های ۱۰۰۱ الی ۱۰۳۰ ذریعه مجاهدان افغان تحت قیادت سلطان محمود بت شکن به سرزمین هندوستان تابید، حکومت اسلامی پایه گذاری شده وطوایف مختلف هند دسته دسته به ائین نجات بخش اسلام گرویدند .

غزنوی ها مدت یکصدوپنجاه سال درهند حکومت نمود وصفحه جدیدی درتاریخ هند باز کردند ، پس ازان دولت غوری افغانستان وبه تعقیب ان دولت های غوری خلجلیه ، تغلقیه ، لودی سوری وغیره درهند حکومت کردند ، درین زمان درکنار دین اسلام تمدن وفرهنگ اسلامی نیز درسرزمین پهناور هند انتشار یافت درین وقت مناره قطب دهلی که ۲٤۰ فت ارتفاع دارد وارگ دهلی وده ها ابادی دیگر اعمار گردید.

ازقرن شانزدهم تاهژدهم میلادی دولت بابری جای حکومات افغانی راگرفت وازیك حکومت قوی مسلمانان حکومت متعدد وضعیف بمیان امد ، اتحاد ويك پارچه گی مسلمانان درعهد اولاده بابرازهم پاشید وزمینه نغوذ وتجاوز استعمار انگلیس فراهم گردید.

به این ترتیب هندوستان بزرگ درطول هشتصد سال حاکمیت مسلمانان به ترقیات مزید دست یافته ازجمله بزرگترین کشورهای مشرق زمین ، ازنظر زراعت، ابیاری ، صنعت ، تجارت فنون ظریفه،ادبیات ومعماری محسوب گردید .

حمله استعمار انگلیس به هندوستان :

درطول تاریخ،دولت انگلیس کمتر مجبورشده که بغرض دفاع ازمملکت خود دست به جنگ وشمشیرببرد ، زیرا موقعیت انگلستان به شکل يك جزیره، دست هردشمن را ازخانه خود بدور نگهداشته است .

هنگامیکه نور پردرخشش اسلام درطول سال های ۱۰۰۱ الی ۱۰۳۰ ذریعه مجاهدان افغان تحت قیادت سلطان محمود بت شکن به سرزمین هندوستان تابید حکومت اسلامی پایه گذاری شده وطوایف مختلف هند دسته دسته به ائین نجات بخش اسلام گرویدند

بنابرین اشتراك انگلیسها درجنگ های بین المللی وتجاوزات شان برحریم ممالك اسیایی ، افریقایی ، اروپایی وامریکایی نه ازجهت ضرورت ودفاع بلکه حرص ، جهانگیری وحصول فایده بوده است ، بناءً درراه بدست اوردن ثروت ودربند کشانیدن واستعمار ملل جهان ، ظلم ، تجاوز وفریب رامباح شمردند ، وازقرن هژدهم بدینسو دست به تجاوز واشغال ملل مختلف جهان زدند .

انگلیسها درسال ۱۶۰۰ میلادی کمپنی شرق الهند راتاسیس واجازه نامه تجارتی حاصل کرده ومرکز خود رادرایالت سورت (ساحل غربی هند) بنانهادند .

این کمپنی بنابر اهداف سیاسی استعماری ایکه داشت علاوه برتجارت وداد وستد درخلال سال های ۱٦۱٤ الی ۱٦٤۰ میلادی شهرهای مدراس ، هولگی ، کلکته وبمبیی رابه نیرنگ های مختلف خریداری وتصاحب نمود .

انحصارات تجارت کمپنی انگلیس درهند ۲۱۳ سال طول کشید ، هنگامیکه کمپنی خواست ازحالت تجارت به حالت جهانگیری انتقال نماید حکومت مرکزی مسلمانان که اداره واحد وقدرت مرکزی حکومت راتشکیل بدهد وجود نداشت بلکه به حکومات متعدد وضعیف تقسیم شده بود .

انگلیسها که تشتت وچند پارچگی حکومت مسلمانان رادرهند زیرنظر داشتند برای تسخیرکامل هند هیچگونه مانع وقید وبند نمی دیدند ولی درك میکردند که همه حکومات مسلمانان رادرهند نمتیوان یکمرتبه ازمیان برد ، بناءبابراه اندازی فورمول ننگین « تفرقه اندازوحکومت کن » حکومات وملیت های مختلف نیم قاره هند را به جان هم انداختند ، زیرا مصرف این روش به مراتب از مصرف استعمال شمشیر کمتربود وکیفیت ان بالاتر .

باتشدید جنگ ها واختلافات میان حکومات وملیت های مختلف هند ، انگلیسها عملا کمر اشغال کامل هند رابستند ، درطی جریان پیشروی وسلطه انگلیس درهند مردم اعم ازمسلمان وهنو دربرابر قوای متجاوز انگلیس جنگیدند ، اما هندوها و فیودالهای مقتدر هند جهت حفظ منافع خود با انگلیسها سازش نمودند ازجمله قیام های



ازاديخواهانه هند ميتوان قيامى رانام برد كه تحت قيادت اميرخان افغان ساليان دراز عليه انگليسها به شكل گريلايى جنگيد كه تعداد ان فقط درهند مركزى به شصت هزار نفرميرسيد .

انگليسها جهت سركوبى اين قيام درسال ۱۸۱۳ - ۱۸۲۳ قواى بزرگى رابه تعداد ۱۲۰ هزار نفر ازبمبيى ، مدراس وبنگال تجهيز وبرضد ازاديخواهان مسلمان سوق دادند تااينكه دراثر سازش فيودالهاى هند اين قيام خاموش گرديد ونيم قاره هند به حيث يكى ازمستعمرات انگليسها بنام هند برتانوى درامد .

انگليسها باپايگاه قرار دادن هند برتانوى سه بار باعساكر مجهز به كشور اسلامى افغانستان هجوم اوردند كه درهرنوبت ملت مجاهد افغان بادست هاى خالى واتكا به نصرت پروردگار ازحريم مقدس اسلام وسرزمين محبوب شان مردانه

دفاع نمودند ودرسال ۱۹۱۹ كشور اسلامى خود رامجددا ازلوث انگليسها پاك نمودند .

تشكيل جنبش ازادى هند :

بعد از اينكه دست انگليسها از افغانستان كوتاه شد ، مردم نيم قاره هند اعم از مسلمان وهند و باالهام قيام مقاومت مردم مسلمان افغانستان كه منجر به ازادى وطن شان گرديد دست به تاسيس جنبش ازادى هند زدند .

ابتدا رهبران مسلمانان وهندوها متحدا حزب كانگرس رابراى رهبرى جنبش ازادى هند تشكيل دادند ، شخصيت هاى مسلمان كه رهبرى جنبش ازادى هند رابه عهده داشتند عبارت بودند ازمحمد على جناح ، شوكت على ، سرسيد احمد خان ، نواب محسن ، سلطان محمد ، عبدالغفار خان ، علامه اقبال لاهورى وغيره •

ما بعد ازينكه گاندى درراس حزب كانگرس قرار گرفت ، بنابرسياست هاى جاه طلبانه وانحصارى ايكه داشت مسلمانان حزب كانگرس راترك ودست به تاسيس حزب

انگليسها درسال ۱۶۰۰ ميلادى كمپنى شرق الهند راتاسيس واجازه نامه تجارتى حاصل كرده ومركز خود رادرايالت سورت (ساحل غربى هند) بنانهادند .
اين كمپنى بنابر اهداف سياسى استعمارى ايكه داشت علاوه برتجارت وداد وستدد درخلال سال هاى ۱۶۱٤ الى ۱٦٤۰ ميلادى شهرهاى مدراس ، هولگى ، كلكته وبمبيى رابه نيرنگ هاى مختلف خريدارى وتصاحب نمودند.

ابتدا رهبران مسلمان وهندوها متحداً حزب کانگرس رابرای رهبری جنبش ازادی هند تشکیل دادند ، شخصیت های مسلمان که رهبری جنبش ازادی هند رابه عهده داشتند عبارت بودند:ازمحمد علی جناح ، شوکت علی ، سرسید احمد خان ، نواب محسن ، سلطان محمد ، عبدالغفار خان ، علامه اقبال لاهوری وغیره ، اما بعد ازینکه گاندی درراس حزب کانگرس قرار گرفت ، بنابرسیاست های جاه طلبانه وانحصاری ایکه داشت مسلمانان حزب کانگرس راترك ودست به تاسیس حزب جدیدی بنام مسلم لیگ زدند

جدیدی بنام مسلم لیگ زدند .

باتشکیل حزب مسلم لیگ اختلافات میان هندوها ومسلمانان بیشتر شد ، مسلمانان علاوه براینکه دربیرون راندن قوای متجاوز انگلیسها وازادی نیم قاره هند دوشادوش سایر ملیت هاي هند مبارزه میکردند ، درفکر ایجاد وطن مستقل وجداگانه برای مسلمانان نیم قاره هند گردیدند .

محمد علی جناح که در انزمان رهبری مسلم لیگ رابه عهده داشت ، طی اجتماع بزرگی درسال ۱۹٤۰ م درلاهور قطع نامه رامبنی برتشکیل کشور مستقل مسلمانان بنام پاکستان قرائت کرد که ازطرف حضار مجلس تائید گردید سرانجام بعد از مبارزات ومجاهدات طولانی مردم هند علیه سلطه انگلیس،درسال ۱۹٤۷ انگلیسها ازادی نیم قاره هند وتقسیم انرابه دوکشور هندوپاکستان برسمیت شناختند .

تقسیم هند وتشکیل کشور اسلامی پاکستان طوری بود که « پاکستان امروزی ، بنگله دیش وایالت جموکشمیر تحت اشغال هند وکشمیر ازاد » جزوقلمروکشور جدید التاسیس پاکستان باشند و مسلمانان وهندوها یکه دراقلیت اند ودرقلمرو یکدیگرزندگی می نمایند ازتمام امتیازات وحقوق مذهبی ، سیاسی واجتماعی برخوردار باشند اما متاسفانه حکومت هند بازیر پاگذاشتن همه تعهدات وقرارات مذکور ، ایالت جامووکشمیر راكه باید ضم خاك کشور اسلامی پاکستان می بود ، اشغال نمود ، ومسلمانانیراکه درهندوستان زندگی میکردند مورد ظلم وتعدی قرار داد ، هندوهای متعصب وافراطی به تحریك حکومت از اغاز ازادی هند تاکنون صد ها تن ازجمله اطفال زنان وپیرمردان مسلمان رابه قتل رسانیدند ، حتی جواهر لال نهرو زمامدار حکومت وقت هند به صراحت اعلان کرد که « مسلمانان حق زندگی رادرهند ندارند باید ازکشور اخراج گردند ویا در اجتماع هندی منحل شوند » هندوهای متعصب بارها اماکن مقدسه مسلمانان رامورد تجاوز وبی حرمتی قرار داده ازجمله تجاوزهندوهای افراطی رابه مسجد بابری میتوان نام برد که بارها تکرار شده است وسلسله ظلم وبی عدالتی علیه مسلمانان هند وتجاوز واشغال سرزمین اسلامی جامو وکشمیر هنوز ادامه دارد .

جمعیت مسلمانان هند :

به اساس اخرین سرشماری انجام شده توسط اداره امارمرکزی دولت مرکزی هند جمعیت مسلمانان این کشور درسال ۱۹۹۱ حدود ۹٥ ملیون نفر اعلان شده است براساس امار مذکور نسبت جمعیت مسلمانان هند نسبت به کل جمعیت ۸٤۳ ملیون نفری هند حدود ۱۱.۲ درصد است .

مسلمانان هند معتقداند که دولت درمورد انعکاس دقیق وصحیح جمعیت انان بسیار غیر واقعی

برخورد می کند ودرهمین رابطه بسیاری از مسلمانان درشمارش سرشماری گرفته نمیشوند.انتقاد گران باین باورکه جمعیت واقعی مسلمانان هند درحدود ۱۵۰ ملیون نفرمی باشد که بااین رقم نسبت انها به کل جمعیت تقریبا ۱۷.۸ درصد میشود.

مسلمانان به طور پراگنده درتمام ایالات هند سکونت دارند اما تعداد شان درکل جمعیت ودرنقاط مختلف تفاوت می کند ، درمناطق ذیل جمعیت مسلمانان نسبت به سایر ایالات زیاد است .

۱- جمو وکشمیر درشمال هند که ۷۵ تا ۸۰ درصد نفوس انرا مسلمانان تشکیل میدهند .

۲- اوتارپرادیش درشمال شرق که ۱.۴۳ درصد ان مسلمان است .

۳- شمال شرق بنگال وشمال شرق بیهار با ٤۲ درصد مسلمان

٤-اوتارپرادیش مرکزی ۲۷ درصد ان مسلمان

٥- اسام شرقی ۳۵.۹ درصد مسلمان

٦- اسام مرکزی ۳۹.۹ درصد

۷- حیدراباد ٥.٢٦ درصد

۸- کرالای مرکزی که ٤٦.٦ درصد نفوس ان مسلمان است

حدود ۷۲ درصد ازجمعیت مسلمانان هند روستانشین اند ،

ازینرو زراعت مهمترین فعالیت اقتصادی انها به شمار می رود و ۲۸ درصد دیگر انها راشهر نشینان تشکیل میدهند که مشغولیت بیشترشان هنرهای دستی وتجارت می باشد .

زبان رسمی مسلمانان هند که اکثریت مطلق به ان تکلم می نمایند اردو است و درپهلوی ان به زبانهای عربی ودری نیز اشنایی دارند .

اززمان استقلال نیم قاره هند وتقسیم ان به دوکشور هند وپاکستان جامعه مسلمان هند باشیوه منظم وحساب شده ازبخش عمومی رانده شده است ، حضور مسلمانان دروزارتخانه های دولتی وسطوح اداری چه حکومت فدرال وچه حکومات محلی بسیار ناچیز

> به اساس اخرین سرشماری انجام شده توسط اداره امارمرکزی دولت مرکزی هند جمعیت مسلمانان این کشور درسال ۱۹۹۱ حدود ۹۵ ملیون نفر اعلان شده است براساس امار مذکور نسبت جمعیت مسلمانان هند نسبت به کل جمعیت ۸٤۳ ملیون نفری هند حدود ۱۱.۲ درصد است .

است ، دربهترین حالت رقم مسلمانان در مقامهای متوسط وبالایی نظام اداری کشور ۲درصداست وغالباً هم حتی حضور نمیداشته باشند . گرچه به شکل استثنایی برخی ازافراد مسلمان مقامهای مانند ریاست جمهوری ، وزارت عدلیه ، وزارت داخله ، ریاست نیروی هوایی وغیره رامتصرف شده اند اما اینهانمی توانند مانع بیان این حقیقت شود که توده مسلمان درکلیه جوانب حیات عمومی مورد تبعیض وبی عدالتی قرار می گیرند .

قریب ۹۰ درصد مسلمانان هند سنی وپیرومذهب حنفی هستند و ۱۰درصد دیگرراهل تشیع که اکثر شان جعفری اند تشکیل میدهند . میان مسلمانان سنی وشیعه هند روابط ،برادرانه و اسلامی برقرار بوده ومسلمانان جامعه واحدی را تشکیل میدهند واین واقعیت که به این وان مکتب تعلق دارند مانع پیوند ودوستی وازدواج میان انها نمیگردد.

سنی ها از لحاظ مذهبی به دوفرقه دیوبندی وباریلی تقسیم شده اند ، دیوبند وباریل نام دومحل در دومنطقه تمرکز مسلمانان شمال شرقی اوتارپرا دیش ومقر دوپوهنتون مشهور اسلامی است .

ادامه دارد ...

څلورمه برخه :

عبدالوکیل

کمونیزم یا د تقابل او انحطاط [illegible]

دکمونیزم په اقتصادي جوړښت باندې انتقادي نظر

په کمونستي دولتونو کې یو شمیر اقتصادي تغیرات :

دکمونیزم اقتصادي سیستم له ظهور څخه ترنن پورې دړول ډول خنډونو اوپرابلمونو سره مخامخ شوی اودانکشاف اوترقی پروسه یې دغیر کمونستي هیوادونو خصوصاً دپرمختللو پانګوالو هیوادونو په پرتله ددریدو حالت ته ورننوتې شوي ده . دیوې خواکه چیرې دکمونستي دولتونو قدرتمندان یا کمونستان په دغه غیر موثر اقتصادي سیستم کې بنیادي اواساسي تغیرات رامنځ ته کوي اوپه غیر کمونستي سیستم چې په هغه کې دخصوصي مالکیت پراخه آزادي وجود لري اړوي نو ددوی (کمونستانو) دقدرت اوبادارۍ دله منځه تللو باعث کیږي په دې اساس داکاردځیلو شخصي ګټو سره په تضادکې ارزیابي کوي نو څکه دې کار ته اقدام نه کوي .

دبلې خوا دهغه پخواني کمونستي اقتصادي سیستم ساتل دکمونستي اقتصاد مشکلات او پرابلمونه دیوې ورځې څخه بلې ته لانور هم زیات اوچټک کړیدي .

نو کمونستانو په دې وروستیو وختو کې دځېلو اقتصادي ستونزو دله منځه وړلو پخاطر دکمونستي اقتصادي سیستم په چوکاټ کې دننه په اصطلاح اقتصادي اصلاحاتو ته اقدام وکړدغو اقتصادي اصلاحاتو په روس کې دپروسترویکا (بیارغونه) په نوم شهرت پیداکړی چې نه یوازې داچې دکمونستي اقتصاد نه جوړیدونکي پرهارونه یې جوړ نکړل بلکه هغه یې لانور هم وشړول اودکمونیزم په اقتصادي ، سیاسي اوایډیالوژیکي هلاك کوونکي توپان کې راګیر شوو لارویانو څخه یې لانوره هم دخلاصون اونجات لار ورکه کړه .

په دې وروستیو وختوکې دیو شمیر کمونستي دولتونو په اقتصادي تګ لارو کې داقتصادي تغیراتو اوازې ګرمې شوې اوربښتیا هم چې یو شمیر سطحي اوغیر بنیادي تغیراتو ته یې دکمونستي اقتصاد په چوکاټ کې اقدام وکړاودیو شمیر خوشباوره غیر کمونستي سیاستمدارانو له خوا دتوجه وړ وګرځیدل تردې چې داپروسه یې دکمونستي اقتصادي سیستم دړنګیدو دپیل په مثابه ارزیابي کړه خو په واقعیت کې نه کمونستان هغه هدف ته ورسیدل (ګړندی اقتصادي پرمختګ) چې تعین کړی یې وُ اونه دیو شمیر غیر کمونستي سیاستمدارانو دپروسترویکا له لارې دکمونیزم ړنګیدلواواستعماري خصلت دله منځه تللو خوبونه ربښتیا شول .

څه موده مخکې دروس اودروی ترتسلط لاندې ختیځې اروپا هیوادونو ، چین اوداسې نورو کمونستي دولتونو له خوا دکمونستي اقتصادي سیستم په یو

شمیر اړخونو کې سطحې تغیراتو ته اقدام وشو ، دبیلګې په توګه په روس کې یو شمیر رستورانونو (داشخاصو په واسطه سره ددولت خخه دیو شمیر رستورانونو په اجاره نیول) ، موچیانو ، سلمانیانو اودې ته ورته شخصي کارونو ته اجازه ورکړل شوه خو څرنګه چې دموچي څرمن ، رنګ ، ربړاو دکلوشو اوبوټونو جوړولو نور ضروري مواد له دولت څخه په هغه قیمت رانیسي کوم چې ددولت له خوا ورته تعین شوی وي اویا درستورانچي لپاره دضرورت وړ یخلي موادو قیمت ددولت په انحصار کې دی په دې معنیٰ چې ددوی (شخصي کسبګرو) دوې پښې اویو لاس یې ورتړلي اویوازې یو لاس یې آزاد دی نو ځکه خو دآزاد اقتصادي بازار په تناسب یې داقتصادي پرمختګ اودتولیدوونکو دتولیدي فعالیت په موثریت اوګړندیتوب کې منفي اثرات شندي.

همدارنګه که فرض یې کړو چې یوشمیر شخصي یاخصوصي فابریکو اوتولیدي مؤسسو ته هم دفعالیت اجازه ورکړل شي په دې صورت کې هم څرنګه چې دولت دیوه قویترین انحصار ګر په توګه موجود اوعمل کوي نو ځکه ددې ړول پانګه لرونکو دپانګې انکشاف اوپرمختګ امکانات له منځه وړي اوپه مجموع کې دټولنې داقتصادي بنسټ په پیاوړتیا کې په زړه پورې رول نه شي لوبولی خو که چیرې کورنۍ اوبهرنۍ سوداګرې دآزاد بازار پر بنیادونو صورت ونیسي

لویو اوکوچنیو تولیدي موسسو ته دخصوصي اوآزاد فعالیت اجازه ورکړل شي اوددې سره یو ځای کر- نه اودکرنې ځمکې اومالداري اوپه مجموع کې دهیواد اکثریت پانګه دآزاد بازار په اصولو بناشي نو په دې صورت کې په رښتیاچې کیدای شي نورمال اوګړندی اقتصادي پرمختګ پیل شي خوڅرنګه چې سیاسي قدرت داقتصادي قدرت تر نفوذ اواثر لاندې راځي نو په هغه صورت کې به نه کمونستان دقدرت په ګدی ناست پاتې شي اونه دکمونیزم بنسټونه نوله کمونستانو څخه ددې کار توقع اوهیله یو تیروتونکی اوساده لوحانه عمل دی په همدې ړول باندینی پانګه اچونه هم درواخله او په کمونستي هیوادونو کې دپانګوالو هیوادونو په څیر ګړندی اقتصادي وده نشي کولی ځکه چې په لوړ قیمت سره دخامو موادو پیرودل (دخامو موادو دقیمت ټاکنه په کمونستي دولت پورې اړه لري) دکمونست دولت له خوا پر پخو موادو باندې دلوړ محصول یامالیې ایښودل ، ترانسپورت ، مغازو (ودانیو) اوداسې نورو ساحو کې ددولت انحصار دبهرنی پانګې دانکشاف په مقابل کې خنډونه جوړوي په نتیجه کې دغه په فضاٌ کې طرحه شوي اودولسونو اونړیوالو دغولونې پلانونه به ددوی داقتصادي پرمختګ سبب نشي بلکې هغه به لانور ګډوډ اومتزلزل کړي.په دې ترتیب سره دکمونیزم اقتصادي جوړښت اوتګ لارې نظریه دبشري

ټولنې دترقی اوانساني فطرت ضد ایډیا چې دولسونو اوملتونو دښکیلاک اوزبیښاك خطرناکه وسیله ده اوکمونستانو دنړۍ په مختلفو برخو کې دسیاسي قدرت دغصب اوپر هغه باندې دقبضې کولو په منظور دبې شمیره انسانانو وینې تویې کړې اودټولنې مادي او معنوي ارزښتونه یې له منځه وړي همدارنګه دهغه دساتلو لپاره لکه څنګه چې په عمل کې هم لیدل کیږي اوجریان لري په دوامدار ړول سره دبې ګناه خلکو دوینو تویولو ، تهدید ، جبراو دغیر انساني لارو چارو څخه کار اخلي . کمونستان هغه مقام طلبه ، پست فطرته ، زرنګ او مرتجع امرته ورته دي چې خپل ټول امکانات ، هڅې اوتلاشونه ، منډې رامنډې ، حیلې اونیرنګونه ، سازش اوپه انساني ابرو او عزت باندې لوبې اوتجارت کول یوازې اویوازې دخپل آمریت دساتلو اودهغه دچوکۍ دلالوړیدلو په منظورسرته رسوي . نو روسي کمونستان هم دخپل قدرت دساتنې اوپر نورو باندې دحاکمیت لرلو لپاره ټول امکانات اوهڅې پکاراچوي ترڅو دړله ایزې وژ نې وسلې جوړې کړي او یوازې په همدې یعنې دبشریت اوژوند ضد تولید په اړوند یې دغیر کمونستي ملتونواو ولسونو سیالۍ ته متې رانغښتې دي اوپه همدغو په کمونیزم کې جوړو شویو وسلو په واسطه یې زموږ جنت نشان وطن (افغانستان) په خړواوچوپو کنډوالو بدل کړ اودشپاړس ملکو څخه زیات مسلمانان یې په شهادت ورسول.

اهداف شوم روسها دربخش قوای هوایی کشور

نوشته : عبدالواسع سابق پیلوت
درقواي هوايي

روسها باداشتن اهداف سیاسی ، اقتصادی و نظامی ازسالهابدینطرف درامور داخلی کشور مامداخله نموده ثروت ملی مارابه عناوین مختلف به غارت میبرند . تمام قرارداد هایکه دربخش های مختلف اقتصادی سیاسی ونظامی میان افغانستان و روسیه به امضاءرسیده است استوار به نواصل ذیل میباشد.

۱:- اهداف غارتگرانه اقتصادی دورس روسها درافغانستان .

۲:- اهداف تجاوزگرانه سیاسی نظامی جاري درافغانستان

از جمله ده ها قرارداد ی که برمبنای وابستگی افغانستان به روسها به امضاء رسیده است یکی ازآن قراردادهادربخش قوای هوایی میباشد که هیچگا ه به نفع کشور فقیر افغانستان نبوده ونیست چنانچه درموادات این قرارداد دررابطه به تربیه پرسونل فنی امده است .

۱- دولت شوروی شرایط تحصیل محصلان افغانی را در رشته پیلوتی و تخنیك هوایی فراهم میکند

۲- دولت افغانستان تمام مصارف تحصیل محصلان خویش را به حساب دالربه شوروی میپردازد .

۳- دولت افغانستان تمام طیارات وسایط هوایی ماشین آلات وپرزه جات مورد ضرورت قوایی هوایی خویش را درمقابل پول نقد - قرضه ویا تبادله مواد ازکشورشوروی خریداری میکند.

مواد این قرارداد که درزمان محمد ظاهر به امضاء رسیده تاکنون معتبر شمرده میشود روسها درمرحله اول بااستفاده از قرارداد تحمیلی یك تعداد طیارات وهلیکوپتر های کهنه وفرسوده خویش را که از فعالیت موثر افتیده وریسورس آن پوره شده بود ودرهیچ یك کشور دنیا اجازه پرواز رانداشت به قیمت بسیارگزاف بالای کشور مابفروش رسانیدند وازتمام این طیارات درطول جنگ جهانی دوم استفاده شده بود،که از جمله میتوان طیارات میگ ۱۵ - میگ ۱۷ - ال ۲۸وهلیکوپترهای می - ۸ - روسی را نام برد روسها این طیارات وهلیکوپتر ها را مجدداً به فابریکه های خویش برده دوباره ترمیم رنگ و روغن کرده و بالای کشور مابفروش رسانیدند که از این مدرك مبلغ هنگفتی بدست آوردند . چون درکشورمافابریکه موجود نبودکه بتواند پرزه جات طیارات وهلیکوپترها راتولید کند ویادرآن پرزه جات ترمیم شود و روسها نیز حاضر به دادن چنین فابریکه ودستگاه نبودند که

بااستفاده از آن افغانستان بتواند طیارات و هلیکوپتر های خویش را ترمیم کند روسها که از این مدرك عاید خوب بدست میاوردند حاضر نبودند فابریکه رابه افغانستان بدهند،که این یکی از اشکال استثمار روسی به حساب میاید.
تمام طیارات وهلیکوپتر های راکه افغانستان خریداری نموده است ناگزیر است بعد از هر شش ماه برای ترمیم اساسی وتبدیلی پرزه جات به شوروی بفرستد وپول زیادی راکه" درمقابل ترمیم وخریدپرزه جات بروسها تحویل داده میشود کشورمامیتوانست باآن طیارات جدید مودرن خریداری ویابه همکاری صنعتی یکی از کشورها فابریکه اعمارنماید که پرزه جات ووسایط مورد ضرورت مارا فراهم نماید.چون کشور ما آهن فراوان دارد واز آن تاکنون به نفع اقتصاد کشور مااستفاده صورت نگرفته است . و روسها علاقه نشان ندادند که درافغانستان چنین فابریکه اعمار گردد. پس به صراحت گفته میتوانم که تمام قراردادهای امضاشده باروسها به نفع مردم ما وبه نفع کشور مانبوده بلکی بیانگراهداف شوم اقتصادی روسها درافغانستان است که روسهای استثمارگرهمه هستی مادی کشور مارا به غارت برده اند
روسها یك تعداد طیارات سو ۷ – سو ۲۲وهلیکوپترهای می ۲٤ ومی ۲٥ خویش را درسال های ٤ ۱۳٥ الی ۸ ۱۳٥ بالای افغانستان بفروش رسانیدند که این طیارات نیز مانند طیارات قبلی بدرد منافع نظامی کشور مانمی خورد چون مساحت این طیارات زیاد است ومصرف مواد سوخت آن به حدی زیاد است که باهیچ یك طیارات امروزی مقایسه نمیشودوبه دلیل زیادی مصرف مواد سوخت از این طیارات درروسیه نیز استفاده نمیشود چون بعد پروازآن نیزکم است وقدرت حمل ونقل آن کم میباشد وکشور ماکه ازجمله عقب مانده ترین وفقیر ترین کشور های جهان است چطور میتواند این طیارات را مورد استفاده قراد دهد پس باید پرسید که روی کدام ضرورت وکدام منطق بود که افغانها انراخریدند بلکه روسها افغانهارا بافشارناگزیربه خرید چنین طیارات می نمودند.

اهداف سیاسی و نظامی روسها درافغانستان :

محصلان افغانی که برای فرا گیری تحصیلات عالی ومسلکی به شوروی اعزام میگردیدند نه چنان رهنمایی می شدند که بتوانند فردا به وطن و مردم خود مصدر خدمت گردند بلکی درپرتو اهداف شوم روسها چنان تربیت می شدندکه مسوولیت خود را بحیث یك فرزند وطن درك نمی توانستند . روسها بنابر داشتن اهداف سیاسی ونظامی خویش عوض اینکه برای انها دروس علمی مسلکی بیاموزند بالای انها پلان های شوم سیاسی خویش را عملی ساختند وبرای این محصلان توسط دختر های خوش صورت وزیبا لسان روسی تدریس میکردند که درجریان چند هفته آنها به دستور استادان شان به محافل شراب نوشی رقص واعمال غیر اخلاقی راه میافتند چون این چیز ها جز کلتور روسهاست وباید در قدم اول آنها شراب نوشی فحاشی ودروس غیر اسلامی بیاموزند وبعد از آن بگونه های مختلف در سازمان های بدنام K. G. B شامل و به سازمان وطنفروش ، کمونستی ، خلق وپرچم جذب می شدند وتلاش صورت میگرفت تادروس وطن فروشی وغیر اسلامی بیاموزند ومعلومات درباره سوسیالیزم وکمونیزم حاصل کنند به همین ترتیب وقتی این محصلان باسندهای فراغت شان از روسیه به کشور برمیگشتند و دریك محل توظف میگردید ند بدون مشاور

روسی کار کرده نمیتوانستند چون
از روسیه شوروی بدون کلتور روس
ودروس غیر اسلامی باخود چیزی
نیاورده بودند وروسها که بنام
مشاور به کشور ما میامدند در
واقعیت اهداف شوم وخاینانه
سیاسی ونظامی شان رادنبال
میکردند که قبل از کودتای ننگین
ثور درکشور مانیز چنین مشاورانی
موجودبودند که دربخش های
مختلف فعالیت میکردند.باگذشت
زمان تعداد این مشاوران زیاد شده
میرفت وبابمیان امدن فاجعه هفت
ثور ۷ ۱۳۵ تعداد این مشاوران
چندین چند شد . درسال اول آمدن
قوای متجاوز روسی به افغانستان
این مشاوران درتمام بخش ها
صلاحیت یافته ، تمام ا وامر
ونواهی بدست انها قرارگرفت
افرادی راکه طرف علاقه شان
نبودند تبدیل ونوکران گوش بفرمان
رابه قدرت اوردند که این افراد
گماشته شده درتمام امور چه خورد
چه بزرگ از باداران روسی شان
اجازه عمل میگرفتند وبرای
بمباردمان وویرانی خانه وکاشانه
هموطنان مظلوم ما توسط نوکران
روسی و روسی ها نقشه طرح می
کردند و هر انچه روس ها فرمان
میدادند نوکران شان انرا عملی
میکردند .اما بودند صاحب
منصبان وپیلوتانی مسلمان که به
شکلی از اشکال یا به این فرمان
روسها توجه نمی کردند ویاروی ان
عمل نمی کردند ، اما انها نمی
توانستند بصورت علنی به مقاومت
برخیزند بلکه عقده ضد کمونستی
خود را باگوش ندادن اوامر و
خلاف رفتاری از ان اوامر تبارز
میدادند . وافراد حزبی خود
فروخته باخدمت ناجوانمردانه به
روسها خود را نزدیکتر می
ساختند .
درقوایی هوایی کشور باوجود
سخت گیری های شدید روسها،
افراد مسلمان موجود بودند و انها
فعالیت های معین را بخاطری
افشای اهداف اشغالگراند روس
درمیان مردم براه می انداختند .
روسها از موجودیت چنین افراد
مسلمان درقوایی هوایی
بسیارهراس داشتند زیراانها
سخت تلاش میکردند تااسرار
نظامی بحیث یگانه وسیله
برتربرمجاهدین افشا نکردد .
اماافراد مسلمان ووطندوست
باقبول تمام خطر وباوجود تملم
دقت ها ، موفق شدند ضربات
شدید وکوبنده را در قند هار، شین
دند ، میدان هوایی مزار شریف
ویگرام باانفجار دادن طیارات
وسبوتاژ سیستم امنیتی روسها و
رژیم دست نشانده واردنمایند .
ان تعداد از صاحب منصبانی که
درروسیه تحصیل کرده بودند بعد
از لشکر کشی روسها برکشور
عزیز ما باین واقعیت متیقین شدند
که هدف تمام کارروایی روسها
هماناشغال کشورما بوده است بناً
انها نیزا گاهانه علیه روسها و
نوکران روسها به قیام پرداختند ،
روسها در طول دوران تحصیل و
کار عملی هیچگا ه حاضر نبودند
پرسونل ومحصلین افغانی بارموز
تخنیکی و علمی پرزه جات اشنایی
حاصل نمایند بلکه همیشه تلاش
شان این بوده است ، تا همه
اسرار را از افغانها پوشیده
نگهدارند تا افغان ها همیشه
محتاج انها باشندنیات شوم
روسها مانند تمام ساحات تحت
تسلط انها در اقتصاد سیاست
ونظام کشور،در بخش قوایی هوایی
نیز متبارز بوده و هیچکس و هیچ
انسان دارای عقل سلیم نمیتواند از
جنایات واعمال خیانت امیز روسها
به اقتصاد و منافع ملی افغانستان
انکارنماید .
لذاتربیه کادر علمی نیز حلقه از
زنجیر وابستگی به روس است که
روسها بدورکشورماحلقه کرده
بودند.

ښکلی کشمیر د زمانی په هنداره کې:

ترجمه وترتیب :
محمد سرور «صدیقمل »

جغرافیوی موقعیت : —

کشمیردمنځنۍ اسیا په زړه کې ، دهند او پاکستان په شمالی برخه کې پروت دی چی خلك یی د«جنت » په نوم یادوی چی ټول مساحت یې شپږاتیا زرة مربع میله ده دنویو او تازه شمیرنو په رڼاکی ددی سیمی نفوس یوکروړ او شل لکوته رسیږی ، ترشا او خوایی څلو ر هیوادونه ، چین ، پاکستان ، افغانستان او هند موقعیت لری ، واخان چې دافغانستان شمالی برخه تشکیلوی . دکشمیر ، او روس پولی سره جلاکړیدی . د کشمیر زیاتره سرحدی پولی دپاکستان پولو سره ګډی شوی او ټول شویدی دکشمیر په زړه کی ان تردی چی په لیدویې پاچا هان هم بی اختیاره او بی واکه کیږی ، شاعرانو ادب پوهانو خپل شعرونه ، او لیکنی دکشمیر ددی سیمی په ستاینه نوری جاذبی کړی او رنګینی کړیدی نړۍ په ۱۶۰آزادواو خپلواکو هیوادونو ویشل شوی ده که چیری ددې سیمی دابادی او دنفوسو دشمیر اندازه او همداراز دمساحت په اعتباردنورو هیوادونو سره مقایسه کړو نوراته څرګنده به شی چې دکشمیر ابادی دنړۍ دنورو (۹۰) هیوادوڅخه زیاته او دنفوسو شمیریې دنړۍ دنورو ٦٨ هیوادونو څخه زیات دی د مثال په توګه دبلجیم ، هالینډ ، لکسمبورګ دټو لو ابادیو څخه دری چنده زیاته ابادی لری .

دکشمیر ویشنه : —

اوس دکشمیر سیمه په دووبرخو ویشل شوی ده ددواړو برخو ترمنځه دپاکستانی او هندی پوځونو ترمنځه دجنګ بندۍ یو ه کرښه تیره شوی ده یوه برخه یې دهند سره او بله برخه یې دپاکستان سره ده هغه برخه چې دهند سره ده کومی ته چې نیول شوی کشمیر هم ویل کیږی دکشمیر ټولی ابادی ٦٣ فیصده ابادی تشکیلوی او همدغه برخه ده چی ددنیا دټولو سیمو څخه زیاته ښائسته ده ددې برخی ټوله ابادی ۷۰ لکو ته رسیږی ، اماکومه برخه چې دپاکستان په واك کې ده کومی ته چې ازاد کشمیر ویل کیږی ټوله ابادی شل لکه او پنځوس زره ده فعلاً یوملیون او پنځوس زره کشمیری مهاجرین په پاکستان کې دیرش لکوته نږدی په بریتانیا او دیولکو په شاه وخواکی دنړۍ په نورو هیوادونو کې دهجرت ژوند تیروی .

دتاریخ په هنداره کې :—

کشمیر دډیرو پخوانیو وختونو راهیسی دیوه ازاد او خپلواکه سیمی په توګه ددنیا په نقشه کې پاتی شویدی دکشمیرږومبی مسلمان واکمن یوتبی شاهزاده (دنچن شاه) وو کوم چی اسلام یې دسید بلبل شاه په لاس قبول کړی ؤ خپل نوی نوم یی سید عبدالرحمان دځان لپاره غوره کړی ؤ . تاریخی څیړنو داثابته کړیده چی دی سیمی ته په یوولسمه صدی کې اسلام ورسیدله ۱۳۲۵ میلادی

کال څخه نیولی تر ۱۸۱۹ میلادی کال پوری پدی سیمی مسلمانانو حکمرانی کړیده چی وروسته داسیمه دسیکانو دیرغل ندرشوه چی بالاخره په ۱۸٤٦میلادی کال انگریزانو سیکان وشړل او تر خپل استعمار لاندی یې راوسته.

آن تردی چی مهاراجه گلاب سینگ دکشمیر سیمه دایست انډیا کمپنی څخه د۷۵ لکو روپیو په قیمت په ۱٦دمارچ ۱۸٤٦واخیسته دې سودا دکشمیر دمسلمانانو په زړونو کې دنفرت او غوسی څپی طوفانی کړی چی بالاخره په ۱۹۳۱ میلاد ی کال کې دغه غوسه او غضب د ازادۍ غورځنگ په صورت را ښکاره شواودیوکال له مودی وروسته دکشمیر دازادۍ غور ځنگ په بشپړ قوت ځرگند شو دازادۍ غوښتونکو کشمیریانو ، او دمهاراجه گلاب سینگ دلښکر و ترمنځ په ۱۹٤۷ کال کی دړومبی ځل لپاره وسله وال بر خورد وشو . په ۱۹٤٦ میلادی کال کی بریتانیا له برصغیر څخه خپله بستره ټوله کړه

دبریتانیی او دهندوانو دنماینده گوند (کانگرس) او دمسلمانانو دنماینده گوند مسلم لیگ ترمنځه په کال ۱۹٤۷ میلادی پریکړه لاسلیك شوه چې دهغی پریکړی په نتیجه بر- صغیر په دوو برخو وویشل شو یوه برخه یی دهند(بهارت) په نوم او بله یی دپاکستان په نوم ونومول شوه دبرصغیر دتقسیم څخه وروسته دکشمیردواړوریاستونوته دهند او پاکستان له هره یوه سره چی ددوی خوښه وی دپیوستون چانس ورکړل شو او یاداچې کـه دوی مناسب بولی دخپل ناپیلتوب فیصله وکړی ، او یاداکثریت په بنا ، اویادی ولس ته حق ورکړی شی چی خپله فیصله پخپله وکړی ځرنگه چې کشمیر یوه داسی سیمه وه چی له یوې خوا اکثریت مطلق مسلمانان او له بلی خوا یې زیاتره پولی دپاکستان دپولی سره تړل شوی دي ، نو ځکه خو ددې خبری قوی امکانات وو چې کشمیر به دپاکستان سره پیوستون اعلان کړی ، او یا به خپلواك پاتی شی ، لیکن هند په دې دواړوکی یو ی منلو ته هم غاړه کیښبوده له او دواړه خبرې یې ردکړی چې وروسته هند په سیاسی تزویر دمهاراجه سره له هند سره دکشمیر دپیوستون پریکړه لاس لیك کړه نو پدې توگه مهاراجه گلاب سینگ ، جموکشمیر په ۱۸٤٦ میلادی کال کې له بریتانیی څخه واخیست او په ۱۹٤۷ میلادی کال کی یې ددې وراثت دهند په لاس کې ورکړ چی په حقیقت کې دواړو کارونو استعماری شکل ، او داوسیدونکو لپاره یو شان تحقیر او تذلیل درلودو خو فرق دومره وو چې ړومبی کار په داسی وخت کې صورت موندلی وو چی دمهاراجه لپاره دجواز او نه جواز مسئله مطرح نه وه امادویم کار هغه وخت صورت وموند کله چی دملگروملتو موسسه وجود ته راغلی او دانسانی حقوقو ماده یې په بشپړه توگه علنی شوی‌وه.

دکشمیرستونزه او ملگري ملتونه :–

له هغی ورځی راپدیخواچې دهند متعصبو ځواکونو په کشمیرو سله وال یرغل وکړ ، دکشمیر مسلمانانو یې په مقابل کې په وسله وال قیام لاس پوری کړ او په ډیره کمه موده کې دکشمیر مجاهدینو دکشمیر لویه برخه دهند څخه ازاده کړه . هند دې نتیجی ته ورسید چې ددې مبارزی مخنیوی دهغه په قدرت کې نشته ، نو دکشمیر ستونز ه یې ۱۹٤۸ میلادی کال دجنوری په میاشت کی دملگرو ملتو موسسی ته وړاندی کړه پدی تور، چی په ریاست کې پاکستان خپل وسله وال ځواکونه ځای پر ځای کړیدی او دملگروملتوڅخه یی وغوښتل چې په پاکستان فشار وروړی تر څو خپل ځواکونه له جمو کشمیر څخه په شاه کړی ددې ترځنك هند ددې زمنه هم وکړه چې دپاکستان ځواکونو دبیرته ستنیدو نه وروسته به هند په کشمیر کې دبی طرفه نگرانانو په حضور دخپل راتلونکی په باب دکشمیریانورایی ته ترجیح ورکړی تر څو دکشمیر داینده فیصله صورت مومی. ددې ترځنگ پاکستان داتورولگاوه چې هند دمهاراجه سره چی یو مشکوك او ظالم انسان ؤ په دوکه او فریب

دکشمیر دپیوستون پریکړه کړیده دبواړو هیوادو دالزامونو په ځواب کې دملګروملتو داپیشنهاد وکړ ، چې باید دملګرو ملتو په نګرانی کې ددې مسلې دهواری لپاره دې دخلکو رایی ته غوږ ونیول شی . دملګروملتو دسولی کمیسیون پدې کړکیچنه مسئله د۱۹٤۹ جنوری دمیاشتی څخه نیولی داپریل ترمیاشت پوری اوږد او ستونزور بحث وکړ ، دبحث په نتیجه کې دملګروملتو موسسی څوپیشنهادونه ترتیب کړل کوم چې د۱۹٤۸ داپریل دمیاشتی په قرارداد کې موجود وو. ددې قرار داد لـه مخـې دفوری اوربندی ، د بهرنیو ځواکونو فوری په شاکیدل او دملګرو ملتو دعمومی منشی له خوا دټاکل شوی ناظم په نګرانی کې دخلکو درایی معلومولو پریکړی موجودی وی .

خبرواترو لپاره دسولی کمیسون یوپنځه کسیز هیئت وټاکلو ددې هیئت امریکا هم یو غړی وو هیئت د۱۹٤۸ کال دجولای په میاشت برصغیر ته راغی کوم ته چې دهند او پاکستان لـه پاره دملګروملتو دهیئت (کمیسیون) نوم ورکړل شو . داوربندی پیشنهادخوفوراً عملی شو . هیئت دکشمیر څخه دهند او دپاکستان دځواکونو دبیرته ستنیدوخبری پیل کړی وی او داپریکړه وشوه چې دځواکونو دبیرته ستنیدل دې په یوه ډول داسی صورت وموومی چی دواړو فریقو کی کوم ته په ضررتمام نشی او د رایی ازادی هم متاثره نشی دملګرملتو هیئت دکړکیچ دحل لپاره په زړه پوری قدمونه پورته کړی وو چی هند ددوی پیشنهادرد کړ. او قبوله یې نکړه چی خپل فوځونه له کشمیر څخه بیرته په شا کړی . که څه هم دامریکی صدر ، ترومین ، دبریتانی وزیراعظم ایتلی له دواړوهیوادو څخه غوښتنه وکړه چې دملګرو ملتو له خوا دټاکل شوی هیئت پریکړوته غاړه کیږدی خو هند داهم قبوله نکړه ، هغه ؤ چې دهیئت کار له خنډ او ځنډ سره مخامخ شو او بالا خره یې خپل کارپریښود ، که څه هم پدې باب ډیر پیشنهادونه او هلی ځلی پیل شوی خو دناکامی سره مخامخ کیدی .

کله چې پاکستان دامریکی سره دفاعی موافقه لاس لیك کړه هند نور هم په خپل موقف ټینګ شو او داهغه وخت وو چې هند دشوروی اتحاد له تائید څخه برخمن شوی ؤ دې وضعی دملګروملتو هیئت بی صلاحیته او مغلوج کړ له ۱۹٥۸ کال څخه نیولی تر ننه پوری وضعه همداډول جریان لری ان تردې چې دهند او پاکستان ترمنځه دوو خونړیو جګړو هم چې یوه په ۱۹٦٥ – او بله په ۱۹۷۱ میلادی کلونو کې پیښی شوی وی دامسئله حل نکړای شو ه .

دکشمیر داخلي وضعه :

دکشمیری مسلمانانو دازادی قربانیانی به دتاریخ په پاڼو کې تل لپاره ثبت وی حقیقت دادی چې دهند غاصبو واکمنانو پرضد دکشمیریانو مبارزی دختیځ المان چکوسلواکی ، پولینډ ، او هنګری څخه کمی نه دي خو یو فرق چې مونږ ته جوتیږی هغه داچې دختیځی اروپا دخلکو بغاوتونه نړیوالومطبوعاتونه یواځی خپله مشاهده کول بلکه نړۍ ته یې په ډیره اغیزمنه توګه خپرول چې بالعکس دکشمیر دمسلمانانو دمظلومیت او دظلم په ضد تاریخی هلی ځلی دنړۍ دمطبوعاتو هیڅ پاملرنه نده کړی . اوس هند لګیا دی دکشمیر دخلکو دازادی دغورځنګ حپلو منصوبه عملی کوی هند دخپل فوځ ستره برخه کشمیر کې ځای پرځای کړیده چې شمیریې له دوولکوزیاتیږی له فوځ نه علاوه ، ګارډ ملیشیا او سرحدی لیوا شمیر له دینه علاوه دی دکشمیر د ۷۰ لکو ښاریانودجاسوسی او نګرانی لپاره دهند ۱٦ پټ او خفیه تنظیمونه په کار لګیا دي .

دمړوشویودمعیوبینو اوپه قیدخانو کې دبندیانو شمیر زرګونو ته رسیږی اودهند غاصبو ځواکونو ددوی مالونه ، جایدادونه ضبط کړی دي .

په کشمیر کې لس لکه نور خلك دي

لپاره ځای پر ځای شویدي ، ترڅو دکشمیر دمسلمانانو اکثریت په اقلیت تبدیل کړی ، داهغه سازش دی کوم چې اسرائیلو په فلسطین کې پیاده کړیدي ، دکشمیر دازادۍ اوخپلواکی دختمولو اوسلب کولو لپاره هندی رژیم ، دعدلی ،اوانتظامی ټول دفترونه ډهلی ته منتقل کړی دي ترڅو دهغی کنترول په مستقیم ډول دهند په لاس کې وی ، هند متعصب رژیم کشمیر په تیرو ٤٣ کلونو کې دبشپړ کمزورتیا سره مخامخ کړیدي ان تردې چې په کشمیر کې دکومی کارخانی لګولو اجازت هم دوی ته ندی ورکړل شوی ، دهندی متعصبوله خوا کشمیریان په تعلیمی لحاظ هم ډیرورروسته پاتی شوی دی تردې پورې چې په نیول شوی کشمیر کې دلیك اولوست فیصد له ٢٦ څخه نه زیاتیږی ، اودفی کس ګټه ٢٦٠ ډالرو ته رسیږی چې بالعکس په ازاد کشمیر کې دلیك لوست فیصد ٥٦ او دفی کس ګټه ٤٥٠ ډالرو ته رسیږی.

دکشمیر مسلی سوله ایز اومعقول حل په لاره کی دخنډونو اچولو په خاطر هند دچین په پولو هم دعوی کړیده ترڅو دامسله سره کړی

دکشمیر دازادۍ موجوده غورځنګ په یوه داسی مرحله کې چې دروسانو سری لښکری په افغانستان کې ماتی خوړلی اوپه نړۍ کې ظالمانه رژیمونه یو په بل پسی خاتمه مومی کشمیر دازادۍ اوخپلواکۍ ددې نړیوالو څپو څخه بی تاثیره نشی پاتی کیدی ، دغو نړیوالو پیښو دکشمیر دازادۍ غورځنګ لاپسی پیاوړی کړی او تیز کړیدي ددې غورځنګ تیزوالی اوځرنګوالی ددی منل شوی حقیقت په رڼا کې لاپسی جوتیږی چې په یوه موقعه دسری نګر ټولی ابادی یوه بی ساری مظاهره پیل کړه اودهند غاصبو واکمنانو په ضد یې شعارونه بدرګه کول دجنوری دمیاشتی ١٩٩٠ کال څخه نیولی دمارچ تر میاشتی پوری ډله ایزو وژنو صورت موندلی دی په کومو کې چې له زرو څخه زیاتې ښځې ، ماشومان سپین ږیری له منځه وړل شوی دي.

دجمو کشمیر دانسانی حقوقو غورځنګ دترتیب کړی رپوټ له مخی په نیول شوی کشمیر کې تراوسه پوری ١٥٧٣٠ مسلمانان په شهادت رسیدلی او ٦٢٧ ژوندی سوځول شوی دي چې پدې کې دمکتبو ٢٠٠ جنکیانی هم شاملی دي ، ١٣٠٠ مسلمانان په جیلونو کې دشکنجه اوتعذیبولو وروسته په شهادت رسیدلی ، د ٣٤٦ سترمنو خویندو عزتونه لوټ شوی ١١٢٦٧ کورونه اودوکانونه داور لمبه شوی دي او ٣٧٠٠٠ مسلمانان دکور په کور تلاشی په دوران کې نیول شوی اوپیلابیلو جیلونو ته لیږدول شوی اَو په رپوټونو کې داهم ویل شوی دي چې فعلاً ٧٠ زره کشمیریان په جیلونو کې بندیان کړی شوی دي .

درپوټونو له مخی دهلکانو په ابروتیری صورت نیسی ، اونیول شویو مجاهدینو ته دځنګیر غوښه په زور ورخوړل کیږی ، اوشرابو په څښلو مجبوریږی اوداسی نور هغه سلوکونه ورسره کیږی چې قلم اوکاغذ یې په لیکلو شرمیږی .

دکشمیردازادۍ غورځنګ چې فعلاً څومره په څپو شوی اوطوفانی شوی دی دادبرهمن دبچیانو دوس خبره نده چې دوی یې مخه ونیسی دکشمیردمسلمانانو مجاهدینو دبی ساری قربانی اوسرښندنی ددوی منزل مقصود ډیر را نږدی کړیدی ، خو افسوس چې نړیوال اوبیا په ځانګړی توګه اسلامی هیوادونه دکشمیر مسلمانانو یواځی تماشا اوننداره کوی که څو باید ټول مسلمانان پدې وپوهیږی چې دکشمیری مسلمانانو بشپړ ملاتړ نه یواځی داچی ددوی اسلامی مسولیت بلل کیږی بلکه ددوی دتشخص لپاره هم په ګټه ده لوی خدای دي دکشمیر،افغانستان اوداسی نوروټولو مسلمانانو دبشپړ ازادۍ اوخپلواکی صباوون زرځلانده کړی امین .

يك بحث جالب :

بخش اخر:

ن ، نوري

ازتاريخ تيوري واعمال حزب بعث

درعراق

این بخش راهم بخوانید

صدام حسين وقبل ازوى حسن البكر ، باپيروى ازهمين فلسفهء صلاح بيطار ، عمل مى نمودند دربيست ويكم جنورى ۱۹۷۰ ازطرف منابع خبرى عراق اعلان شد كه ، توطئه اى كشف گرديده كه مصروف طرح واجراى سرنگونى رژيم بود . فوراً وبطور عاجل افراد دستگير شده دريك محكمه انقلابى محاكمه شدند ودرمدت سى وشش ساعت تحقيقات مسلسل حكم اعدام چهل وچهار نفررا فيصله وصادر نمودند ، بمجرد اعلام حكم محكمه تمام چهل وچهار نفر راتير باران كردند ، گفته ميشد كه دربين ان چهل وچهار نفر يك صاحب منصب جوان بيگناه نيز شامل بود . ولى همراه گندم ، جونيز ارد شد .

هنگاميكه جسد وى رابه منزلش انتقال دادند ، يك عضو بلند پايهء حزب بعث جهت ابراز همدردى با پدر مقتول ، كه يك شخص مهم ملكى بود مبلغ پنجهزار دينار تقديم نمود ، پدر ميخواست درينمورد احتجاج نمايد ولى ازترس جان لبش از لب جدا شده نتوانست . جنرال هردان التكريتى را ، باوجود خدمات بيحد واندازه ان به اثر يك اشتباه كوچك سزاى خيلى سنگينى دادند ، جنرال هردان دركودتاى ۱۹٦۳ م ، باحسن البكر همكارى هاى زيادى نموده بود . اشتباه اوهمين بود .

بعد از كودتاى ۱۹٦۸ م ، وقتى كه دوباره حزب بعث برسر اقتدار امد ، جنرال هردان را ، به اثر سفارش يافشار صدام حسين ، از وزارت دفاع تبديل وبه يك رتبه عادى معاونت صدارت مقرر كردند ، چندى بعد اورا بخارج فرستادند .



درفبرورى ۱۹۷۱جنرال هردان ، هنگاميكه جهت ديدار ازكويت به انجا سفر كرده بود ، دردهن دروازه سفارت عراق هنگام خارج شدن ازسفارتخانه هدف مرمى قرار گرفت

صدام حسين مخالف سرسخت

دربیست ویکم جنوری ۱۹۷۰ ازطرف منابع خبری عراق اعلان شد که ، توطئه ای کشف گردیده که مصروف طرح واجرای سرنگونی رژیم بود . فوراً وبطور عاجل افراد دستگیر شده دریك محکمه انقلابی محاکمه شدند ودرمدت سی وشش ساعت تحقیقات مسلسل حکم اعدام چهل وچهار نفررا فیصله وصادر نمودند ، بمجرد اعلام حکم محکمه تمام چهل وچهار نفر راتیر باران کردند

دیگرخود جنرال صالح مهدی عماش رانیز افشا ساخت وی رااول وزیر داخله وبعد معاون صدارت ساخت وبعد ازان بحیث سفیر به ماسکو فرستاد ، وشرش راازسرخود کم نمود ،جنرال مهدی عماش دیگر هرگز به عراق برنگشت.

عده ای از مخالفین صدام حسین در توطئه کزر ، ازصفحه هستی محوونابود گردیدند.جنرال ندهم کزر را که یکنفر شیعه بعثی بود ، در ۱۹٦۹ ع بحیث رئیس اطلاعات ودفاع انقلاب مقرر نمودند ، در جون ۱۹۷۳ ع حسن البکر جهت دیدار ازاروپای شرقی رفته بود بتاریخ سی جون باید دوباره به بغداد برمی گشت جنرال ندهم کزر ، توطئه قتل حسن البکر را درمیدان هوایی بغداد چیده ، وبخاطر نجات از خطرات اینده جنرال حماد شهاب وزیر دفاع وسعدون غیدان وزیر داخله راقبلا اسیر واختطاف نموده بود لیکن بدبختانه طیاره حسن البکر ، دوساعت ناوقت تررسید ، به این ترتیب اولین حلقه اقدام ندهم کزر ازهم گسست ، وی هیولای مرگ رابالای سرخود دیده هردونفر اسیر خود را باخود گرفته بطرف سرحدات ایران فرار نمود ، نزدیك سرحد رسیده بود که اسیر شد لیکن قبل ازگرفتاری ودستگیرشدن جنرال شهاب راهدف مرمی قرارداده هلاك نمود امااسیر دیگر اونجات یافت .

صدام حسین بمجرد اگاهی ازتوطئه دفتر مرکزی اطلاعات ودفاع انقلاب را درمحاصره گرفت وهمه طرفداران جنرال ندهم را یکه ،یکه دستگیر وبکام مرگ فرستاد .

یکهفته بعد جنرال ندهم کزر شش نفر دیگر وسیزده نفر افسران نظامی ، محاکمه شدند همه محکوم به اعدام وفیصله محکمه درهمان لحظه تطبیق گردید .

یکروز بعد سی وشش نفر دیگر ملکی به اساس اشتباه دستگیر گردیدند سیزده نفر انان محکوم به اعدام گردیدند.عبدالخالق السمیری که عضو فعال قوماندانی عمومی انقلاب بود نیز درجمله دستگیر شده گان بود بعد از محاکمه محکوم به حبس گردید ، وتا ۱۹۷۹ ع در متعفن ترین ، اتاقهای زندان به سخت ترین صورت عمر گذشتاند ودربدنام ترین جلسه پلینوم تاریخی حزب بعث درعراق شخص صدام حسین وی راهدف مرمی قرارداده ازمصائب زندگی نجاتش داد .

بعضی ازصاحبنظران مصری وایرانی را عقیده براین است که طرح کودتا کزر راخود صدام حسین پی ریزی نموده بود ، صدام این طرح راچنان ماهرانه ریخته بود که توانست به بسیار سهولت همه مخالفین خود را از صفحه هستی محو ونابود نماید .

دیگر کسی دردستگاه های نظامی پولیس ومیدان سیاست عراق نبود که درمقابل صدام ایستادگی نماید ، بزرگترین مانعی که درمقابل صدام حسین قرار داشت ، حسن البکر بودوبس ولی اوهم برای صدام حسین اهمیتی نداشت وی قبلا درجیب صدام بود.

صدام حسین حسن البکر و همه اعضای بلند پایه حزب بعث بطور

دایمی ، ودرهرجااسلام را هدف انتقادات تمسخر امیز خویش قرار داده ومیدهند ، این گروه سعادت وارامی مردم رانسبت بدین مبین اسلام زیاده تر درسیستم سوسیالیستی میدانند ومی بینند.

رهبر بزرگ حزب بعث یعنی مائیکل افلاك درباره دین نوشت :مشکل اینجاست که بین ظاهروباطن دین فرق است ، ازین جهت که دین دارای یك ظاهر است ودارای یك باطن ویگان دفعه این فرق بین ظاهر وباطن تاسرحد تناقص میرسد.(العیاذ بالله)

ابراهیم خلاص یك عضو برجسته حزب بعث مضمونی درهفته نامه جیش الشعب ارگان نشراتی حزب بعث به نشر رسانید که نکات برجسته ای انرا بطور مثال تقدیم می کنیم.

(ملت عرب خداراصدازد اسلام عنعنات فرسوده راروی کار اورد ، ازنظامهای سرمایداری ملوك الطوایفی وقوانین قرون وسطی کمك خواسته ولی هیچکدام ان یکذره هم تعاون نه نمودند).

اسلام ، ملت عرب را زبون وخواروتوکل پرست ساخت ، مجبور وتابع ساخت البته نظامهای جدیدیکه انسان عرب رامی سازد درقلوب مصیبت زده ای جوانان مترقی عرب می جوشد ، ازشکم گرسنه انسان عرب ندامی کند ، انسان جدید مترقی وسوسیالیست مرکز اصلی ان است یگانه راه ترقی واعمار مجدد اجتماع عرب این است که انسان های جدید مترقی انقلابی وسوسیالیست پرست تولد نماید که عقیده براین داشته باشد که خدادین سرمایداری ملوکیت استعمار وهمه

> رهبر بزرگ حزب بعث یعنی مائیکل افلاك درباره دین نوشت :مشکل اینجاست که بین ظاهروباطن دین فرق است ، ازین جهت که دین دارای یك ظاهر است ودارای یك باطن ویگان دفعه این فرق بین ظاهر وباطن تاسرحد تناقص میرسد.(العیاذ بالله)

ان نظامهای که تاکنون براجتماع انسانی سایه افگنده اند مانند جسد مومیایی شده ایست که باید زیب موزیم های تاریخ باشد (نعوذ بالله) مرگ حتمی ومنزل اخرین است بعد از مرگ هیچ چیز نیست جنت ودوزخ محض افسانه اند مابه چنان انسانهای ضرورت نداریم که نماز بخوانند وروزه بگیرند خود را ذلیل وخوار وسرخم نموده به رکوع وسجده بروند (نعوذ بالله) مابه انسانی ضرورت داریم که سوسیالیست ومترقی باشد ...

این بود نظر یکی ازرهبران برجسته حزب بعث !

مائیکل وقتی خبث باطنی خود را درمورد اسلام اظهار میدارد چنین می نویسد :نهضت اسلام عکس مزاج وطبیعت اعراب است ، بدین ملحوظ اگر حروف اسلام نخواهد تغیر کند روح ان تغیر می کند ... اسلام تحریك ونهضتی بود از جانب اقوام عرب (نعوذ بالله)

همین نفرت ازدین وبیزاری از اسلام سرکردگان بعثی را وادار ساخت که همه مبلغین اسلامی را از تیغ بکشند تابتوانند مطابق خط مشی حزب بعث عمل نمایند به روی همین اساس صدام حسین هرنوع دسیسه وتوطئه راعلیه کردان مسلمان که درشمال عراق سکونت پذیرند ازمود ، قتل عام وشکنجه ها راعام نمود ولی نتیجه گرفته نتوانست جنگ صدام با کردها وقتی به مرحله حساس رسید که هیئتی از روس بدیدار مصطفی برزانی رهبر بزرگ کردستان به انجا امدند مصطفی برزانی مدت

مائیکل وقتي خبث باطني خود را درمورد اسلام اظهار میدارد چنین می نویسد :نهضت اسلام عکس مزاج وطبیعت اعراب است ، بدین ملحوظ اگر حروف اسلام نخواهد تغیر کند روح ان تغیر می کند ... اسلام تحریک ونهضتی بود از جانب اقوام عرب (نعوذ باالله)

یازده سال را درتبعید درماسکو گذشتانده بود .

صدام حسین هم یاازاثر فشار روس ها ویا ملاحظه اوضاع شخصاً به ملاقات مصطفی برزانی درمرکز نظامی وی رفت ، کاغذ ساده ای راکه درپایان ان خودش امضا نموده بود تقدیم مصطفی برزانی نمود تاهرخواهش وپیشنهادیکه دارد دران کاغذ بنویسد ازطرف ما (حزب بعث) پذیرفته خواهد شد .

بعد از مذاکرات چندین روزه معاهده ای درپانزده ماده ، به امضا رسید.که دران ازادی داخلی کردها تضمین شده بود صدام حسین چند روز بعد از رسیدن به بغداد نقض معاهده را اعلام نمود چندی بعد یعنی درسپتمبر ۱۹۷۰ ع ادریس برزانی فرزند مصطفی برزانی ازبازار عمومی بغداد می گذشت که هدف فیر ماشیندار قرار گرفت ولی خوشبختانه نجات یافت گفته می شود که صدام حسین بخاطر ملاقات با مصطفی برزانی نرفته بود بلکه میخواست نقشه دفتر مرکزی واطراف انرا بخاطر بسپارد تابتواند این خار را نیز ازپابکشد چنانچه یکسال بعد طبق یك پلان طرح شده برای ازبین بردن مصطفی برزانی عده ای به اصطلاح علمای نام نهاد مذهبی راجهت دیدارو ملاقات اوبه کردستان فرستاد این علمای دینی بعثی سعی نمودند تابا فشار دادن سویچ مخصوص تیپ ریکارد راکه برای گفتگووصحبت مصطفی اورده بودند باخارج شدن گاز مخصوص ومهلکی ازان مصطفی راازبین ببرند ولی درین عمل خود هم روی ناکامی رادیدند ، بر عکس تعدادی ازان علما درین فعالیت ازبین رفتند بعد از ین سانحه انعقاد هرگونه معاهده وملاقات امکان ناپذیر کردید پلان بعث هم همین بود که عدم پذیرش ملاقات ومعاهده راازجانب کردها بهانه نموده نظربه امراکیدشخص صدام حسین کردستان را توسط بم های کیمیاوی وزهردار ، بمباران نمودند ، وهزاران نفر مسلمان مظلوم وبیگناه رابشهات رسانیدند ازاثر این ظلم وستم محافل بین المللی سخت برافروخته شدند صدای اعتراضات بلند گردید ولی گوش رهبران بعثی هم نخارید .

صدام حسین ادعای ازبین بردن وجود پلید اسرائیل رادارد مگر ببیند مائیکل افلاك چی می گوید :(وجود اسرائیل یك حقیقت است ، باید مامراعات این امر راداشته باشیم اسرائیل ازنگاه قابلیت های فنی یك مملکت مترقی است عربهاپس مانده هستند وبالای

صدام حسین ادعای ازبین بردن وجود پلید اسرائیل رادارد مگر ببیند مائیکل افلاك چی می گوید :(وجود اسرائیل یك حقیقت است ، باید مامراعات این امر راداشته باشیم اسرائیل ازنگاه قابلیت های فنی یك مملکت مترقی است عربهاپس مانده هستند وبالای انان تاپه ای بنیادگرایی حك شده است ، اسرائیل سعی دارد عنعنه غرب رادرشرق تجربه نماید ، این تجربه انان قابل تشویق وقابل حفاظت است .)

انان تاپه ای بنیادگرایی حك شده است ، اسرائیل سعی دارد عنعنه غرب رادرشرق تجربه نماید ، این تجربه انان قابل تشویق وقابل حفاظت است .)

زموږ ادبي بحث

سید محي الدین «هاشمي»

شعر او د جوړښت اساسي توکي یې

شعر دادب دیوی څانگی په توگه دنورو اجتماعی علومو او فنو نو په څیر کوم ځانگړ ی او مشخص تعریف نه لري او هر څوك یی په پیژندگلوی، تحلیل ، څیړنه او سپړنه کی ترېیرحده له خپل ذوق نه کار اخلی ، له همدی امله یی تر اوسه داسی تعریف نشته چی دټولو لپاره یو شان دمنلو او تائید وړ وي .
بیلابیلو ادبپوهانو او څیړونکو دڅیړنو او کره کتنو په ترڅ کی دشعر دپیژندنی لپاره بیلی بیلی نظریی وړاندې کړې چی موږ دلته یو څو دبیلگی په توگه راخلو :
ځنی وایی چی شعر هغه وینا یا کلام دی چی وزن او قافیه ولری .
(په دغه تعریف کی دوزن تر څنگ قافیه هم دشعر اساسي توکی بلل شوی خو اوس دنویو او بی قافیی شعرونو په رامنځ ته کیدو سره ثابته شوی چی قافیه دشعراساسی توکی نه دی)یوبل لیکوال دیو شمیر ځانگړنو او خصوصیاتو په پام کی نیولو سره وایی چی: „شعر په موزونو الفاظو دټولنیززوند رښتیني انځور دی .
یو بل محقق د شعر دتعریف په څیړنه او سپړنه کی لیکی :
شعر هغه وزن واله وینا ده چی په انسانی عواطفو اواحساساتو کی خوځښت راپیداکوي .ځینی بیاوایی چی شعر هغه موزونه وینا ده چی دښکلا، تخیل او احساس په رنگ رنگینه وی دلوستونکی اواوریدونکی احساسات ولړزوی .
ځینی نورشعر په آهنگواله ژبه دنوی احساس تخیلی څرگندونه گڼی. ځینی بیا عقیده لری چی شعر په آهنگ واله ژبه دبشری فکرمشخصه هنري څرگندونه ده.له- همدی امله کولای شو شعر یو موزیکال فکروگڼو. یو بل تعریف یی داسی دي: په وزم لرونکی ژبی سره دمفکوری اوتخیل عاطفی ترکیب ته شعر ویل کیږی . دغسی دشعر په لس گونو نور تعریفونه اوتحلیلونه شته چی دلته په همدی اکتفاء کیږي.
که پورته یادوشویو تعریفونوته په غور وگورو ، دتخیل ، جذباتو(احساساتو) ښکلاء عواطف ، خوند ، مفکوره اووزن پکی مشترك ټکی دی ، چی ادب پوهان یی دیوی وینا دېشریعت معیارونه گڼی .
یو لړادبی څیړنو داثابته کړی چی شعر له څلورو اساسی توکیو څخه جوړدی چی هغه عبارت دی له:
۱– مفکوره

٢- تخیل
٣- احساس یاعاطفه
٤- وزن اوآهنگ

اوس دلته هریو په لنډه توگه درپیژنو:

١- مفکوره :

په هرشعر کې به خامخا یوه مفکوره نغښتې وي ، په دې معنی چې لوستونکي اواوریدونکي ته به ضرور یو فکر ورکوي چې هغه دهمدې پربنا' دشعر دویناوال پر وینا قضاوت کوي اوپه هغه کې ورته دشاعر طرز فکر ښکاري.

زیاتره وگړي دهمدغه مفکورې له مخې پرکلام دښه یابد حکم کوي څوك هغه شعر«ښه » او «ښکلې » بولي چې دادبي فنونو له مخې په وزن ، قافیه ، برابر او شعري تلازمات ، بدیعي صنایع او فني مهارتونه پکې کاررول شوي وي او ځنې بیا په دې پسې گرځي چې دشاعر ویناله ځان سره څه پیغام لري که هغه پیغام یې چې دوینا ویونکي یې په موزونو الفاظو لوستونکو او اوریدونکو ته وړاندې کوي «ښه » او« ښکلې »وي شعر «ښه» اوکه دوی له غوښتنو او عامه ټولنیز وگټو سره برابر نه ؤ . خلکو ته بې مفهومه خبرې ښکاري .

په لنډه توگه ویلای شو چې په شعر کې دمفکورې او پیغام مسٔله ډېره مهمه او دارزښت ټاکنې معیار گڼل کیدای شي. ویناوال ته لازمه ده چې دې مسٔلې ته ځانگړې پاملرنه وکړي.

٢- تخیل:

دشعر ډیر مهم اواساسي توکی دی ، ددغې کلمې څیړنه اوسپړنه سائنسي فیزیولوژیکي تحلیل غواړي:

داروا پوهانو په عقیده شیان اوپیدیدې دحواسو له لارې پرارگانیزم اغیزه کوي ، په لومړي پړاو کې احساس وي اوبیا دادراك مرحلې ته رسیږي چې دهمدغي ادراك له لارې انسان یو شي پیژندای شي،دهمدغه احساس اوادراك په نتیجه کې چې کله اصلي پدیده له سترگو فناشي په ذهن کې یې یوتصویر پاتې کیږي چې هغه دچاپیریال دانگیزو په اثر کله په اصلي څیره څرگندیږي اوکله بیا په بدله څیره کې ځان ښیي چې په همدغه صورت کې ورته تخیل وایي.

داخوپه عام مفهوم دتخیل معنی وه موږ دلته په شاعرانه تخیل خبرې کوو ، شاعرانه تخیل دځینو په عقیده الهام اویا هغه ته ورته ځواك دی چې په هغه کې دشاعر شعوري هڅه شامله ده .

ځینې پوهان تخیل داسې تعریفوي؛ تخیل هغه استعداد یاقابلیت دی چې دواقعیت نه دلاس ته راغلیو انطباعاتو په اساس په بشري شعور کې داسې نوې حسي یا فکري انځورونه (ایماژونه) تخلیق کړي چې په هغه ټاکلې شیبه کې واقعي موجودیت نه لري .

په شعر کې تخیل دتشبهاتو ، استعاراتو ، څیرو او اسطور و په بڼه تبارز کوي ، (اسطوره هغه ایډیا یې یا آرماني تصویر دی چې په موجوده وخت کې دانسان له واکه وتلې وي .)

تخیل دشعر دیوه اساسي توکي په توگه شاعر ته داځواك وربخښي چې مختلف اومتجانس شیان یو له بله پیوند اوله هغه څخه لوستونکي یااوریدونکي ته داسې تصویر وړاندې کړي چې پر ذهن یې اغیز وکړي .

دیو شاعرپرتخیلې ځواك پوهیدنه اوپیژندنه دلوستونکي په هنري ذوق ، پوهې اودفکر په قوت مطالعه اومشاهده پورې اړه لري .

٣- احساس یا عاطفه :

په شعر کې احساس او عاطفه هم حتمي او ضروري توکي دي په هره اندازه چې شاعرانه وینا یا کلام له احساس اوعاطفې څخه برخمن وي پر لوستونکي یا اوریدونکي یې اغیز هم په همغه پیمانه وي .

که شاعر درد ، آرزو ، اندیښنه ،

او ژور تاثر وئلری نوپه اوریدونکی یالوستونکی به یې څه اثر پرېوځي خامخابه ورته بې معنا خبری ښکاره شي څکه چې دشعریوه اساسي وظیفه داده چې مقابل لوری ته احساس اوعاطفه ورانتقال کړی ،اوداخو معلومه خبره ده چې په هنر کی قضاوت ، مفکوره اوحقیقت په عاطفی بڼه تبارز کوی ، هنرمند له دغه لاری مسلی مطرح کوی ، ژوند ته خوند وربخښی اودنړی اوژوند په ارتباط عاطفی برخورد پیاوړی کوي .

دایران مشهور شاعر اوادب پیژندونکی نادر نادرپور لیکی چې: «زه هغه څه ته شعر وایم چې په ما کی عاطفی خوځښت پیداکړی ، احساسات می راوپاروي اوجذبات می راولړزوی.»

نوددغو پورتنیو څرګندونو په رڼا کی ویلاشو چې احساس یا عاطفه دشعر اساسی توکی دی اودیو شعر ښکلا ، احساسات پارونه ، اوهنری تصویراوانځور وراندی کول ټول په احساس اوعاطفه کی خلاصه کیدای شی. هرخومره چې دیو شعرداخوا پیاوړی اوځواکمنه وی په دی معنی چې ویناوال یې مقابل لوری ته داحساس اوعاطفی په لیږدونه کی بریالی وی ، په همغه اندازه یې په لوستونکی اواوریدونکی ښې اغیزی مرتب کیدای شی.

٤- وزن اوآهنګ :

وزن او اهنګ دشعر مهم او اساسی توکی دی. وزن اوآهنګ په شعر کی دموزون والی په معنا تعبیریږی هرشعر (آزاد وی اوکه قافیه لرونکی) خامخا یوډول وزم لری اوداديپوهانو په عقیده دنظم او نثر اصلی توپیر په وزم کیږی (مسجع اومقفی نثر استثنایی بڼه لری) څومره چې په یو شعر کی دوزن پله درنه وی ، هغومره یې اوریدونکی اولوستونکی له لوستلو اواوریدلو زیات خوند اخیستلای شی اوپه اغیز منتیا کی یې هم رول جوت دی.

په شعر کی دمنظمو یا تقریبًا برابرو زمانی وقفو ترمنځ دهماغه دمتشابه آوازونو تکرار ته ریتم یا وزن ویل کیږی اوتجربو ښودلی ده چې وزم دانسان په سیکالوجی باندی لذت بخښونکی اغیز لری نو ځکه دغه توکی (وزن) دشعر په جوړښت کی اساسی بلل کیږی اوبې له دی توکی شعر نه شی رغیدلی .

دشعر داساسی توکیو (مفکوره، تخیل ، احساس، عاطفه) وزن باندی ترلنډ شان بحث نه وروسته خبری رالنهوواوداسی نتیجه تری اخلو ، کله چې یوه داسی مفکوره چې په عام مفهوم دټولنی دوګړو لپاره ګټهور، دپوهیدنی وړ اوښه پیغام له ځان سره ولری ، دشاعر دتخیل دځواك په ملتیا داحساس اوعاطفی په لمن کی راونغښتل شی اوپه شاعرانه ژبه په موزونو الفاظو نورو ته وراندی شی شعر ورته ویل کیږی .

مأخذونه :

ددی مقالی په لیکنه کی له دغو آثارو څخه استفاده شویده :

١- دافغانستان ولسی (ادبیات) دسمینار مقالی « شعر ، شاعر اودمجاهد شاعر رسالت زما خپله مقاله »

٢- فرهنګ زبان وادبیات پشتو .

٣- کابل مجله شعریت یعنی څه ، دم ، ص مقاله

٤- مقدمه دشعراوشاعری ، دمولانا حالی لیکنه ، دنواز طائر ژباړه

ژباړونکي : جميل الرحمن «سائل»

زموږ جنګ قومي اوقبيلوي جنګ نه دی، بلکه دخدای (ج) په لاره کې جهاد دی

محترم الحاج مولوي جلال الدين حقاني عربي هيوادو ته دخپل سفر په ترڅ کې دعربي متحده اماراتو د«الاتحاد» نومي جريدي له خوا په يوجوړشوي مطبوعاتي کنفرانس کي ګډون وکړ پدي کنفرانس کي دنوموړي جريدي مشرانو وېناوکړه وروسته دغونډي ګډون کوونکو پوښتنو ته ځوابونه وويل چي دادي موږيې دلته خپروو.

محترم مولوی صاحب دمجاهدينو فتوحاتو ته اشاره وکړه ويې ويل چې داټول دپاك خدای (ج) په لطف اواحسان سره دبيوزلو اوناتوانو حقانی صاحب دسياسی حل طرف ته په اشاری سره وويل دسياسی حل طرح يوه له هغو خطرونو اوګواښونو څخه ده چی موږ ته متوجه دی ، پدی طرح کی دنړی ډير دولتونه شريك دی اودوی غواړی چی په خپل ټول قوت سره



اوکارکوونکو ګډون کړي وو محترم حقاني په دي غونډه کي لومړي دافغانستان دجهاد دسياسي، نظامي حالاتو په هکله مفصله مجاهدينو له خوا چی لازم وسايل هم ورسره نه وه ترسره شوی دی اوپه يو لوی مادی قوت «روسيه» يی بری موندلی دی . موږ دخپل فشار لاندی راولی اومجبوره مو کړی چی دی سياسی حل ته چی زموږ دجهاد اوقربانيو سره هيڅ اړخ نه لګوی غاړه

كيږي.

محترم حقاني صاحب ووېل داطرح دټولو مجاهدينو له خوارد اوغندل شوي ده .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دخپلو خبرو په دوام ووېل :

موږ دلوي خداى ډير شكر گزار يو چې موږ ته يې زموږ په ١٦ كلن جهادكې ډير فتوحات اوبرياليتوبونه راپه برخه كړي دي ، دټولو نه لويه فتحه اوبرى چې زموږ په نصيب شوى ديوه لوى استعماري قوت په وړاندې زموږ دبيوزلى اوتش لاسي ولس مقابله اومقاومت و چې دهغې په مقابل كې هغه زموږ دبيچاره او ضعيفو خلكو مقابله په تش لاس سره ديو لوى قوت په مقابل كې چې ټولو مجاهدينو ډير ستر برياليتوبونه اوافتخارات ترلاسه

دښمن دهري وسلې اوحربې نه كار واخيست اوهغه يې زموږ پر خلاف استعمال كړه خو ددې ټولوسره سره خداى فتحه اوبرى زموږ په نصيب كړاو روس ته يې شكست اوماته وركړه

كړل په ظاهري بڼه دمادي وسايلو اوامكاناتو له مخې زموږ مقابله له دښمن سره ناشوني اوناممكنه ښكاريده له بلې خوا داجگړه نورڅو ، هفتو اومياشتو نه وه داډيره اوږده خونړۍ جگړه وه چې له يوې لسيزې څخه يې زيات دوام وكړ .

دښمن دهري وسلې اوحربې نه كار واخيست اوهغه يې زموږ پر خلاف استعمال كړه خو ددې ټولوسره سره خداى فتحه اوبرى زموږ په نصيب كړاو روس ته يې شكست اوماته وركړه اوپوره يوه لسيزه موږ له روسانو سره په جگړه تيره كړه اوله هغې مخكې دوه كاله دكابل له لاس كينولي رژيم سره جگړه روانه وه .

روسان اوس هم دكابل رژيم مرسته او ملاتړ كوي خو سره لدې زموږ فتوحات جريان لري ترڅو حده پورې چې اوس دروسي مشرانو تر منځ هم يو لړ مخالفتونه اوتربگني شروع شوي دي او له خپل شكست وروسته دا ملامتي يو پر بل اچوي اودې مسلې اوس دوى په منځ كې ډير غټ اختلافات رامنځ ته كړي دي حتى دروسي دخلكو په سطح يې هم داعتراضونو څپې راپورته كړي دبلې خوانه زموږ جهاد دروسي استعمار لاندې اسلامي جمهوريتونه هم بيدار كړل څكه چې كله دغوولسونو افغان مجاهدين وليدل چې په خالي لاس يې دخپلې ازادۍ اوعزت دحفاظت دپاره جهاد

پیل کړی نو دوی هم دافغانانو نه دادرس زده کړاودافغانانو په اقتداء اونقش قدم سره یی دروسی استعمار نه دخلاصون اوازادی احساس توپانی شو .

دهغو لویو فتوحاتو نه چی لوی خدای زموږ په برخه کړی دافغانستان له ۲۱۸ مرکزونو فتحه چی په دی کی علاقه داری ، ولسوالی اوولایتونه شامل دی اواوس فقط ددښمن ۵۲ مرکزونه پاتی دی چی هغه به هم ډیر ژر دخدای په فضل دمجاهدینو په لاس فتحه شی .

موږ تراوسه پوری کمزوری شوی نه یو سره لدی چی پدی وروستیو مراحلو کی پرمجاهدینو مرستی هم کمی شوی دی ځکه دمسلمانانو توجه دصدام جنگ طرف ته وگرځیده چی پر کویت یی ظالمانه حمله وکره .

خوسره ددی ټولو دخدای په فضل سره خوست دروژی په مبارکه میاشت کی فتحه شو اوداډیره مهمه اولویه فتحه وه ځکه خوست ډیر مهم ځای وو .

ددی فتحی نه وروسته په تیرو دوو میاشتو کی ۱۸ نورمرکزونه فتح شول دخدای په فضل زموږ فتوحات جریان لری که څه هم دکابل رژیم ډیری ورانوونکی،وژونکی روسی

وسلی لکه سکډ میزائیل اونور پر موږ استعمالوی چی تراوسه یی نږدی دری زره سکډ پر بی گناه خلکو ویشتلی دی .

موږ دسکډ په مقابل کی یا ددښمن دنوری وسلی لکه طیاری په مقابل کی داسی وسلی نه لرو چی دهغوی دوحشیانه حملو څخه دفاع پری وکړو موږ دسکډ په مقابل کی صبر کوو پدی اساس زموږ زیانونه زیات شوی دی اوتراوسه پوری زموږ نه ۱.٦ ملیونه شهیدان شوی دی ډیر کسان معیوب شوی دی ، اوپه سلگونو مدرسی ، جوماتونه ، کورونه وران شوی دی ، فصلونه سوزول شوی دی داټول هغه فشارونه دی چی موږ دخپل قوی ایمان اودخدای دنصرت اوتائید په یقین لرلو سره ورسره مخامخ شوی یو اوپه ډیر زغم مودهغی مقابله کړی .

لدی فشارونو اودسایسوسره دجهاد د دښمنانو داتبلیغات دی چی گنی ترشایي امریکا ولاره ده چی دابالکل له حقیقت څخه لیری خبره ده زموږ په صفونو کی هیڅ امریکایی اوغیر امریکایی بهرني فرد وجود نلری اوزموږ زیاتره وسلی له روسانو څخه په غنیمت نیول شوی وسلی دی نو که چیری څوك په دی خبرو کی شك کوی هغه دی په خپله


دمنبع
30 8 94

الجهاد البم



راشی اوله نژدی څخه دی واقعیت وګوری زموږ سنګرونه او جبهی دی وګوری حتی دبین الملل هیئت هم کولی شی چی راشی او زموږ صفونه اوسنګرونه وګوری همدارنګه کولای شی چی زموږ ددفترونه ویدیویی فلمونه ترلاسه کړی او ویی ګوری چی په دی جګړو کی څوك برخه لری اوڅه ډول وسلی استعمالیږی .

داټول دڅه دپاره ؟

روسان په هره میاشت کی له ۳۵۰ ملیونو ډالرو څخه تر ٤۰۰ ملیون ډالرو پوری دکابل درژیم سره مرسته کوی .

روسان داسی فکر کوی چی کمونستی حکومت چی ددوی ګوډاګی رژیم دی دابه ددوی دامنیت ساتندوی وی اوکه چیری دمجاهدینو حکومت جوړ شی نودابه دوی ته داخلی مشکلات راپیدا کړی .

خصوصاً دروسی تر تسلط لاندی په اسلامی جمهوریتونو کی اوبیا په دی خاصو شرائطو کی چی په روسیه کی داخلی کشمکشونه اوجنجالونه خورا زیات دی اودهری خوانه دازادی غوښتنی اوازونه پورته شوی دی .

الحاج حقانی وویل : دروسیی تر تسلط لاندی اسلامی جمهوریتونه اودافغانستان مسلمانان په ډیرو برخو کی سره یو دی چی له هغی جملی نه دین ، ژبه ، قوم او ... دی.

دتاتار قوم ، قازاقستان ، تاجکستان ، آذربائیجان ارمنستان ، داټول دافغانستان ګاونډیان دی داټول دبخارا اوثمر قند په نامه یادیدل اودلته یو وخت اسلامی تمدن اوفرهنګ ډیر زیات پرمختګ کړی و .

پر افغانستان دروسانو له تیری اودمجاهدینو له مقاومت سره پدغو سیمو کی اسلامی جذبات راوپاریدل او دغو سیمو ته دمجاهدینو دفعالیتونو اوخپرونو دنفوذ لاری بیرته شوی اوزیاتره افغانانو وکولای شول چی دقرانکریم نسخی چی په ازبکی ، تاجکی ، روسی ، ترکمنی اوفارسی ژبو ترجمه شوی وی هلته ورسوی اوتوزیع یی کړی په دی کار کی نه یواځی افغانانو برخه واخیسته بلکه بعضی روسی عسکرو هم داکار وکړ چی ځینو به یی دپیسو دترلاسه کولو دپاره او ځینوبه دیوه پاك احساس له مخی دقران پاك نسخی روسیی ته لیږلی اویا به یی له ځان سره وړلی.

له همدی ځایه وه چی دکمونیزم پرضد دروسیی په دننه هم خوځښتونه رامنځ ته شول او روسی کمونستان یی له سخت ګواښ سره مخا مخ کړل.

محترم حقانی صاحب دخپلو خبرو په ترڅ کی وویل : روسان دکابل درژیم سره ډیره زیاته مرسته کوی څکه هغوی په افغانستان کی

> تراوسه پوري زموږ نه ۱،٦ میلونه شهیدان شوي دي ډیر کسان معیوب شوي اوپه سلګونو مدرسي ، جوماتونه ، کورونه وران شوي دي

سره ښه وی لکه چی دکابل اوسنی رژیم یی دهغوی سره لری . روسان دی مقصد ته درسیدوپه خاطر پرمجاهدینو فشار راولی داکاردوی دامریکا او بعضی اسلامی دولتونو په ذریعه ترسره کول غواړی او دا دولتونه داسی دلائل وړاندی کوی چی گویا داقضیه دوامداره شوه دجنگ په ذریعه نه حل کیږی بلکه دسیاسی حل له لاری باید په دی اړه پرمختگ وشی .

حقانی صاحب وویل داځنگه حل دی ؟ هغه حل چه دروسی او دکابل رژیم داهدافو سره یودی ؟ که چیرته مونږ دغه شرطونه قبول کړو یعنی وسیع البنیاد ه حکومت جوړ

تضمین ورکړی . چه افغانان به دروسی په داخلی مسائلو کی گوتی نه وهی او داکار د دوی په فکر هغه وخت کیدای شی چی په افغانستان کی په اصطلاح یو وسیع البنیاد حکومت جوړشی چی په هغه کی کمونستان هم په دولتی قدرت کی شرکت ولری او روابط یی دروسیی

داسلامی حکومت له قیام نه ویرزیات ویریږی. روسان نور استعماری مقاصد هم لری چی دهغی دپاره مذبوحانه هلی ځلی کوی چی مونږ په لنډه توگه هغوی ته اشاره کوو .

اول – دوی غواړی چی مجاهدین دکابل درژیم سره په پرله پسی جنگونو مشغول کړی ، او یایی په داخلی جنگونو بوخت کړی یاداچی دسیاسی حل خبری چه دملگرو ملتونوله خوامطرح کیږی په دی مسائلو مجاهدین مصروف کړی اوله اساسی اهدافو څخه یی لیری وساتی .

دویم – روسان غواړی چی دملگروملتونوموسسه دوی ته

کړو او ... نو ولی مونږ دادولس کاله جنګ وکړ ؟او ولی مو دومره قربانی ورکړی ؟ د وسیع البنیاد حکومت مطلب همدادی چی دکابل رژیم ئی دجهاد دشروع نه راپدیخوا غواړی . څکه خو پدی بنه سیاسی حل زمونږ په نظر مردود او غیر عملی دی . لیکن هغه سیاسی حل چی دهغی پواسطه په افغانستان کی اسلامی حکومت جوړیږی په هغه مونږ راضی یو او زمونږ دمنلو وړدی . نو په هغه وخت کی به مونږ دافغانستان کمونستان چی زمونږ

روسان کوشش کوی چی کمونست گوند چی اوس د«وطن گوند » په نامه یادیږی دافغانستان په راتلونکی کی دبرخی حق ولری او په انتخاباتوکی دی ګډون وکړی . خوښایی ووایو چی دغه گوند

دمملکت په اداره کی امکان لری دایو مردود او غیر مقبول کاردی ولوکه په دی باندی ځینی دولتونه راضی شوی هم وی توطئی او نیرنګونه دجهاد ثمری دشندولو دپاره ډیر په شدت جریان لری او دتعجب خبره داده چی پدی دسیسو کی هغه هیوادونه هم برخه لری چی مونږ گمان کاوه دازمونږ دوستان او دجهادحامیان دی .

مونږ ددی دسیسوپه خطرونو ښه پوهیږو، خو دخدای (ج) په نصرت باندی متیقین یوو .څکه موږدخدای (ج) مرسته او تائید له اولی ورځی نه چی له مونږ سره هیڅ هم نه وو دسرپه سترگو لیدلی او زمونږ په لاس یی روسی غوندی طاقت ته

زمونږ جنگ «جهاد » قومی اوقبیلوی جنگ نه دی بلکه دادخدای په لاره کی جهاد دی که چیری زمونږ جنگ « جهاد » غیر شرعی وای نو په هغه صورت کی زمونږد پاره دسیاسی حل قبلول اودجنگ بندول پر ځای کار وه ترڅو ددومره زیانونو مخه نیول شوی وای .

سره جنگیدلی دی پدی شرط عفو کړو چی هغوی اسلام ته رجوع وکړی او توبه وباسی .

محترم حقانی صاحب وویل دحیرانتیا وړ خبره داده چی:

دروسی تیری بقایا او پاتی شوی گنلی شی دهغه تیری بقایا چی نتیجه یی دهیواد بربادی مرگ ژوبله او نور زیات زیانونه وو نوپه کوم منطق دداسی خلکو قبلول یووار بیا

> مونږ دملل متحد دموسسی نه غوښتنه کوو چی داومنی چی نجیب دجنگ مجرم دتاوان ورکولو مسول دی اودجنگ سبب دی کومکونه او مرستی باید پری بندی شی اودقدرت نه دی لری شی نو په هغه وخت کی به جنگ بند شی مونږ جنگ غوښتونکی نه یو او اوس دی کار ته مجبور شوی یوو.

ماته ورکړی ده .

دحقانی صاحب له وینا نه وروسته دغونډی برخه والو یو لړ پوښتنی طرحه کړی اوحقانی صاحب یی ځوابونه وویل چی دلته یی متن راالخلو :

یو وروړ پوښتنه وکړه ولی افغان مجاهدین دنجیب سره خبری کول ردوی ؟ اونه غواړی چی دافغانستان مسٔله په سیاسی خبرو حل شی ایا تاسو ددی کار په اقتصادی اواجتماعی اړخونو ، گټواوهمدارنگه دجنگ دزیانونو په باب فکرکړی دی ؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل : دغه دسیاسی حل طرحه په حقیقت کی دوسیع البنیاده حکومت تشکیلول دی چی په هغه کی به کمونستان هم برخه ولری او مجاهدین هم اومونږ جهاد ددی دپاره شروع کړی چی په افغانستان کی داسلام بیرغ اوچت کړواودکمونیزم جرړی دافغانستان نه وباسو .

زمونږ جنگ «جهاد » قومی اوقبیلوی جنگ نه دی بلکه دادخدای په لاره کی جهاد دی که چیری زمونږ جنگ « جهاد » غیر شرعی وای نو په هغه صورت کی زمونږ د پاره دسیاسی حل قبلول اودجنگ بندول پر ځای کار وه ترڅو دومره زیانونو مخه نیول شوی وای .

ولی زمونږ جنگ «جهاد » دخدای په لاره کی دی اودهغه دحکم مطابق دی اوهر زیان چی په دی لار کی ووینو هغه مونږ تاوان نه گڼو او داچی مونږ دخدای (ج) دحکم مطابق عمل کوو خدای (ج) مونږ ته دنیوی اواخروی اجرونه راکوی مطلب داچی مونږ ته به په دنیا کی عزت اوپه اخرت کی جنت راکړی دازمونږ عقیده ده .

حقانی صاحب زیاته کړه مونږ دملل متحد دموسسی نه غوښتنه کوو چی داومنی چی نجیب دجنگ مجرم دتاوان ورکولو مسول اودجنگ سبب دی کومکونه او مرستی باید پری بندی شی اودقدرت نه دی لری شی نو په هغه وخت کی به جنگ بند شی مونږ جنگ غوښتونکی نه یو او اوس دی کار ته مجبور شوی یوو.

دخوست په جنگ کی زمونږ په لاس کی ددښمن دری زره عسکر او ۳۲۰ صاحب منصبان اوپنځلس زره ملیشه اسیران شول چی مونږ دوی ته هیځ ضرر ونه رساوه اودهغوی سره مو داسی چار چلن وکړ لکه چی ځوك یی دمیلمنو سره کوی .

که چیری نجیب اودهغه دله توبه وباسی اواسلام ته رجوع وکړی اوپه خپل تیرواعمالو باندی پښیمانی ښکاره کړی نو مونږ به

یی وبه وژنو.

اومون هغه پریږدو چی په افغانستان کی ژوند وکړی خو مون به هغه ښاروو چی دروس یا نور اسلام دښمنه ملکونو سره خپل تعلقات قایم نکړی .

نوکه چیری دی زمون داخبری ومنی دی به وکولای شی چی په عزت ژوند وکړی .

الحاج حقانی زیاته کړه : دکابل رژیم ددفاع وزیر مرستیال ډگر جنرال ظاهر سوله مل دخوست په جنگ کی زمون په لاس اسیر شو همدارازاوه نور جنرالان اسیران شول ، مون ددوی یوه ته هم شکنجه اونکراوندی وررسولی ځکه دوی خپله پښیمانی څرگنده کړه او توبه یی وویستله اودازمون دپاره کافی ده مون یوازی تریوه وخته پوری ترڅارنی لاندی نیولی چی کله مون مطمئن شو چی دوی به بیاد کابل دکمونستی رژیم سره نه یو ځای کیږی او ارتباطات ورسره نه نیسی نو مون به دوی پریږدو چی خپلو کورونو ته ولاړ شی مون دغسی دمخه هم له زیاترو عسکرو او صاحب منصبانو سره کړی دی مون هغوی دنوی داقاریو یا قبیلو په کفالت پریښی دی چی خپل خپل کورونو ته ولاړ شی .

دامثالونه ددی دپاره وایم چی څو تاسی ته وښایم چی زمون جهاد دخدای درضا دپاره دی نه قبیلوی یاقومی جنگ .

نو په دی لیار کی زیانونه اوخسارات زمون په مادی معامله نه حسابیږی دثواب اوعقاب په حساب شمیرل کیږی اوددی تولو نه زمون هدف دخدای رضا ترلاسه کول دی .

یو ورور پوښتنه وکړه چی حقانی صاحب که دانتخاباتو په باره کی خپل نظر څرگند کړی چی ایا دادمشکلاتو دحل لاره ده اوکه نه ؟

حقانی صاحب وویل : زه په تکرار اوتاکید داخبره کوم چی مون جهاد دسیاسی قومی یا قبیلوی مقاصدو په غرض نه دی شروع کړی ، زمون جهاد شرعی جهاد دی اودخدای درضا لپاره ده نو که چیری مون له کمونستانو سره چی دخدای اواسلام دښمنان دی دانتخاباتو اوپه هغی په برخی اخیستلو اعتراف وکړو نو په هغه صورت کی به مون گناهگارشو ځکه چی مون دومره قربانی ولی ورکړی ! که مون له هغوی سره په انتخاباتو باندی موافقه وکړودامعنی لری چی په زندیق او مرتد باندی دمسلمان حکم کوو حال داچی اسلام داعمل ردوی اوجواز نه ورکوی او مون داسلام تطبیقول غوارو .

دغه ورور بیا پوښتنه وکړه چی افغان ولس اکثراً مسلمانان دی اودانتخاباتو معنی همدا ده چی ولس خپل انتخاب وکړی نو که فرضاً افغانانو ته دانتخاباتو حق ورکړشی نو آیا دوی به کمونستان انتخاب کړی ؟

حقانی صاحب یی په ځواب کی وویل لومړی خو داچی زمون موافقه دکمونست سړی په کاندیدلو چی که کامیاب هم نشی یومړلود کار دی ، ځکه پدی صورت کی مون دده په نسبت اقرار او اعتراف وکړاوداهغه

خبره ده چې اسلام یې ردوی چې کمونست دی په مسلمان باندی حکم وکړی اوداهغه مسله ده چې موږ یې دیته هڅولی یو چې داڅو کاله جهاد وکړو .

موږ فقط دخدای دقانون حاکمیت په خاطر پدی کار اقدام کړی اوپدی کی څه پټه خبره نشته .

اما دخلکو رای ورکول کمونستانو ته دابیله مسله ده اوکه چیرته موږ له هغو کسانو سره چې دهېوا د بدبختیو او ورانیو مرتکبین دی پر انتخاباتو موافقه وکړو نو موږ به دوی په رسمیت وپیژنو.

پوښتنه وشوه چې انتخابات دجنگ سلاح ده چې باید پر کمونستانو استعمال شی اودایوه سیاسی وسله ده ؟

حقانی صاحب وویل: زه به تاسو ته دانتخاباتو ردول په مطلوب شکل ووایم ، لکه چې تاسی پوهیږی ځینو اسلامی هیوادونو کی ښځی هم حکومت کړی دی اوداکار دعمومی انتخاباتو په نتیجه کی شوی دی اواسلام داشی نه منی په افغانستان کی همداسی حالت پر موږ باندی هم دی کمونست سری به ونشی کولای چې اول یادویم وار کامیاب شی ولی دوی کولای شی چې په بل شکل ظاهرشی او شاید داسلام په لباس کی ځان قدرت ته ورسوی ، مثلا مشهور کمونست لکه نجیب کولای شی داسی کسان رامخی ته کړی چې ورسره مرسته وکړی بعضی ددوی نه اوس هم ورسره دی اوولس ته وایی چې دوی کمونستان نه دی نو لدی کبله موږ دانتخاباتو دا اسلوب اوطریقه ردوو او موږ هغه تشکیل شوی شورای چې داهل حل وعقد نه چې مشهود په صلاح اوتقوی وی قبلوو او موږ ته دمنلو وړدی .

یو بل وړور پوښتنه وکړه دشوری دتجربو نه چې همدااوس یې دوی جوړ کړی اویاداشوری به داسلامی حکومت دجوړیدو نه وروسته هم دوام ولری اودڅه منظور دپاره به وی ؟

حقانی صاحب داسی ځواب ورکړ : داسلامی دولت جوړول مشکل کار ندی خو که چیری په دی برخه کی زموږ سره د څه شی کمښت احساس شی نو ممکن چې موږدځینو اسلامی دولتونو په مرسته هغه مشکل حل کړو .

دشوری مجلس جوړول هم څه گران کار نه دی مثلاً دهېواد افغانستان نه ۳۰۰۰ کسان انتخاب کیږی اودوی به داهل حل وعقد دعلماوو او مفکرینو نه انتخاب کیږی .

اودوی به دخپل منځ نه ۳۰۰ یا ۲۰۰ کسان انتخاب کړی نو دوی به دحکومت رئیس اوخپله حکومت جوړ او تشکیل کړی .

په همدی طریقه دقوماندانانو دسرتاسری شورا هم دهېواد افغانستان په سطحه تشکیل شوه اوداکار په موږ کی یو معمول عمل دی .

حقانی صاحب دغربی مطبوعاتو په رابطه چې دجهاد پر ضد زهرجن تبلیغات کوی اوپه دی کار یې جهاد تر یوه حده متاثره کړی دی وویل : دایوحقیقت دی اودوی په دی کار

کی هیڅ شك نشته ، غرب دا کارونه
په دوه علته کوی :

۱- دروسی قواو دوتلو نه وروسته
غرب خپل هدف ته ورسید ، هغه څه
یی چی غوښتل هغه یی تر لاسه
شول دوی داسی مرحلی ته ورسیدل
چی نور دمجاهدینو دخبرونو
نشرولو ته محتاج نه دی او
دمجاهدینو دکامیابیو او فتوحاتو
څه پروانه لری .

دوی یوازی په دی بسنه ونکره
دوی ددښمنانو موقف غوره کره
حال داچی دوی تر پرونه پوری ویل
مجاهدین په یوه صف دروسانو په
مقابل کی جنګیږی نو دروسانو له
وتلو نه وروسته اواوس دوی کله
وایی چی مجاهدین دهیروینو
تجاران دی اوکله بیا وایی چی دوی
اتفاق نه کوی او یو بل سره وژنی
اوداسی نور ... حتی تردی پوری
چی دوی اوس داهم وایی داجنګ
دنجیب پر ضد نه بلکه ددوی په
خپل منځ کی جنګ دی .

همدا راز دوی زموږ دا وروستی
فتحی ډیری کمی وښودی ځکه چی

داسلامی دولت جوړول
مشکل کار ندی خو که
چیری په دی برخه کی
زموږ سره د څه شی
کمښت احساس شی نو
ممکن چی موږ دځینو
اسلامی دولتونو په مرسته
هغه مشکل حل کړو .

دوی اوس په دی کار کی څه ګټه نه
وینی .

دبل طرف نه غرب اوس دمسکو
سره نږدی کیږی اوزموږ پرضد
دریږی .

۲- دروسانو دوتلو نه وروسته موږ
ډیر اسلامی دولتونه ولیدل چی دوی
دهغو کسانو تر شا ودریدل چی
دوی دسیاسی حل ناری وهی اوس
دوی هم دهغو کسانوغوندی خبری
کوی .

الحمد لله موږ وکولای شول چی
دخوست نه پنځه دیرش زره میله
وړه او غټه وسله ترلاسه کړو
همدارازد ملیونونوروپیو په ارزښت
زرهی ۸۰ ټانکونه اوپه سل ګونو

نورعراده جات ، رادار ، مخابری
داتول شیان موږ دخوست نه
ترلاسه کړل .

همداسی شیان موږ په نورو
خایونو کی لکه قیصار ، چمتال ،
زیباك ، خواجه غار ... ډیر زیاد
شیان په غنمیت ونیول .

دغوندی په پای کی دالاتحاد
جریدی دتحریر مدیر له حقانی
صاحب نه ډیره مننه وکړه او ویی
ویل چی زما اونورو مسلمانانو
ارمان دادی چی بل ملاقات ډیر ژر
دکابل په ښار کی وشی ان شاالله
تعالی .

په مقابل کی حقانی صاحب
داماراتو دولس اودحکومت نه مننه
وکړه چی دوی دجهاد له پیل نه
تراوسه دمجاهدینو په څنګ کی
دریدلی دی اوهمدا راز دالاتحاد
دجریدی دمسولینو نه یی مننه وکړه
چی دوی دجهاد په خدمت کی
دهرنوع کوشش نه ځان نه دی
ژغورلی .



راز

حبیب الله رفیع

لمر له تندر ځخه خلاص شوتل ترتله
نوربه تل سپینی رنـا وی خپروی
انتظار یی چی دسره سحرپه لور و
اوس په لار کی پرسرخاوری بادوی
تار په تار یی دپرولتارپلارشوی لښکری
ټول ښکیلیان یی زنځیرونه ماتوی
چی په جبر یی بیل کړی وو دوه ورونه
ورتـه گوره دیـوالـونـه نـړوی
قیـامـونـه دی قـوام تـه رسیـدلی
دښکـیلاك داسره قصرونه لړزوی
چی دښمن ته یی له شاتر پښو نیولم
بیابه ځنگه ماته سترگی غړوی
چی می دوست شوددښمن دښمن زما شو
دغه راز به له چا ځنگه پټوی ؟

یابه یوکیږو یابه ورکیږو

غمخور

وخت دایثار اودمحبـت دی　　　وخت دوحدت اوداخوت دی
وخت دعمل اودمصلحت دی　　　وخت دیووالی دقیادت دی
دتاریخ چغه ده　　چه محوه کیږو
که نن یو نـشـو سبـا ورکیږو

یارب

استاد خلیلی

یارب همه تن غرقه دراشك وخونم　　　خارم به تن است
هردم شـرر غـم بـدل محزونم　　　اتـش فگن است
دربـزم قبـول اگر نداری راهم　　　ان خلـوت تست
ازکشور امـیـد مـران بیرونم　　　کان ملك من است

دنفاق بوړی

شفیقی

نـه پـوهـیږو مـونـږه نـازولـی کـه رټـلـی یـو
وخـت دنـاکـردو پـه زنـځـیـرونـو کـی تـړلـی یـو
دم پـه دم تـهـکـری حـادثـی دی او تـنـدی زمـوږ
وخـت پـه وخـت پـه اور دامتـحـان کی سوځـیدلی یو
کـلـه دنـړی پـه ولـسـونـو کـی مـعدوم غـونـدی
کـلـه لـکـه لمر پـه ټـول جهـان کی ځـلیـدلی یـو
شـوروی هـنـگـامـی وی هـیـبـتـونـه ، ستـمـونـه وی
هیڅ نه وی ټول ورك شی کله موږ چی خو ځیدلی یو
نـور مـو دکـمـال پـه مـخکی لـوی لـوی گړنگونه دی
هسی لکه خدای (ج) چی مستکبرو ته ساتلی یو
یـو دتـوری خـرپ دی یـوه جـذبـه ده ایـمـانـی پـاتـه
نـور دتمـدن لـه قـافـلـی نـه ډیـر لـویـدلـی یـو
نـه مـو دوروری پـر تـړون پـل دوفـا ایـښـی دی
نـه چـا دوحـدت پـر دسـترخـوان راټـول لـیـدلـی یـو
ځوك چی کبر جن شی خدای (ج) یی موږ ته راله غاړی کړی
نور موخونده نشتـه بس پـه توره کی غښتلی یـو
بـس زمـوږ لـه مـنـځـه کـه شـوه ورکـه دنـفـاق بـوړی
پـوه یـمـه سـرلاری دقـیـام امـت مـنـلـی یـو

شهید

حنیف بلخي

باخط زرثبت تاریخ است پیکار شهید
نازهادارد وطـــن ازســازرفتـارشهید
نام اوجاوید ماند افتـــخــار قـــرنهــا
اسمان کی میتوان پیچید طومار شهید
سرفروشیهابود ازبهر کشور ای عـــزیز
غیر این یوسف نمی یابی ببازار شهید
رشته های من رباط الخیل بامن قوة
سخت پیچیده بهم بارشته وتارشهید
هرقدر اوراق وضع زندگی اش واکنی
می نیابی جز غزادردفتر کارشهیـــد
درفراشیب معارك ، درشکنج کار زار
نیست غیر عشق قران ووطن یارشهید
می نبارداز سحابش غیر یاقوت مذاب
می نکارد غیر لاله خاك گلزار شهـــید
پهلوی هرسنگ سنگر ازغرور وافتخار
باخط گلگون نگاریدند ایثار شهیـــد
خون پاك اوبردامان کشور می چکد
لاله میخیزد زاغوش سمنزار شهید
تاابد دارد نظر از درز گلگون کفن
سنگر ستان وطن راچشم بیدار شهید
بود اینجا همچو خالد تیغ اوکافرشکن
هست انجا همچو جعفر روح طیارشهید
درگلوی نای کلکم حرف اتش میشود
ارنویسم ازجلال وشان ومقدار شهید
می نویسم بـــعــد از انــا الـــیه راجـــعــون
برلب سنگر «حنیف» ازعشق سرشار شهید

افغانی مجاهد ته

محمد حنیف غمخور

پریوتل برجونه دفرعون اودهامان
پورته شو بیرغ دی مجاهده په اسمان
لوری دمنزل دی راقریب شومعلومیږی
راغی ستاسحر دازادی په نوی شان
خُارشمه غازی دستادلوړی حوصلی نه
وتمبول په شاچی دی موجونه دطوفان
والوتی بسمی پکی دتوپو دټانکونو
دوره شول جهازونه پلوشه کی دایمان
ای باتورافغانه حیدری دی ولولی دی
غوخ کړو غیرصفونه دی په توره دیزدان
ستاجرأت عبورکړلو داورسمندرونه
ستادعشق جذبی کړو تندرونه په لرزان
ظلم هرظالم لره اخر دمرگ اسباب شی
وینی دشهید شی منجری دگلستان
لار دتیښتی نه وینی جابر په دی جهان کی
راشی چی دعرش نه جوابونه دسوران
پورته میرنی چی درموز اوداسرار شی
ترمی ترمی وړی دباطل غرونه په میدان
گډ کړی محشرونه دالحاد په شبستان کی
الله اکبر نعره چی پورته کړی غازیان
توری تیری کله درنړا مخی نیوی شی
بیاهغه رڼا چی رنگ بدل کړه دجهان
شی دغزنوی دسینی اورچی رابرسیره
پاتی نه شی چرته دغلیم نام ونشان
ستادتوری غږدی مجاهده په جهان کی
نوم دسربالاکړو په دنیا دمسلمان
سُپر طاقتونه همگی پکی راگیر شول
وغورزول تاچی کمندونه په دوران
کلکي دی ای وروره دفولادنه ارادی دی
پنجو کی نجوړکړلو تادیودترابان
مټ دمسلمان گویا چی مټ دکبریادی
راشی چی حرکت کی حد نه ورځی دامکان
دازرزری باب به دفلك په ځیگر ښکل وی
پانی دتاریخ داسی رنگینی کړی افغان

تكـــل

شـهـرت ننګـيـال

وروستى فيصله

هغه يو ځل په ځير ځير خپلو زخمونو ته وکتل – داسي لکه چي همدااوس يي ورته پام شوي وي – لږه شيبه دهغه نظر دزخمونو په عمق کي داسي ښخ و لکه چي هغه خپله ورکه همدلته لټوي .

له زخمونو څخه يي دوينو چيني را رواني وي اودهغه شاوخوا ځمکه کاني اوښکي يي ښي خيشتي کړي وي .

هغه په خپل څنګ کي پراته کلاشينکوف اودمرميو پوچکوټه بيابيا وکتل هماغسي ژور لکه څوشيبي مخکي يي چي خپلو زخمونو ته کتلي و دهغه دنظر شاهين دلته ښايسته ډير وزرونه وټپول ، دباروتو بوي دبمباريو اوچاودنو دوړو لدي زيات دهغه دنظر عقاب ته وړاندي مخه نه ورکوله .

دهغه په وړاندي له خپل کلاشينکوف اوپهانده وينو اوپرهرونو پرته بل هيڅ نه ښکاريدل اوهمدا ورته دخپل ژوند دوروستيو شيبو منزلګاه اواخري ټاپي معلوميده .

له يوه لنډسکوت وروسته چي دي يي دخيالونو اوسوچونو دسمندر ساحل ته رسولي و دڅو سختو چاودنو غرمبهارهغه يو وار بيا دجګړي اومقاومت په توپاني څپو لاهو کړ دهغه له پاره دژوند څو لحظي پاتي وي – هغه په خپله سينه کي دڅو شيبو لپاره دساچليدلو مخه پرانستي ليدله – هغه کتل چي لږه شيبه وروسته به ژوند ورسره اشنايي پريږدي – له همدي ځايه هغه له ژوند سره دخداي پاماني لپاره چمتو شوي و اودايي زړه منلي وه چي لږ ساعت پس به دژوند په نامه د٢٤ کلنو هسکو ټيټو اولوړو ژورو سره دده اړيکي پاي ته رسيږي اود٢٤ کلن سفر په سر منزل کي به دتل لپاره دمه کيږي .

په همدي کي هغه دشګو اوکاڼو پر ټټر دپښو ښکالو بياراولړزاوه اوپه دغه لږه شيبه کي يي يو عالم سوچونو پر ذهن اوتصور يرغل وروړ داسي ښکاريده لکه چي هغه پدغه لږ وخت کي دخپلو سوچونو دڅپاو په وړاندي دخپلي پريکړي اعلان کړي وي – هغه په څنګ کي خپل کلاشينکوف ته په وينو لژند لاس اوږد کړ – لکه چي دوروستي ځل لپاره يي ښکلوي – داسي لکه چي دايي ورسره اخري ديدن وي اوپه مخه ښه ورسره کوي .

هغه بيا بيا په بيړه بيړه پر کلاشينکوف دخپل نظرنيلي و زغلاوه – غوږونه يي ښه څګ کړل اودپښو دښکالوپه لټه کي شو – دهغه زړه په ټينګه منلي وه چي ګني روسي يرغلګرو پري دغونډي له لوري رااوښتي دي خداي خبر په زړه کي يي څه وګرځيدل دکلاشينکوف شپيلي يي خپلي تندي ته نيغه کړه او ګوته يي پر ماشه کيښوده هغه پدغه لږه شيبه خپله فيصله دخپل زړه په وړاندي اعلان کړي وه : اوهغه داچي بايد دښمن يي ژوندي ونه نيسي هغه دزخمي عقاب کيسه سرترپايه دخپل ذهن په کتاب کي ولوستله خو ډير ژر يي خپله پريکړه بدله کړه – دايي وپتيله چي ډيره ښه شوه چي ليمي دژوند په وروستيو سلګيو کي ددښمن دوينو ددارو ننداره وکړي ، له همدي امله دژوند اومرګ دکشمکش په اخري پوله کي يي ددښمن په لور دوروستيو ګوليو دبارچليدو ته دستغ انتظار خوړ درد ته غيره پرانيستله.

پیغام

دافغانستان جهاد دکتاب په هنداره کې

ننګیال

پیغام دانصاروروړ ښاغلی فضل الرحمن مروت تجوړی دمقصدی او جهادی شعرونو مجموعه ده چي څلورم چاپ یې د ۱۹۹۰ میلادی کال په اکتوبر کې په پیښور کې خپور شویدی ، لدې مخکې ددغه مجموعی لومړنی چاپ د ۱۹۹۰ کال په جولای کې په پیښور اودوهم چاپ یې د ۱۹۹۰ میلادی کال په اکتوبر کې په کراچی کې خپاره شوی دی - دکتاب خطاطی دپیښور مشهور پښتون خطاط لطف الله سوریزی کړی ده .

ددغی مجموعی اشعارله یوی مخی دکمونیزم په اصطلاح خیالی جنت !! اصلی ماهیت اوخونړی اووحشیانه څیره دلوستونکی مخی ته ږدی او ورسره دافغانستان دجهاد دحماسو اوحادثو یادونه کوی اودسره سیلاب په وړاندی دافغانانومیړنی او ویاړمن مقاومت ستایی او پری ویاړی او وار په وار ددغه حقیقت څرګندونی کوی چي دافغانستان دجهاد برکت ؤ چي له نړی څخه دکمونیزم تغر ټول شو او دغه غیور او مجاهد ولس دخپلوینو په تیلو داسلام دبرلاسی اودحق اوازادی ډیوی بلی اوځلنده وساتلی.

ددغه مجموعی اودهغه دویناوال یو ځانګړنه داهم ده چي ده خپله دیره موده دکمونیزم اواشتراکیت بابولالی غړولی اویو وخت ددغه الحادی نظریی له کلکو مدافعینو څخه ؤ خو دافغانستان دجهاد برکت ؤ چي نوموړی دکمونیزم ددوزخ په اصلی ماهیت او وحشت دزړه له تل څخه پوه شواو ددغه انسانی ضد نظریی پر ضد یې په مبارزه لاس پوری کړ.

له همدې ځایه ده چي دکتاب په پیل کی دپاکستان مشهور لیکوال او محقق او دجماعت اسلامی دفرهنګی چارو مسؤل خلیل احمد حامدی لیکي: ... زموږ ګران وروړ فضل الرحمن محسن له هغو کسانو څخه دی چي ډیر وخت یې دستالینزم سندری ویلی خواوس الله تعالی پرده رحم وکړ اوداسلام په رڼایې مشرف کړ چي د پیغام کتاب دده داسلامی جذباتو اواسلامی مینی عکاسی اوترجمانی کوی زموږ هیله ده په کوم جوش او هلو ځلو سره چي ده دکفراو کمونیزم تبلیغ کاوه له هغی زیات دالله تعالی ددین دترویج اوخدمت په لار کې هاند او زیار وباسی .

نوموړی دغیر معمولی قابلیت اواستعداد خاوند دی ، دخیال رفعت دده په هر شعرکې له ورایه ځلیږی ، زموږ باور دی که نوموړی خپل صلاحیتونه او استعداد په بشپړه توګه په کار واچوی نوکه خدای کول دکمونستانو ، نشنلستانواوبې دینوجړی به له بیخه پری کړی ، زموږ دعا ده چې الله ﷻ نوموړی په اسلام ثابت قدمه ولری.

ددغه مجموعی یوه بله ښیګړه او ځانګړتیا داهم ده چې له هر پښتو شعراو نظم سره دهغه اردو ترجمه هم په مقابل مخ کې وړاندی کړی شویده او پدې ډول هر پښتو نظم په اردو اړول شوی اودپاکستان اردو ژبو ته دافغانستان دجهاد دحادثو اوحماسو یو حسین بوږ نوونکی اورنګین تصویر وړاندی کړی شوی دی .

دپاکستان دجماعت اسلامی امیرسناتور قاضی حسین احمد په خپله لنډه یادونه کې لیکی : دلکونو غربیانو دوینو دضیاع نه پس دکمونیزم داپرده اوس څیری شوی ده ، زموږ وړور فضل الرحمن محسن چی دکمونستانو ددروغو جنت له نیژدی نه لیدلی دخپلو ښکلو او زړه راښکوونکو اشعارو په ذریعه داپرده نوره هم شلولی - دده پیغام دعامو خلکو لپاره دادی چې داسلام یخ سیوری ته راشی نو په امان به شی ، زما دعاده چې خدای پاك دده دا کوشش پخپله درګاه کې قبول کړی .

پدې پسی دشاعر خبری راځی چې هغه دخپلو اشعارو اوددغه مجموعه دټولولو اوخپراوی په اړه کړی ، پدې پسی دپښتو دنومیالی شاعر اولیکوال ډاکتر اقبال فنا سریزه (دمحسن پیغام) تر عنوان لاندی راځی چې په یوه برخه کې یې لیکی : ښاغلی محسن زموږ دځپلی ولس یوه بیناسترګه - دعصریو حساس اوباشعوره ځوان یو بیباك اوراسخ العقیده مسلمان او یو اور ژبی نظم ګو!!!

دخپل ولس دمحرومینوترجمان شاعر
دپت پښتو دننګ غیرت سحر البیان شاعر
دخوږ اسلام دعظمتونو قدر دان شاعر

دروانې لسیزی پدې اخرنی کلونو کې په افغانستان کې دروسی پوځونو دشرمیدلی ماتی اوپه جهانی سویه اوداخلی توګه دیو ډول بحرانونو سره دروس مخامخ کیدل په ورستو بنستونو ولاړ دمارکسیزم داقتصادی وینو خوړلی دسوسیالیزم عمارت دافغانی زلزلو پړق پړق وچاودلو ، که څه هم ګورباچوف دغو پریوتونکو دیوالونو ته کلاسنوست ستنی ولګولی خو ددغه مانۍ په برخه نسکوریدل لیکلی ؤ .

...لدې مخکی دسوسیالیزم مبلغینو په پښتو ادب کې دسورسحر، سور پسرلی اوسری ډولی غوندی سمبولونه رامنځ ته کړی ؤ .

له بده مرغه دپښتو ادب ځنی مشهور شخصیتونه هم دتش په نوم ترقی پسندی بهیرپه مخه واخیستل اودنشنلستانو په حلقو کې هم دسوسیالستانو نفوذ قوی شو اودیو لړ ظاهری غولوونکو شعارونو لاندی یې دنوی نسل ذهنونه مسموم‌ول شروع کړل خو دافغانستان جهاد ددې ټولوله اصلی ماهیت څخه پرده پورته کړه.

له همدی ځایه ده چې ښاغلی محسن وایی :

یوخواحسرت بل خوا تفنګ ولیکه
دادباطل او دحق جنګ ولیکه
بل خوا دځپلی خاوری ننګ ولیکه
کله یرغل چې په افغان وشو
دمارکسستانو لوی تاوان وشو

ای مؤرخه دوخت واخله قلم
دلوځ لغړ او دسامراج ترمنځه
یو خواته جبر تشددولیکه
دپښتنوتمبری وقهریدی
میدان ته ووتلی وجنګیدی

***

(او) سره انقلاب قامونه ړيروچيړل — سور انقلاب هيچاچيړلی نه ؤ
سور انقلاب به هميش نور ړزول — سور انقلاب چاړزولی نه ؤ
سورانقلاب به هميش نورپرزول — سور انقلاب چا پرزولی نه ؤ

***

بيابه دچاپه خاوره نه ورخيژی — . د مارکسستانو ډيرتاوان وشو
دکمونيزم جنازه ووته — ملگرو بيادتاريخ رنگ بدليږی
بيابه څلور کنجه دنياباندی — درحمتونو پسرلی خوريږی

له همدی ځايه ده چې دافغانانو دبرياليتوب په تعقيب دوارسا پکت په هيواد ونو کې دآزادی جذبو غزونی وکړی دشوروی اتحاد خپل اتحاد هم وشوريد. او هلته هم دخپلو اکی تحريکونه توپانی شول . پدې پسې دپښتو مشهور ليکوال ، محقق ، شاعر او ژورنالست دهيواد او نيزی چلوونکی سلطان محمد صابر يادونه راځی چې په يوه برخه کې يې راغلی دي : رښتيا خبره داده چې په چاباندی دخدای کرم او فضل وشی نو دهغه په زړه کې خپله مينه پيداکړی او هغه بيا په هغه مينه کې مست وی او دخپل محبوب له هر مخالف سره مخالف وی او ډغره ورسره وهی له همدی امله ده چې ښاغلی محسن خپل دې کتاب او نورو اثارو کې کمونيزم د فريب او تزوير پرده څيری کړی او اصل حقايق يې ترخپله وسه مسلمانانو ته ښکاره کړی ښاغلی صابر په پای کې خپلی خبری پدغه شعر ختموی

مصلحت دردين ماجنگ وشکوه

مصلحت دردين عيسی غاروکوه

دمرکزی پښتو ادبی کاروان سرپرست اعلی ښاغلی استاد بادشاه گل ديوتاثر ترعنوان لاندی دکتاب په هکله ليکی: . . . دمحسن پيغام به په اسلامی ديناکې يوانقلاب راولی او په زلموکې به هغه ولوله پيداکوی چې دنن زلموته يې ضرورت دی خاصکر چې محسن صاحب په نظمونوکې دباطلو نظريو کومه غندنه کړيده او دحق وينا کوم حق يې اداکړيدی دهغی نظير پخپله دمحسن صاحب تصنيف (پيغام) دی دکتاب نور٤٦ مخونه دډاکتر احسن سليم ، عطاالرحمن ، اختر منير تحيوري ، ډاکتر محمد يعقوب ، خواجه محبوب الهی . محمد سعيد رهبر ، سعيد خيل مروت ، خاکسار عبدالجليل او ماستر جمال يادونو او دکتاب او شاعر په رابطه وضاحتونو نيولی چې په اردو او پښتو ليکل شويدی . ورپسی نظمونه راځی چې په حمد او نعت يې پيلامه شويده او بيادانقلابی شعرونو وار رسيږی پدې توگه دکتاب ١٤٦ مخونه پښتو شعرونو او دهغی اردوژباړی نيولی دي.

کتاب په ښکلی قطع او صحافت په ١٩٢ مخونو کې چاپ شوی او لکه مخکی موچی وويل لومړنی ٤٦ مخونه يې دپوهانو او اديبانو مقدمو او تقريظونو نيولی دی پدغه مجموعه کې آزاد شعرونه ، لکه غزلی ، ترانی او نظمونه شامل دي چې ورسره يې اردوترجمه هم راغلی ده دکتاب په پای کې دکتاب په ورروستی دوتنه دکراچۍ دجماعت اسلامی دامير منورحسن يادونه او له هغی مخکی دشيخ محبوب علی او اشرف اعوان دکراچۍ دجماعت اسلامی دشرقی او غربی ضلعو داميرانو خبری دکتاب په رابطه لوستونکی نور هم دلوستلو له پاره ليواله او تږی کوی .

او لکه څنگه چې ددرنو پوهانو او ليکوالوله يادونو او اوتقريظونو څخه څرگنديږی داکتاب ديوه پيغام حامل دی او لکه څنگه چې له نامه څخه يې څرگنديږی ديوه داسی پيغام وړانگی او انگازی خپروی چې هغه نړی ته دسولی - سوکالی او سعادت زيری ورکوی او ديوی داسی نيکمرغه راتلونکی دجوړيدوبشارت ورکوی چې دهر ډول ظلم ، بی عدالتی ، او تيری مخه پکی نيول شوی وی او دراتلونکی دازيری دجهاد تداوم او داسلامی نظام قيام دی چې د ښاغلی محسن داپيغام دخپلو انقلابی شعرونو په ځولی کی رانغښتی او خلکوته يې وړاندی کړيدی .

پيغام دپښتو په مقصدی او انقلابی ادب کی ډيره درنه اضافه ده ؟چې دحق اوحقانيت پيغام به دوختونواو زمانو په بهير کی دخلکو زړونو اوذهنونو ته رسوی ځکه خو موږ ددغی مجموعی ويناوال ته ددغه ډول ادبی تخلقياتو په لار کې دلازيات توفيق دعاکوو اوددغه مجموعی دخپراوی مبارکی وړرته وايو .



ولسي ادبيات

مولوی جان محمد دولسی شاعری ځلانده ستوری

عوض الدين صديقي

کله چې دزړه په جونګړه کی یواځی ددردونو ، غمونو

، تراژیدیو اوبدبختیو بندار جوړشی ، هلته دغمونو او

دردونو په باب ګریدل پیل شی نوبیا طغیان کوی ،

پردی ځیری یابه داسویلو په بڼه له حنجرو راوځی

یاپرانګو داوښکو لیکی روانوی اویابه کړیکی کیږی

څکه دی چی رحمان بابا وایی :

«داعادت دی چی له درده ځګیروی خیژی »

« مولوی صاحب جان محمد » هم دهغو ولسی

شاعرانو څخه دی چی دزړه په جونګړه کی غمونو او

دردونو بنډار جوړ کړی ، ده یی دپالللو توان له لاسه

ورکړی اودشعر په ژبه یی هغه دخپلو وګړو سره

شریک کړی هغه وایی :

«... کله می چی دبی دینو کمونستانو ظلمونه ولیدل په

زړه کی می خلکو ته ددی ظلمونو درسولو جذبی

غزونی وکړی تکل می وکړ په یوه نه ، یوه بڼه داخلکو

ته ورسوم دشعر جذبه پری راړومبی شوه ، دی

دردونو ته یی دشعر ژبه ورکړه او تراوسه زه دخپلو

وګړو دردونه اوویاړونه دشعر په ژبه انځوروم ...»

دشهید وینی څاځې سرې لمبې دې چې توئیږي
دتورو شپو رڼا کــې دلـــر په شـــان څلیږي
دجهاد ختلی لمر دې کوی جنګ دتورو شپو سره　　رڼا هم په تکرده دکفـــر لـــه تیـارو سره
جهاد داتوم بم دې کافران ترینه داریږي
دتورو شپو رڼا کې دلـر په شان څلیږي
بازان دې چې تولیږي دجهاد په سنـــګروکـــې　　زمریان دې چې خوریږي دغزا په لویو غرو کې
هرڅنګ په وینو رنګ دې دلعل په شان ښکاریږي
دتورو شپو رڼا کې دلـرپه شـــان څلـــیږي
غزا کې یې ورك غـواړو زرده لاس ته به مور راشي　　ددیـــن او دوطـــن دازادی شپـــه به سبا شي
جهاد مو بریالی دې دښمنان به ویلی کیږي
دتورو شپو رڼا کې دلمر په شـــان څلیږي
جنګیږو دملحد سره دنیا موتمـــاشـــا کـــوي　　جـــهـــاد مـوخـودپه خوده فیصله دجینوا کوي
جهاد برق دجهان دې تول جهان پرې رڼا کیږي
دتورو شپو رنها کې دلـــرپـــه شـــان څلیږي
سپین ږیری اوځـــوانـــان مو فـــولاد غرونه　　راتـــلونکې شاته نسل مودسرو زرو کانونه
غیرت اوشجاعت موتاریخوته معلومیږي
دتورو شپو رڼا کې دلمر په شان څلیږي
جهاد مو په جهان کې تاریـــخونه جـــوړوي　　راتـــلـــونـــکې پـاتې نسل ته فلمونه جوړوي
ارمان دازادی موپه جهان کې پیاده کیږي
دتورو شپو رڼا کې دلـر په شـــان څلیږي
„ خادمه„صبروکړه تـــول ملـت به زر ازاد شي　　نجـــیب او دنجیب واړه ملګری به برباد شي
جهاد دحقانی ته غلیمان کله تـــم کیږي
دتورو شپو رڼا کې دلمر په شان څلیږي

مولوی جان محمد چې «خادم احمد » تخلص کوي دپکتیکا ولایت دارګون ولسوالی دباش دبهادرخیلو په کلی کې سترګې غړولی اودمولوی ګل محمد په نغری کې رالوی شوی ، په اوه کلنی کې دولسوالی په ښوونځی کې شامل کړای شوی ترشپږ کلنی زده کړې وروسته په عالی درجه فارغ شوی اوترهغې وروسته یې ۱۱ کاله دپکتیا اوپکتیکا په ولایتونو کې خپلې دینی زده کړې پر مخ بیولې ، اوه کاله دارګون په ولسوالی کې ښوونکی و اوچې کله په ۱۳۵۷ کال کې دکمونیزم دوحشت اوظلم توفان را والوت هرڅه ته یې شاکړه جهادی سنګر کې یې ځان وغورځاوه اودشعرژبه یې هم په ګړیدو شوه .
هغه په خپله وایي :

«... ماپه ۱۳۵۷ کال کی دشعر ویل پیل کړل اولومړۍ کس وم چی په ۱۳۵۷ کال کی می دحقانی صاحب دکور تر څنګ جومات په یوی غونډۍ کی شعر ووایه ...»

خادم صیب دشعري سنګردخپلولو ترڅنګ دارګون ولسوالی ترازادیدو پوری دکمونستانو او یرغلګروروسانوسره دغری وهلی اودارګون ولسوالی ترازادیدو وروسته یی یو کال دعبوری حکومت دحج اواوقافو وزارت دجمعیت العلماً په ریاست کی دنده سرته رسولی ، تر هغی وروسته دحقانی صاحب دمنشی په صفت ټاکل شوی او اوس هم دادنده پر مخ بیایی خوخادم صیب دنورو جهادی مصروفیتونو ترڅنګ دشعر سنګر هم خالی نه دی پریښی دروسانو او هغوی دګوډاګیانو ظلمونه او وحشتونه یی دشعر په ژبه خلکو ته رسولی اودمجاهدینو ویاړونه او کارنامی یی دنوږو اویاروتو له منځ څخه راباسلی اوابدی کړی یی دی ، هغه دیوه مجاهد مقام څومره ښه ستایی :

څوک چی اخلاص سره سنګر کی خدمتونه کوی
ولـــــــــی الـلـه (ج) دی ورتـــه خـیـــر دوی
چی په دښمن باندی هر دم تعرضـــــونه کوي
فـنـــافـــی الـلـــه (ج) دی ورتـــه خـیـــر دوی
ګګرسـرونه و چی شونډی په ګـــردو کی مدام
فولادی غر په شانی پروت په سنګرو کی مدام

په خـپـلـو ویـنـو بـانـدی لامـبـی په مـورچـو کـی مـدام

چی پاك الله (ج) لپاره دین کی تکلیفونه ګـــالی
حـــبـیـــب الـلـــه دی ورتـــه خـیـــر دوی
چی ملحدینو باندی غـــورځی زمریانو په شان
دجنګ په اور بـانـدی کـړیـږی پـتـنګـانو په شان

سـتـرګـی یـی سـری وی پـه حـمـلـو کـی دبـازانـو پـه شـان

ګلم جمان یی په لاسونو شکســتـــونه خــوری
دوی جـنـــدالـلـــه دی ورتـــه خـیـــر دوی
چی یی تـمـانـــکـو ته راکـــټونه په اوږوایښی دی
یایی دښمن ته خپل توپونه په مورچو ایښی دی

یـاجـهـازوتـه سـتـهـنـګـر پـه لاسـو ایـښـی دی

داسی کسانو سره رب ښه نصـــرتـونه کوی
مـحـب الـلـــه (ج) دی ورتـــه خـیـــر دوی
چی لوږه تنـده تـیـروی درب رضـــا لـپـاره
بی خوبه پټ وی په ګردو کی پاك الله (ج) لپاره

یـازحـمـتـونـه تـیـروی نـن دسـبـا لـپـاره

دوی په هنر اوصداقت ســـره جنـــګونـــه کوی
پـــه دیـــن فـــدادی ورتـــه خـیـــردوی
سنګر نشین په الله (ج) ګران ، دده میلمه دی مدام
داسلامـی ملـت غـمـخـور اوقـهـرمـان دی مـدام

چـی څـو جـنـګـیـری مـلائـیـکـو بـانـدی ګـران دی مـدام

خپل میلمه سره الله (ج) ښه کومکونه کـــوی
دوســت دالـــلـــه (ج) دی ورتـــه خـیـــر دوی
هـرمجاهد ، نجیب تـه تندر داسمان جـوړشوی
هـم ملحدینو تـه فرقـو کی ګورستان جوړشوی

کوراوصحرا هره مورچه ورته توپان جوړشوی

ښه خوش قسمته مجاهد دی چی داکارونه کوی لـوی جـان فـدادی ورتـه خـیـر دوی
ماته اوتیښته سـه سنګـاری ملـحـدینو سـره نـصرت اوفـتـح دالـلـه (ج) ده صـالـحـینو سره

خدای (ج) به ښه کاندی منافق اوقاعدینو سره
خادم جهاد او مجاهد ته سلامـونـه کـوی خـوښ پـه غـزادی ورتـه خـیـر دوی

خادم صیب په غم او ښادی کی خپلو وګړو ته لاس ورکړی ، کله که په کوم کور کی دویر تغر غوړیدلی یاپری دغم خپسی منګولی لګولی ده هم ځان ورسره شریک کړی اودشعر په ژبه یی دویراوغم دعاملینو له ښیری دمظلوم ښخه ددفاع !! پرده پورته کړی اوهغه یی رسوا کړی اوکه بیا کوم مجاهد روسان زغلولی دهغوی پزی یی په خاورو مښلی ، اوویاړونه یی ګټلی هغه ته یی دستایلو اومحبت غیږ پرانیستی اودمیړانی ګلان یی پری شیندلی .

«خادم صیب » ډیر زیات اشعارلری چی ښایی شمیر یی له (۲۵۰) اشعارو ښخه هم زیات وی له شعرونو یی په خپل آواز د۵۱ په شاوخوا کی کستونه ډک شوی چی هم دمجاهدینو له رادیو ګانو او هم په کمپونو کی د لودسپیکرونوله لاري خلکو ته اورول کیږی دلاندی شعرښو بیتونه یی سره لولو:

ځلوینښت زره لښکردی تیارکړی حقانی
یودم په ملحدینو دګردیز کوی حمـلـی
داخیر اوبرکت دی دشورا سرتاسـری
الله (ج) دشی ناصر دعاشقـان الهی
ګردیز په شاوخواکی یی جوړکړی سنګرونه توپچیانو یی نیولی دی پاخه پاخه ځایونه
سل قسمه توپونه تیارایښی په مورچی
یودم په ملحدینو دګردیز کوی حـمـلـی

دخوشحالي اتڼ

سيف مومند

خدای (ج) می دی نه گنهگاروی چی د ۱۹۹۱ کال دمی اووه ویشتمه نیټه وه که اته ویشتمه خو غالب یقین مې دی چی اته ویشتمه نیټه وه چی زه دخپالگی کیمپ ته دیوه دوست دلیدلو دپاره ورغلی وم کوم چې په نږدی ورځو کې د مدینی منوری نه راغلی وو. دهغه دوست سره چې حاجی بادشاه خان نومیده دملاقات نه پس دهغه دورور حاجی اصیل خان سره دباندی سیل دپاره ووتم. هلته دکمپ خواکی دکچه دیوالونو یو بازار گوتی وو دهغه ختیځ لوری ته دمکتب دخیمو سره یو میدان گی وو چیرته چی ځو زلمو دوالی بال لوبه کوله دالوبه زما هم ډیره خوښه ده دخوست په ښاری ځانگه او بیا دمیخانیك په لیسه کې مادالوبه ډیره کړی وه . خوکله چې د وطن دخپلواکی سوکالی اوامن سپوږمی تند ر ونیوه کله چې سرولښکروزموږ په پاکه خاوره خپل ناولی قدمونه کیښولی نو دهغه نه وروسته ما مکتب، والی بال او وطن ته په مخه ښه وویل بیا .... خو خیر لوبه ډیره ښه او خوندوره وه . کله کله به دکوم شوتر توپ دمقابل لوری په لوبغاړو لکه داوان مردکی ورپریوتو او ناستو کسانو به ورته دواه واه سره لاسونه وپړکول . ماپه ډیره مینه له لوبی نه خوند اخستو دلوبی په دوران کې یو وار زمونږ نه لږ لری کیڼ اړخ ته دیو ځو تنکیو ځوانانو خندا زما توجه ځان ته جلب کړه مامخ ورواړولو که کتل مې چې یو تور رنگی ځوان چی سری سری سترگی یې وی دنورو زلمو په منځ کې ناست وو خبری یې کولی او نورو ځوانانو ورته خندل . اول خوماگمان وکړ چې شاید کوم لیونی یا سودایی دی یا هسی گپ شپی دی او نور خلك خندوی خو هر کله چی زما ملگری اصیل خان راته وویل چې داځوان وینی ؟ داپه خوست کی خلقیانو نیولی وو ډیر کرنتونه تکلیفونه یې ورکړی دي او اوس یې دماغی توازن برابر نه دی . نو زما ځله لازیاته شوه ما غوښتل چی هغه ته ورشم او ورسره وغږیږم خو اصیل خان راته وویل چې هغه به دلته راوغواړم . اصیل خان چې هغه ته دراتگ له پاره گوته وښوروله نو هغه راپاخیدو او راروان شو او ورسره هغه ځوانان چی دده نه چاپیره ناست وو په ده پسی دلمنو او څادرونو په ښنهولو

سره داسي را روان شو . لکه په دکوم پیر پسی خپل مریدان یالکه په شاتو پسی مچی، ماهغه دستړی مشی نه وروسته دځان سره کیناوه او دهغه نه مې دهغه دبندی کیدو حال احوال وپوښتلو . هغه چې خپل دغمه ډك داستان راته تیر کړو نو زړه مې ودردیدو ما دهغه داستان یوه وړه غوندی خاکه دانځولیکله او اوریدونکی یې لوستوته راښولم او خپله له منځه ترینه وځم هغه داسی وویل چې زما نوم سید عمر دپلارنوم مې شاهسوار خان په خوست کی دکوندیو اوسیدونکی یم او فلحال په سپین تل کې دخپلې کورنۍ سره اوسیږم . ماچی څه وخت هجرت وکړو نو دپیرمرجان جبهه کې مې حان شامل او جهاد ته ادامه ورکړه په ریادی نه وی ډیرو محانونو ته تللی یم په ډیرو عملیاتو کې مې دخپل ایمان جوهر ښودلی دی دنن نه دری کاله وړاندی یوه شپه زه دخپلومجاهدینو وروئو سره دمحاذنه بیرته مرکزته راتلم چې زموږ دملگرونه یوشی چی متاسفانه اوس زما دماغوته نه راځی هم هلته دژرمنکی پوستی سره نږدی هیرشوی وو یوه ملگری وویل چې څوك به هغه شی راوړی . اگر چی هلته هم دبمونو خطره وه او هم دژوندی نیول کیدو خو بیا هم

ملگری تلو ته ښه په رکاب وو خو ما دټولو نه وار دسره کړو او ورروان شوم تر هغه ځایه خو په خیرخیریت وروړسیدم خو هر کله چی ما په تیته ملا دهغه سرخوړلی شی لټون کاوه نو زما په اوږو چا غبرگ لاسونه کیښودل او ور سره داخطار هم راکړی شو چې که معمولی حرکت دی وکړو نو بیادی خیرنشته ماچی هغوی ته وکتل نو پنځه شپږ کسان وو چی ټول په وسله سنبال وو . ماورته وویل چی څه چل دی ؟ لیونی شوی که ما ... زما خبره یوه راپریکړه اوراته وویل چی ښه ته لاخبرنه یې داشراربچیه تراوسه موقیامت رایاندی جوړوو اوس وایی چې لیونی شوی یی که څه ودریږه چې چل درته وښایم دکلاشنکوف بلوټ یې کش کړو خویل یوه ورته وویل چې ولی یې مه دویشتو نه یې ژوندی نیول ښه دي لنډه داچې زما نه یی وسله ټوله واخیسته لاس ، پښې یې رایاندی وتړلی او په یوه خیمه کې یې بند ی کړم کله چی لمر دمستر بل دغره له څوکی خپل کلالی مخ راڅرگند کړو نو زه یې خاد نظامی ته لاس تړلی په جیب کې ولیږلم . خاد نظامی ته په رسیدو زما هر کلی په خورا عقده او نفرت سره وشو . دموټرنه یې

راکوز کړم لاس پښې یې راباندی خلاص کړل مدیر ځان ته مخامخ ودرولم او دتپوسونو یوه نه ختمیدونکی لړی یې پیل کړه . دچا په جبهه کې یې ؟ مرکز موچیرته دی ؟څو کسان یې ، ولی .... دا او داسی نور سوالونه وو چې ماته یې پته نشته سره ځواب ورکولو چی مدیر ته پته ولگیده چې (دال می بال هی) نو دغصی نه تك تور سور شو او یوه برگ سترگی ته یې وویل چی : داغوایی سم کړه . هغه سړی په مابانـدی دوهلو پیل وکړو په لښتو یې دومره ووهلم چې رگ – رگ مې درد وکړ. داودریدو نه ووتم پړمخی په سیمیتی فرش را پریوتم . نور په ځان پوه نشوم خو دمدیر خاد داخبره چې اوس یې کوټه کې واچوی صبابه ورسره گورم لږه واوریده . نودځان نه خبرنه شوم چې کله مې دوهونو درد زیات شو او راویښ یې کړم نو په بنده کوټه کې پروت وم او زگیروی مې کول زما دزگیروی په اوریدو یو وسله وال څوکیدار دروازه خلاصه کړه او ما چې خلاصی دروازی نه بهر وکتل نو مازیگری لمر زیړی تبی نیولی وو او لمونځ په قضا کیدو و ماسوچ وکړو چی دازه دلته څنگه راغلی یم په ذهن مې زور واچولو . دښه سوچ

وهلو نه پس راته دشپې پيښبه رايـاده شـوه او نوجـود د دردونـو ځريکو هغه وهل او تکول هم را په يادکړل چې دلومړى ملاقات په وخت مـې خـوړلـې وو . ځـوکـيـدارڅـه سخـاشـورروا او څـه دتـورو کـوونـو سـره گډى وډى وريـجـى راوړى او ماته يى کيښوى گرچې زما زړه له خفگان نه گنډلى او وجود ټوټى ټوټى وو خو بيا هم زه ديوى شپى او يوى ورځې وډى وم نو بسم الله مې ورته تيره کړه او په خوړلو مې شروع وکړه چې هغه هر څه مى دخيټى دوزخ ته ورسول نو ايله نظر مې ولگيد و دازه چې پکى بندى وم نو دايو وړه شان کوټه وه مخامخ ورته نورى کوټى هم وى او دخلکو دخبرونه مې اندازه ولگوله چې کيڼ او ښـى اړخ تـه هـم کـوټـى شـتـه دځوکيدار نـه مـې داوداسه لپاره اوبه وغوښتى ما ويل چې دمازديگر لمونځ خو چې دماښتن – سحر او ماسپښين دلمونځونو غوندى رانه قضانه شى ځوکيدار او به راوړى او د اوداسه نه پس مې دمازديگر لمونځ اداکرو دتير ماسختن پورى په ارام وم خو چى سترگى مى سره ورغلـى نـو بـاران شـروع شـو زه حيران شوم چې بندهکوټه او باران ؟ خو چې پام مى ورته وکړونو يوه کس دکړکى نه چونگ چونگ او به راشيندلى تر ځو.خو ب ونه کړم او ښـه بى ارامـه شم دمـه پـه دمه بـه اوبـه راتلـى کـه اوبـه بـه نـه وى نـو دگزمـى نفرو بـه خوب ته نه پريښوم صبا چې مدير راغلو نو زه يې بيا وروغـوښـتـم دخـپـلـو مـرکـزونـو عـمـلـيـاتـووغـيـره پـه بـاره کـې يې سـوالـونـه رانـه وکـړل او مـادتـهولو سوالونو ځواب دپخوا په شان په نه يم خبرورکړومدير بيا دمرچکو غـونـډى تـه وخـتـو او ديـوه غـټ قـومـانـدان دنوم اخستو سره يې راته وويل چې : دفلانکى بچيه ته لاسم شوى نه يى ؟ صفا صفا حال راته ووايه چې ځان دى بچ شى که نه وى نـو مونږ تـه بلـه طريقـه هـم راځى . زه چوب ولاړوم داسـى مې هـم نه و يل چې چاته وايى ؟ هغه خپل سوالونه بياتکرارکړل خو چې ماځواب ورنکړنو يو ه ببرخولى ته يې وويل چې : ورشه هغه برقى ډنډه راوړه چې داد سړى ځوى کرم . هغه ډنډه راوړه او چې دوه کرنټه يې راکړل نو وجود مې ميږى ميږى شو سر راباندى وگرځيدو بياپه نور حالت نه وم خبر چې ما څه وويل او څه نه ؟ ژبه زما له واکه وتلى وه او په ځان نه يم پوه شوى خو چې بيا پـه هـوش کـى شـوم نـو ځـان مـې دنورو کسانو سره په کوټه کې وليدو . ماچى هغوى وکنډل نو يوکم لس کسان ووا و زما سره پوره لس شول . دهغوى دخيرنوچاموبيروسرونواو شغ شغيو ږيرونه داصفا معلوميده ، چې هغوى هم په همدى جهنم کې بنديان دي زه لا هماغه شان په ځمکه پروت وم هغوى ټولو ماته کتل چې زما لـړساه صورت پـه ارام شول نو له دوى سره مې په خبرو خوله کړه کړه ماچى دهغوى کړاونه تکليفونه واوريدل نو ودارشوم ځکه چى داچاړه ماهم په اوبو کې ځان ته ليده زړه مې وبوږنيدو خوبيا مې تـوکـل اوصـبـر پـه زړه لاسـونـه کيښودل زه اوس يوازى نه وم نور ملگرى هم راسره وو اودنورو په قول زموږ علاوه څلويښت کسان نـور هـم دلـتـه بـنـديـان وولـس لـس کسان په هره کوټه کې پراته وو چې په ټولو يې ژوند بار کړى وو بل سبا چې مدير راغى نوديوه سړى په خوله ددولسو کالو دقيد زيرى راولـيـږلـو کـيـداى شـى چـې مـا دکرنټونونه ورسته په بى هوشى ټول حال ويلى وى په نورو کسانو هم په چا پنځه په چا شپږ په چا لس دولس کاله اوپه چا له دينه هم زيات قيدونه ختلى وو ، زما دکوټى دځينو ملگرو جامى ددوى په غاړو زړى شوى وى ، زما خو دابنه وه چې پـه خوست کې مـې ترور زوى اوسيدل هـغوى بـه جامـى مـامـى

راوړی یوه ورځ دخوست دراړیو څوکسان خاد نظامی ته راغلل هلته یې موږ ته داول نه وویل چی موږ به له تاسی نه پوښتنی کوو اوتاسی به زموږ دخوښی سره سم ځوابونه راکوی ځکه چی موږ ستاسی خبری ټیپ کوواوبیا یی خپروو اول یې زما نه تپوس وکړ چې ښه ځوانه ! داوطن چاوران کړاوچا اباد کړو څوك ددې وطن اصلی زامن دې اوڅوك خائینان ؟ ما ورته وویل چې صاحبه ! داوطن تاسی وران کړو افغانستان مو په شورویانو باندی خرڅ کړو زموږ په مخکښنی شراب وکباب وهی لمونځونه تاسی نه پیژنی وطن خو تاسو ... زما خبره نوره نیمګړی پاتی شوه ځکه چی دیو خلقی دکلاشینکوف قنداغ زما خوله ښکل کړه دومره رټ یې ووهلم چې خوله مې له وینو نه ډکه شوه ، زه چې دوینو دتوکولو دپاره په ملا کې ټیټ شوم نو دوهم قنداغ می په ملا وخوړو ، څلورو زه په سمیټی فرش راپریوتم زما دنورو ملګرو چې زما حشر ولیدو نو زر ، زر یې ددوی په خوښه ددوی پوښتنو ته ځوابونه وویل داهم تیرشول ، دورځو نه یوه ورځ یې یو بل قیدی راوست ، ښه ګلالی ځوان وو ، زما غوندی هغه هم دځواب ورکولو نه انکار کولو موږ دبندی کرکی دپنجرو نه هغه ته کتل ، مدیر ور ته ډیر نرم ګرم شو خوچی په یوه طریقه هم قایل نه شو نو یوه بدبخته ته یې امر وکړو چې نوکونه ترینه وباسه ، دی مانه پیژنی ؟ هغه دانسان په جامه کې لیوه ور وړاندی شو اودهغه لاس یونوك یې په امبور کې ونیوه یو ځل یی بیا مهلت ورکړو چې ګوندی حال ووایی خوهغه چیرته حال ویلو بس بیا یی یوه جټکه ورکړه اودزلمی دخولی نه یوه زړه پریکوونکی کریکه ووته ، دګوتی نه یې وینی روانی شوی ځای په ځای یې دسیمټو په فرش دسرو ستورو کهکشان جوړکړو مدیر دغاښونو چیچلو سره ورته وویل چې :

څنګه ځوانه ! خوند یې څنګه دی ؟ حال وایی که دنورو نوکونو نه دی هم خلاص کړم ؟افرین شه په هغه زلمی هغه ورته تش داوویل چې خوند یې ښه دی راتله یی بیا څه وو؟ بیایی دهغه زلمی نه ټول نوکونه وویستل دهغه دهری سوی اولیونی کریکی سره به زموږ په زړونو کې دغم نیزی منډلی کیدی ، موږ به خالی یو بل ته سترګی سره واړولې.

دسرو اسویلو اودوخ وخ نه سیوامو په وس کی نور هیڅ نه وو پوره وروره !

دری کاله مې په دی جهنمیستان کې تیر کړل . دورځونه یوه ورځ څو کیدار ټیپ راوړو زمونږ کوټوته یې مخامخ کیښود او څو مره هوا چی پکی وه هغه یې ټوله ورکړه . مونږ یې په راز نه پوهیدوخو دومره ګمان کیده چې څه خوشته .

ورځ تیره شوه ماښام شو مادالله اکبر اواز واوریدو . ما ویل چی څوك نوی مسلمان شو ما خو په دادری کاله کی الله اکبر نه وو اوریدلی خو لږه شیبه وروسته زموږ مجاهدینو دخاد لویه دروازه ماته کړه او رانوتل دخاد په پخه وادنی کې دمجاهدینو دنعره تکبیر غږونو انګازی جوړې کړی چرته لری لاوسپیکر کی دحقانی زنده بادنعری وهل کیدی مونږ ټول بندیان بهر دبندی خانی انګړ ته راووتو او هم هلته مو د غم په جیل خانه کې هم هغه دخلقیانو ټیپ ته دخوشحالی اتڼ واچولو او دا دخوست دفتحی ورځ وه.

د۱۹۹۱ کال دجون ۲۷

راغلي ليکونه

داځل هم دپاکستان له ګوټ ګوټ او په بهرنيو هيوادونو کې دميشته مهاجرينو له خوا زيات شميرليکونه دفرهنګي ټولنې په نوم رارسيدلي دي .

دغوورونو دخپلو ليکونو په ترڅ کې دمنبع الجهاد مجله چې له هر ډول حزبي -سيمه ايز و او قومي تعصباتو او ګرايشونو څخه پاکه ده دښه صحافت او په زړه پوري مضامينو ستاينه کړې څنو ورونو دمجلې دنه رسيدو شکايت کړی او ځينو خپل ادرسونه راليږلي او دمجلې غوښتنه يې کړيده مونږ دليکونو زياتوالي په خاطر دڅنو ورونونومونه او ادرسونه دلته راوړو او دڅنو نورو دليکونو ځنې برخې خپروو .

دصوابي کوهاټي – برکي کمپ څخه ډاکتر تازه خان «دلسوز » دګوجرانواله – فيروز واله روډ سيرانو ، باغ مظاهرالعلوم مدرسې څخه محمد يوسف « ايوب زاده » دهريپور مين بازار نعيم ميډيکل سټور څخه محمد ابراهيم مجاهد دکوهاټ ضلعې هنګو تحصيل ډاکخانه زياب څخه حبيب جلا جلا ليکونه راليږلي او ترټولو وروميی يې دافغانستان دجهاد لوی قوماندان دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدين حقاني او دده ټولو همسنګرو همکارانو او مجاهدينو ته دزړه له کومې نيکې هيلې او سلامونه وړاندې کړي. او بيايي دمجلې صحافت او پاليسي ستايلې او څنو ورونو مجلې دليږلو غوښتنه کړې مونږ ددې ترڅنګ د ي ورونو ته ډاډورکوو چې انشاالله ترډې وروسته به مجلې ددوی په ادرس وزليږو .

همدارنګه محمديوسف « ايوب زاده » ليکې چې دايواځينې مجله ده چې زمونږ تنده پرې ماته شوه دمجلې په زړه پورې مضامينو که له يوه پلوه زماتنده ماته کړيده له بل پلوه يې دنوی ګنې چا پکيدوته هم تږی کړی يم .

دحصارې کمپ څخه هريو طالب العلم حنيفي ، محمد رفيق . محمد رحيم ، علميار ، ميني او خلوص نه ډک سلامونه دمنبع الجهاد مجلې کارکوونکوته راليږلي او ليکې دمنبع الجهاد دمجلې په باب به دومره ووايو له کله راهيسې چې مونږ دامجله ګورويقيناً داويلی شو چې دامجله په ډيروبهرنيو ، جهادی سياسي تاريخي ، مضامينو باندې مشتمله ده خو متاسفانه مونږ ورڅخه بې برخې يو. اخترجان « شرافت » دپکتياولايت دبنو زايو کلې اوسيدونکي دهريپور له پولسم نمبرکمپ څخه دپکتيا ولايت عمومي قوماندان او دخوست فاتح محترم مولوی جلال الدين حقاني او دفرهنګي ټولنې غړوته له سلامونو وړاندې کولو وروسته ليکې .

واقعاًمنبع الجهاد هغه مجله ده چې دبې وزلو او مظلومو افغانانو فرياد او دجهادواقعيتونه ددنيا ګوټ ګوټ ته رسوي دغه ورور وړاندې ليکې :دمنبع الجهاد مجلې په ويلو سره

داراته معلومه شوه چی مجله چی ځومره په علمی ، ادبی او سیاسی لحاظ ښایسته ده داټول ستاسو دنه ستړیدونکو خدمتونو او شپی ورځی فعا لیت نتیجه ده . خدای موله دې هم زیات کامیابه او بریالی لره .

دغه ورورپه پای کی دفرهنگی موادو غوښتنه کړیده چي وروبه لیږل شي کوهاټ ضلع هنگو تحصیل ډاکخانه – دارلعلوم سراج السلام کاهی څخه طالب العلم محمود «حامد » لیك راليږلی چې مونږیي ځینی مهم ټکی رااخلو .

به کارکنان محترم منبع الجهاد وجهاد هنداره السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته هفته نامه شماره (٤٣) جهادهنداره را مطالعه نمودم که بامضامین بسیار ارزنده محتوی بود بالاحض مضمون تحت « دامت تقاضا او واحده کړنلاره » و از همه جالب ترنامه صادقانه و مخلصانه جناب محترم مولوی صاحب محمد یونس خالص که تحت عنوان (کویټی ته لنډ سفر) تحریر یافته بود چشم مطالعه کننده را به خود جلب مینمود . واقعاً هفته نامه جهادهنداره ترجمان سنگر داران جهاد مقدس ملت قهرمان و متدین ماست من فکر میکنم که هفته نامه جهاد هنداره این مسوولیت بزرگ ایکه بدوش گرفته اند به خوبی انجام میدهد . مضامین ادبی و اشعار جهادی هفته نامه خیلی جالب و خواندنی ونیزترجمان واقعی جهاد مقدس ما است از خداوند متعال به تمام سنگرداران جهاد مقد س و همکاران و کارکنان موفقیت های هر چه بیشتر تمنا دارم به امید پیروزی هر چه بیشتر شما .

له ناروی څخه ددعوت مجلی مدیر مجاهد ورور محمد طارق بریالی لیکی:

ډیرقدرمن او مجاهد ورور الحاج ننگیال صاحب سلامونه او نیکی هیلی می ومنی . دښه صحت او کامیابه ژوند غوښتونکی مویم مامخکی یوځو کرښی لیك درلیږلی وُ او په هغه کی می دفرهمگی ټولنی دموادو نه رسیدوڅخه درته گیله کړی و ه.

په هر صورت دفرهنگی ټولنی ښکلی او په زړه پوری جهادهنداره اونیزه، منبع الجهاد نصرت الجهاد مجلی راورسیدی او په رسیدو یې دومره خوښي راپه برخه شوه لکه چی چا خپله ورکه خزانه پیداکړی وی ددې ځو تکو په لیکلو سره تاسی او دفرهنگی ټولنی مجاهد ورورنو څخه مننه کوم.

تاسی ټولو مجاهدو ورونو ته دې لوی او مهربان خدای (ج) بریالیتوبونه په نصیب کړی . گران او خوږ افغانستان دې لو ی خدای (ج) ډیر ژر خپلواك او افغان ولس په خوښه دې پکی اسلامی حکومت جوړ کړی . ترڅو ټول ددې دربدری څخه خلاص او خپل تباه شوی ټاټوبی خاوره مو په سترگو پوری شی نورمو په لوی خدای سپارم

ستاسی ورورمحمد طارق بریالی

ددعو ت دجریدی مدیر

همدارنگه له ابوظبی څخه زموږ محترم ورورشاه حسین «مشغول » په خپل لیك کي دفرهنگی ټولنی کارکوونکو ته له سلامونو وراندی کولو وروسته لیکی ، منبع الجهاد مجله دکمیت اوکیفیت له لحاظه ډیر عالی مجله ده چی نوری مجلی اوجریدی ورته عاجزی دي ددې لوی دلیل دادی چې دمنبع الجهاد په مجله کی دروغ نشته حقیقتونه برملا کوی اودمجاهدینو اتلوالی منعکس کوی دغه ورور لیکی : مادشعرونو یوه مجموعه تیاره کړی غواړم چې چاپ شی.

موږپه ډیر درناوی دغه ورور ته عرض کوو چې موږ له گنهو اقتصادی ستونزو سره مخامخ یو اودکتابونو دچاپ هیڅ مخه نه وینو ، که تاسی یی دچاپ لگښت په غاړه اخلی موږته ولیکی چی دچاپ په هکله اقدام وکړو .

په درناوی

حوادث داغ :

جهان در ماه اسد

جمیل الرحمن «سائل»

۲ اسد – صدای امریکا :

وزیر دفاع حکومت هند «پاراو» اظهار نموده است که اگر پاکستان به شورشیان ضد دولتی هند دردوایالت «پنجاب وکشمیر» اسلحه بدهد و بالنها مساعدت نماید ، دران صورت هند به عمل متقابل دست خواهد زد. حکومت پاکستان همچو اتهامات هند رارد نموده است .

۳ اسد – بی ، بی ، سی :

گورباچف منشی حزب کمونست روسیه درسخنرانی ۲۵ جولای پلینوم کمیته مرکزی ان حزب گفت ، در ظرف یکنیم سال گذشته اضافه ازچهار ملیون نفر از حزب کمونست خارج گردیده وحزب را ترک گفته اند .

البته این کار دلالت بربیزاری مردم روسیه ازکمونیزم مینماید.

٦اسد – صدای امریکا :

حکومت کویت برای اولین بار بعد از جنگ خلیج به صادرات نفت خود اغاز کرد ، وامروز دوملیون بیرل نفت راازطریق بندر «الاحمدی »به اروپا ویا امریکافرستاد.

۷ اسد – بی ، بی ، سی :

مطابق راپورهای رسیده مجاهدین افغان ولسوالی های رستاق ، دشت قلعه و ینگی قلعه ولایت تخار رامتصرف شدند.

***

سردار عبدالقیوم بحیث صدراعظم ازاد کشمیر تعیین شد ، حزب وی «کنفرانس اسلامی » درانتخابات اخیر بیشترین کرسی های پارلمان ان ایالت رابدست اورده بود.

۸ اسد – بی ، بی ، سی :

جورج بش رئیس جمهور امریکا وارد مسکو گردید ، وی میخواهد باگورباچف منشي حزب کمونست روسیه درباره تقلیل مواد ذروی ، معضلات داخل روسیه واوضاع منطقه صحبت نماید ، این چهارمین ملاقات بین سران دوکشور روسیه وامریکا می باشد.

جورج بش وعده داد که به روسیه امتیازات تجارتی بدهد . این پیشنهاد برای اولین بار از طرف بریژنیف صورت گرفته بود ، که رئیس جمهور وقت امریکا نکسن آنرارد

نموده بود ، واینك گورباچف موفق به اخذ این امتیاز گردید.

۸ اسد – تلویزیون پاکستان :

روسای جمهور، لیتوانیا وجمهوری فدراسیون روسیه طی یك معاهده ای ازادی یکدیگر رابرسیمت شناختند .

بوریس یلتسین رئیس فدراسیون روسیه گفت لیتوانیا یك کشور خود مختار وازاد بود ولی درسال ۱۹٤۷باقوت اسلحه اسیر روسیه بلشویکي گردانیده شد ، این اقدام که درحین ملاقات سران روسیه وامریکا صورت گرفته است ازاهمیت خاصي برخوردارمی باشد .

۸ اسد – جراید جهادی :

بعد ازنشست بزرگ دوروزه مجاهدین افغان – پاکستان وایران دراسلام آباد به این نکته موافقه صورت گرفت که نجیب یك عنصر مزدور بوده و رژیم وی غیر قانونی مي باشد باید درعوض ان حکومت اسلامی در افغانستان قایم گردد ، درباره طرح اخیر موسسه ملل متحد گفته شد که این طرح کامل نیست والبته بعضی نکات مثبت دران بملاحظه میرسد وان هم ایجاب وقت ومطالعه بیشتری رامی نماید .

نمایئده حکومت پاکستان درین کنفرانس اقای اکرم ذکی ونماینده حکومت ایران اقای ولایتی وزیر خارجه ان کشور بود که بتاریخ ۲۸ جولای بخاطر اشتراك درین کنفرانس وارد اسلام اباد گردیده بود .

نماینده تنظیم اتحاد اسلامی افغانستان بعنوان اعتراض برحکومت ایران شرکت درین کنفرانس راتحریم نمود وعلل این اقدام خود را چنین بیان کرد :

۱– ایرانیان می خواستند که این کنفرانس چهار جهت داشته باشد ایران – پاکستان – تنظیم های جهادی مقیم پاکستان – وگروپ های مقیم ایران ، که این عمل جز تجزیه افغانستان چیزی ببار نخواهد اورد .

۲– ایران خواهان بدست اوردن حقوق بیشتر برای طرفداران خود بود که این کار دخالت مستقیم درامور داخلی مامی باشد

۳– انها میکوشیدند طرح اخیر موسسه ملل متحد رابرماتحمیل کنند .

درحالیکه مانمیخواهیم درامور داخلی ما دیگران مداخلت نمایند ، ونه طرح های تحمیل شده راقبول داریم ونه هم به کسی اجازه میدهیم که سبب تجزیه کشور عزیز ما شود.

۹ اسد – صدای امریکا :

بینن سیوان نماینده خاص سرمنشی موسسه ملل متحد گفته است که این موسسه از جمله کمك های که بخاطر بازسازی افغانستان می فرستاد ، ۳۱ ملیون دالر انرا کاسته است علت این اقدام را تقلیل مساعدات ونبودن بودجه تذکرداده است .

۱۰ اسد – صدای امریکا :

جیمز بیکر وزیر خارجه امریکا وارد فلسطین اشغالی شد ،این ششمین سفر وی به ان کشور بعد از جنگ خلیج میباشد ، وی اکنون میکوشد تارهبران یهود را قناعت بدهد که درکنفرانس صلح خاور میانه ازخود انعطاف نشان بدهند .

۱۲اسد – بی ، بی ، سی :

طبق گزارشات رسیده از ولایت بدخشان مجاهدین افغان موفق گردیدند که ولسوالی واخان رابدست اورند .

واخان یك نقطه خیلی مهم کشور می باشد سرحدات حکومت چین ، تاجکستان اشغالی – وپاکستان راباافغانستان وصل می سازد .

۱۲اسد – جریده الاتحاد امارات

مسوولین جریده «الاتحاد »که درامارات بنشر میرسد یك اجتماعی رابنام «جهاد افغانستان در میان پیروزیها وخطرها » دایر نموده بودند که دران برعلاوه شخصیت های مطبوعاتی محترم مولوي جلال الدین حقانی فرمانده

مشهور جهاد نیز اشتراك ورزیده بود ، وی درباره قضایای مهم جهاد روشنی انداخت و دسایس دشمنان را بر ملا ساخت . محترم حقانی گفت مطبوعات غرب اکنون بر علیه جهاد ومجاهدین تبلیغات سو می کنند زیرا انها از تاسیس حکومت اسلامی در افغانستان سخت خوف دارند . وی افزود ماخواهان جنگ نیستیم بلکه این جنگ بر ما تحمیل شده است . دراخیر عده از خبرنگاران ازمحترم حقانی راجع به اوضاع فعلی جهاد سوالهای نمودند که به انها جواب داده شد.

۱۳ اسد – صدای امریکا :

بیستمین کنفرانس وزرای خارجه کشور های اسلامی درشهر استانبول ترکیه تشکیل گردید ، این کنفرانس مدت پنج روز دوام خواهد نمود ووزرای خارجه ٤٥ کشوراسلامي دران اشتراك دارند .

هیئت پنج نفری مجاهدین بریاست محترم استاد ربانی وارد ترکیه گردید تادرین کنفرانس اشتراك نمایند .

باتاسف باید گفت که تا اکنون هیچ مسله مهمی ازقضایای کشورهای اسلامي ذریعه کنفرانس مذکور حل نگردیده است .

۱۵ اسد – بی ، بی ، سی :

نشست عاجل وزرای خارجه کشور های اروپایی که درشهر لاهه تشکیل شده بود پایان یافت موضع بحث این اجتماع بررسی مشکلات یوگوسلاویا بود درین گرد هم ایی گفته شد که باید دران کشور جنگ بندی فوری صورت گیرد وازشورای امنیت خواسته شد تادرحل این مشکل اقدام جدی نماید.

۱۷ اسد – صدای امریکا :

دوکتور شاه پور بختیار اخرین صدراعظم دوره شاهنشاهی ایران از طرف اشخاص ناشناسی در پاریس بقتل رسید ، وی از جمله شخصیت های ملی ایران بود وبعد از پیروزی انقلاب در فرانسه زندگی میکرد .

حکومت ایران اتهام قتل وی راکه گفته می شود ازطرف انها کشته شده است رد نمود وگفت ممکن بختیار بدست کسانی کشته شده باشد که خواهان بهبود روابط ایران و فرانسه نیستند ویاهم گروه های دیگر مخالف انقلاب به چنین عملي دست زده اند.

۲۱ اسد – تلویزیون پاکستان :

یك هیئت روسی بریاست نیکولای کوزیروف معاون وزیر خارجه روسیه ومسول امور افغانستان وارد اسلام آباد گردید هیئت بارئیس دولت وصدراعظم پاکستان ملاقات نمود انها درباره قضایای مورد علاقه وخصوصا قضیه افغانستان باهم صحبت نمودند این هیئت که بتاریخ ۱۱ اگست وارد پاکستان گردیده بود بایك هیئت مجاهدین بریاست محترم مولوی محمد نبی محمدی نیز ملاقات نمود .

محترم مولوی محمد نبی محمدی به هیئت روسی گفت : افغانها خواهان روابط نیك با روسیه اند وباید روسها از مساعدت رژیم دست نشانده که ادامه مداخله انهاست دست بردار شوند.

این سومین مذاکره مستقیم روسها ومجاهدین افغان است .

محترم استاد ربانی یك اسیرروسی را نیز به این هیئت تسلیم نمود و در مقابل خواستار رهایي ۲۵ تن مجاهد محبوس اززندانهای رژیم کابل گردید.

۲۲ اسد – صدای امریکا:

رژیم دست نشانده ، جریده ازادی راکه درکابل نشر می شد مصادره نمود،ومسوول ان اقای غلام سخی غیرت را زندانی ساخت،درین جریده اکثرا مضامین انتقادی به نشر میرسید رژیم کابل این جریده را بیانگر عقاید حکمتیارخوانده‌است .

***

مطابق پیام مخابروی شورای نظار مذاکراتی بین روسها ومجاهدین درسرحدات ولسوالی اشکاشم بدخشان صورت گرفته است . درین مذاکرات گفته شده است که باید مجاهدین وروسهابه خاك یکدیگر تجاوز نکنند ، مجاهدین باید به فراریان روسی پناه ندهند ودروقت خطرذریعه تیلفون با روسهاتماس بر قرار نمایند ، نمایندگان مجاهدین شورای نظار تماس تیلفونی رارد نموده وگفته اند دروقت ضرورت باید روسها بیرق های سفید را به هوابلند نمایند ، ودرمورد دوشرط اول مجاهدین گفته اند که بعد از غور وبررسی بشما اطلاع خواهیم داد ، بعد از خروج قوای روسی این اولین بار است که روسها مستقیما با مجاهدین درحال نبرد تماس بر قرار مینمایند .

۲۳ اسد – بی ، بی ، سی :

شهریار خان کفیل وزارت خارجه پاکستان گفته است که کشور متبوعش درنظر دارد تابخاطر یافتن راه حل برای قضیه افغانستان یك کنفرانسی راتشکیل بدهد که دران نمایندگان کشور های امریکا ، روسیه ، ایران ، سعودی وپاکستان شرکت داشته باشند.

۲۵ اسد– صدای امریکا :

جنرال میرزااسلم بیك رئیس قوای بري پاکستان طی مراسم خاصی که از طرف غلام اسحق خان رئیس دولت پاکستان تشکیل شده بود ازمقامش رسماً سبکدوش گردید. وبعوض وی جنرال اصف نواز جنجوعه که قبلا نامزد این مقام گردیده بود مقررگردید .

اسلم بیك سه سال قبل یعنی بعد از مرگ جنرال محمد ضیاالحق به این سمت رسید . درطول بیست سال اخیر این اولین باری بود که رئیس قوای بري پاکستان درفضای ارام تقاعد نمود.

***

شورای امنیت موسسه ملل متحد طی قطعنامه ای بعراق اجازه داد تایك مقدار معین نفت خود را بفروش برساند ، پول مذکور درصندوق موسسه ملل متحد جمع خواهد شد که یك حصه ان بعراق ومتباقی مربوط خسارات جنگ خلیج خواهد گردید.

۲٦ اسد – رادیو ایران: .

رهبران جبهه نجات اسلامی الجزایر که اکنون درزندان بسر می برند دست به اعتصاب غذایی زده ند ، درواقع این عمل انها فشار برحکومت شاذلی بن جدید می باشد تاقانون فعلی ان کشور را تغییر بدهد .

۲٦ اسد – بی ، بی ، سی :

الکساندر یاکوفلوف که از جمله نظریه پردازان حزب کمونست روسیه ونیز از بنیانگذاران ومبتکرین سیاست پروستوریکا وگلاسنوست می باشد ، ازعضویت حزب کمونست استعفا داد وگفت بیم ان میرود که یك گروه استالینست قدرت رابدست گیرند وي گفت این گروه درخفا درپی بدست اوردن قدرت مي باشند .

۲۷ اسد – صدای امریکا:

نماینده دولت یهود درموسسه ملل متحد اظهار داشته است که اگر درباره ۷ تن اسیراسرائیلی معلومات مفصل داده شود دران صورت اسرائیل ۳۷۵ تن اسیر فلسطینی ولبنانی را رها خواهد ساخت.

۲۷ اسد –۰ تلویزیون پاکستان :

دراثر بمباردمان وحشیانه رژیم مزدور کابل درولایات بدخشان وکندز بتعداد ۱۰۰ تن شهید وعده زیادی زخمی گردیده اند گفته شده است که رژیم این کار را بخاطر جلو گیری از پیش روی مجاهدین ویاهم انتقام ازشکست های پی درپی اخیر خویش نموده است.

۲۸ اسد – هند – بی ، بی ، سی – صدای امریکا –مسکو :

بنابه گزارش رادیو مسکو گورباچوف ازمنصبش عزل ودرعوض وی گنادی یانایوف معاون اوبحیث رئیس حکومت تعیین شد .

حکومت جدید دراکثر حصص روسیه برای مدت شش ماه احضارات نمبر ۱ رااعلان نمود بعد از شنیدن این خبر مردم روسیه دست به برپایی مظاهرات زدند .

ویکبار دیگر بیاد پادشاه گردشی های روسیه افتادند که اکثراً توسط شاگردان استالین صورت گرفته است .

بوریس یلتسین رئیس فدراسیون روسیه خود شخصا درمظاهرات مردم اشتراك ورزید ومظاهره چیان را ترغیب به دوام اعتصابات برضد حکومت جدید نمود.

برنامه ریزان کودتا هشت نفرمي باشند که مشهور ترین انها گنادی یانایوف ، پاولوف ، ولادیمیر کریچکوف رئیس K. G. B وبوریس پگومي باشند.

رهبران کشورهای غربی بر کناری گورباچوف رایك عمل نادرست تلقی نمودند وازوی تمجید وتوصیف کردند !!

گنادی یانایوف دراولین پیام رادیو تلویزیونی خویش علت عزل گورباچف راناکامی وی درکارهای دولتی ونیز مریضی شدید وی خواند!!

یانایوف شخص مورد اعتماد گورباچف بود وسال گذشته بصفت معاون وی تعیین شد وی اصلا گرجه ای ویك کمونست کهنه کار است .

قابل تذکر است که درجریان این کودتا گورباچف درکریمیامصروف گذراندن رخصتی خویش بود ، وبنا به قول بوریس یلتسین اکنون وی درهمانجا از طرف کودتاچیان زندانی ساخته شده است ، وازوی خبری نیست.

گورباچف ٦۰ سال عمر دارد ودرسال ۱۹۸٥ بحیث رئیس حزب کمونست روسیه تعیین گردید.

۲۹ اسد – صدای امریکا :

حکومت عراق تحولات اخیر روسیه را ستود وگفت اکنون باردیگرتعادل قوای جهانی برقرار شده وآمریت امریکا ختم می گردد.

قذافی تحولات آخیر روسیه رانیك دانسته وگفت گورباچف به عربها خیانت نمود وازداعیه انها حمایت نکرد ، قذافی اولین کسی بود که به رهبران کودتا پیام تبریکی فرستاد.

سرمنشی موسسه ملل متحد وقایع اخیر روسیه را مسایل داخلی ان کشور خواند وگفت : روسیه عضو دایمی شورای امنیت ملل متحد بوده ودارای حق ویتو می باشد.

۳۰ اسد– بی ، بی ، سی – صدای امریکا:

اجلاس وزرای خارجه کشور های شامل پیمان ناتو شروع شده بود که خبرناکامی کودتای اخیر روسیه پخش گردید وگفته شد که کودتاچیان یافرار نموده ویاهم دستگیر شده اند.

وزیر خارجه روسیه بستمرنیخ برای اولین بار پس ازکودتا درصفحه تلویزیون ظاهر شد وگفت باید گورباچف به مسکو برگردد وآنچه بروی گذشته آنرا شرح دهد.

کودتا وقتی ناکام شد که مردم نگذاشتند تانکهای آنها بداخل پارلمان روسیه برود مردم آنها را مجبور ساختند تابیرق های ملی را درعوض بیرق های حزبی برتانکها نصب کنند.

بزرگترین نقش رادر بر اندازی کودتا بوریس یلتسین رئیس فدراسیون روسیه بعهده داشت وی که زمانی از بزرگترین رقیبان گورباچف شمرده می شد طی دو روز اخیر از وی بشدت دفاع نمود. پارلمان روسیه یکبار دیگر گورباچف رابحیث رئیس تعیین نموده وهمه مقررات دو روز قبل را لغو قرار داد .

۳۱ اسد – بی، بی ، سی :

گرباچوف دوباره وارد مسکو گردید وی از بوریس یلتسین وجهان غرب ابراز امتنان نمود که درجریان کودتا موقف شایسته ای را درپیش گرفتند ، حکومت طی فرمانی خواستار گرفتاری کودتاچیان گردید.

همه کودتاچیان گرفتار شدند، بجز «بوریس پکو» وزیر داخله سابق که خود کشی نموده است.

ابدي ژوندي

شهيد گل كمينْ

شهيد گل كمين دامين خان زوى دپكتيا ولايت دخوست دلويى ولسوالى دسدكى كلى اوسيدونكى او په قوم سدك ۋ.
نومړى په افغانستان كې دثور كودتا دكيدو څخه وروسته دكمونستانو په مقابل كې په وسله وال جهاد پيل كړى او دجهاد په دوران كې يې ددين او وطن دښمنانو په مقابله كى په ميړانه جنگيدلى او هغوى ته يې زيات ځانى او مالى تاوانونه وراړولى دي .
دغه زړورمجاهددخوست دفتحى په عملياتو كى په ۱۳۷۰/۱/۲نيټه دكجيروكلى پوسته باندى دورختلو په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسيد.
انالله واناالیه راجعون



شهيد عزيز خان

شهيد عزيز خان دمروت خان زوى دپكتياولايت دخوست دلويى ولسوالى دسدك كلى اوسيدونكى او په قوم سدك ۋ.
نومړى په افغانستان كې دثور كودتا دكيدووروسته دكمونستانو په مقابل كې وسله وال جهاد پيل كړى او دجهاد په دوران كې يې ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه وراړولى دي .
بالاخره دغه نوميالى مجاهد دخوست دفتحى په عملياتو كې په ۱۳۷۰/۱/۱نيټه دويسارپوسته باندى دحملى په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسيد.
اناالله وناالیه راجعون

شهيد نو رو لى

شهيد نورولى خان دمت خان زوى په ۱۳٤۸هـ ش كال دپكتيا ولايت د خوست دلويى ولسوالى دلكنو دخرڅينو په كلى كې زيريدلى ۋ.
نومړى په افغانستان كې دثوردكودتاد رامنځته كيدو وروسته يې پاكستان ته هجرت كړى او دهجرت سره سم يې دكمونستانو په مقابل كې وسله وال جهاد پيل كړى او دجها دپه دوران كې يې ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه ور اړولى .
دغه نوميالى مجاهد دخوست دفتحى په عملياتو كې په ۱۳۷۰/۱/۸ نيټه دخوست نوى هوايى ډگر سره نږدى دشهادت لوړمقام ته ورسيد.
انالله وانا اليه راجعون

شهيد محمد دين

شهيدمحمد دين د روښه دين زوى دپكتياولايت ددرگى ولسوالۍ كې زيږيدلى او په قوم دلغړى پيرۍ.

نوموړى دكم سن په لرلو سره دكمونستانو په مقابل كى په وسله وال جهاد پيل كړى او دجهاد په دوران كــې يــې ددين او وطــن دښمنانو ته زيات ځانى او مالى تاوانونه وراړولى دي .

دغه زړورمجاهدپه ډيروعملياتو كي برخه اخيستي وه او بالاخره د ۱۳۶۹/۶/۳۰نيته ددښمن د توپ په مرمى ولگيد او دشهادت لوړمقام ته ورسيد.

اناالله واناالیه راجعون

شهيد سيد اكبر

شهيد سيداكبر خان د طالب زوى په ۱۳۵۲ هـ ش كال دپكتيا ولايت د خوست د لويى ولسوالۍ د لكنو دخرڅينو په كلى كې زيږيدلى ؤ.

نوموړى په افغانستان كې دڅور كودتا څخه وروسته په وسله وال جهاد پيل وكړ او دجهاد په دوران كې يې ددين او وطن دښمنانو په مقابله كې په ميرانه وجنگيد .

دغه زړورمجاهد دخوست دفتحى په عملياتوكې په ۱۳۷۰/۱/۱ نيته دخوست نوى هـوايـى ډگر كـې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

اناالله واناالیه راجعون

شهيد كامل خان

شهيد كامل خان درسول خان زوى په ۱۳۵۳ هـ ش كال د پكتياولايت د باك علاقدارى دبكرخيلو دكوتكى په كلى كې زيږيدلى ؤ .

نوموړى دخپل كم سن په لرلو سره دكمونستانو په مقابل كى وسله وال جهاد دپاره وسله په لاس واخيسته او دجهاد په دوران كې يې ددين او وطن دښمنانو ته زيات مالى او ځانى تاوانونه وراړولى .

بالاخره دغه نوميالى مجاهد دخوست دفتحى په عملياتوكې په ۱۳۷۰/۱/۱نيته دويسار عوندى پوسته باندى دحملى په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

اناالله واناالیه راجعون

شهید سید الرحمن

شهید سیدالرحمن دصالح الدین زوی په ۱۳٤۲هـ ش کال دپکتیا ولایت د خوست دلویی ولسوالۍ دلکنو دخرڅینو په کلي کې زیږیدلي ؤ.

نوموړی په افغانستان کې دثور دکودتادکیدو سره جوخت دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه واړول.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد دخوست دفتحی د عملیاتوپه موده کې په ۱۳۷۰/۱/۸نیټه دخوست دنوی هوایی ډګر دفتحی په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسید

انالله وانا الیه راجعون



شهید محمد حسن

شهید محمد حسن دحکم جان زوی په ۱۳٤۲ هـ ش کال دلوګر ولایت د برکی برك په ولسوالی کې زیږیدلی او په قوم کوچی ؤ.

نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا له کیدو سره جوخت دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پیل کړی اوپه ډیرو عملیاتو کي برخه اخیستي وه اوددین او وطن دښمنانوته دسراومال درانه تلفات وراړولي وو اوهمدارنګه د مینونو په ایستلو او شنډولو کي یې پوره مهارت درلود .

بالاخره دغه زړور مجاهد دخوست دفتحی په عملیاتو کې دفارم باغ په سیمه کې دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله واناالیه راجعون

شهید لعل محمد

شهیدلعل محمد دټیکدار زوی په ۱۳۵۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت مرکز ګردیز ددولت زیو په کلی کې زیږیدلی ؤ.

نوموړی ددینی زده کړو تر څنګ وسله وال جهاد هم کاوه او پدې دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو پرضد په میړانه جهاد کړی دی .

ترڅو چی دغه نومیالی مجاهد دخوست دفتحی د عملیاتو په جریان کي په داسی حالت کي چې دمجاهدینو په لومړنی ټانك کې د متون بابا غونډۍ ته دورختلو په حالت ؤ ددښمن ددهشکی په مرمی ولګیداو دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

فرمان الهي

ای آنهای که ایمان آورده اید اگرفاسقی بشما اطلاع آورد شما بران بیشتر دقت نمائید،که ناآگاه ازاثر ان برقومی وفرقهء ضرر عاید ننمائید تابرکار انجام داده خویش نادم نگردید.

سورة حجرات ایت ٦